# ان شہید سیمینار



، افغانستان، ۱۹-۳۰ مارچ ۱۹۹۰ء

PMAP Hayatabad Peshawar

# مقالې

# خان شهید سیمنار

## افغانستان کابل

۱۹ - ۲۰ مارچ سنه ۱۹۹۰ء

خپرونکی :-

شعبهٔ اطلاعات و نشریات

پښتونخوا ملی عوامی پارټی، مرکزی سیکرټریټ کلب روډ کوټه۔

PMAP Hayatabad Peshawar

# تړون

دجرګو په لرغوني وطن کښې د ډیره وخته

پس د خپلو قامي ستونځو د هواره ولو د پاره د

جنوبي پښتونخوا په مرکزي ښار کوټه کې د پښتونخوا

ملي عوامي پارټۍ په بلنه په ۲۰ - ۲۱ نومبر سنه ۱۹۹۱ء

رابلل سوې د پښتون اولس د اولسي او قامي جرګې

د غونډېدو په مناسبت موږ د لر او بر افغان په

مرکزي ښار کابل کې په خان شهید بین المللی سیمینار

کې وړاندې سوې مقالې د دغې دریې جرګې په نوم

نومه وو۔

PMAP Hayatabad Peshawar

# فهرست


| شمیر | د مقالې عنوان | لیکوونکی | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ = | د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي د دریې اسیایي کلیزې په لړ کې د کابل په بین المللي سیمینار کې مقاله ـ | عبدالرحیم خان | ۱ |
| ۲ = | خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی، ژوند او کار ـ | شیر علی باچا | ۸۲ |
| ۳ = | پښتو ژبه او لیک دود | اصغر لالا | ۱۶۴ |


PMAP Hayatabad Peshawar

# سریزه

د پښتونخوا او برصغیر هند و پاک د آزادۍ قهرمان خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي د مبارزو او مجادلو د ستاینې په لړ کې پر ۱۹ - ۲۰ مارچ سنه ۱۹۹۰ع په کابل افغانستان کښې دوه ورځنۍ انټرنیشنل سیمینار منعقد شو. د دې سیمینار انتظامات د افغانستان د علومو اکاډیمۍ کړي وو.

په دې سیمینار کښې د افغانستان د لرو بر افغان عالمانو نه علاوه د مختلفو ممالکو عالمانو او د جنګ آزادۍ مشرانو ګډون کړی وو. په دې پروقار سیمینار کښې د محکوم پښتونخوا وطن نمائندګي د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ مشرانو محترم عبدالرحیم خان ایډوکیټ، محترم شیر علي باچا، محترم اصغر لالا، او بنا علي رضا محمد رضا وکړه. له دې نه علاوه د کوټې د اووه ورځنۍ ورځ پاڼې "بریښنا" مدیر محترم اکبر خان اڅکزي، له پنجاب څخه د پیپلز پبلشنګ هاؤس مالک محترم اے رحیم، او له سنده څخه د جیئے سنده محاذ چیئرمین عبدالواحد آریسر او محترم نصیر اعجاز هم ګډون کړی وو.

PMAP Hayatabad Peshawar

په دې ویاړلي سیمینار کې او رول شوې د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ د مشرانو

محترم عبدالرحیم خان ایډوکیټ ، محترم شیر علي باچا او محترم اصغر لالا

مقالې وړاندې کوو ۔

---

د دې مقالو ترتیب او تنظیم کوونکی ۔

ملګری عبدالرحیم کلیوال شهید

مرکزي سیکټر اطلاعات و نشریات

پښتونخوا ملي عوامي پارټي ۔

شعبهٔ اطلاعات و نشریات :۔

پښتونخوا ملي عوامي پارټي ۔ مرکزي سیکرټریټ

کلب روډ کوټه جنوبي پښتونخوا ۔

PMAP Hayatabad Peshawar

د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي د دريئ[۸۳] تيايمي کليزي په لړ کې په کابل کې په بین المللی سیمینار کې مقاله = ۱۹۹۰-۳-۲۰

ليکونکی :- عبدالرحيم خان سينئر ډپټي چيرمين پښتونخوا ملي عوامي پارټي

(۱) په شپاړسمه پيړۍ کښې چې يوخوا د ډيلي د مغلو او بل خوا د ايران د صفويانو يرغلونو په نتيجه کې له آموتر اباسين افغان ملت او افغان خاوره له خپل سياسي مرکزيت ، يووالى ، ملي خپلواکى او دولت څخه محروم کړل سوه ـ نو افغان اولس د روښانى تحريک او بيا په دې تسلسل کې د ايمل خان ، دريا خان ، خوشحال خټک او په پائې کې د ميرويس نيکه او احمد شاه بابا د تحريک د مبارزو په وجه په دې کې بريالى سو چې ټول افغان ټولنه يوځل بيا په سياسي توګه يو، خپلواک

PMAP Hayatabad Peshawar

او دَ ملی سیاسی تنظیم یعنی دولت څښتان کړی۔ او دا وُو چې په سنه ۱۷۴۷ء
کی دَ احمدشاه بابا په مشری کې تاریخی افغان خاوره او اولس په سیاسی
توګه متحد او خپل واک سو، او افغان ملی دولت جوړ سو۔ دا امکانات
پیدا سو چې زمونږ ټولنه د خپل قوانینو سره سم په سیاسی، اقتصادی
او ثقافتی توګه مخ په وړاندی روانه سی۔

(۲) خو په دې وخت کې د یورپ د بیل بیل ملتونو ټولنې د سرمایه
دارئ په ودې داسې پړاؤ کې ګډسوې وې، چې اوس دوئ د نړئ
ملکونه نیول، او په خپل میاغ کې ئې ویشل۔ او دا وُو، چې کوم وخت
د هند دَ کورنی کشمکش کې چې د هند، مغل، افغانان او مرهټه د هند
د واک د نیولو دپاره په کورنی جنګ اخته وُو، نو د احمدشاه بابا
په مشری کې افغانانو د هند مرهټه قوت په سنه ۱۷۶۱ء کې دَ پانی پت په
میدان کې مات کړ۔ او واک ئې بېرته فاسد او فرسوده مغل واکدارانو
ته ورکړ۔ او بېرته خپل هیواد ته راستون سو۔ خو دې عمل نه هند
ته او نه افغانستان ته فائده ورکړه۔ په دې چې که یوخوا د هند لوان
لرونکی مرهټه وهل سو۔ نو بل خوا واک د توان لرونکی د هند افغانی لاس
ته نه بلکه فاسد مغل حکمرانانو ته پاته سو۔ چې هغو دَ انګریز خیرېدونکی

PMAP Hayatabad Peshawar

استعماری قوت د مخنیوی صلاحیت نه درلود - چې دا وخت یې جنوبي هند

او بنګال نیولي وو، او پر مخ پراخېدلو ته چمتو ؤو -

(۳) انګریزي استعمارګرانو دَ خپل استعماري پالیسیانو په برکت

ډېر ژر د اتلسمې پېړۍ په پایُ کې پر هند بالادستی لاس ته کړله، او

د اباسین غاړې ته رسېدلو ته نژدې سو - خو انګریز د تاریخ او دَ

خپل تجربې په رڼا کې دې نتیجې ته ورسېده، چې پر هند د انګریز استعمار

واک ته تر ټولو لویه خطره یو توانا افغان دولت یعنې دَ هغه وخت

افغانستان وو - چې دَ دې خطرې مخنیوی د افغانستان باچا شاه زمان د فرانس

نپولین او دَ میسور د سلطان ټیپو له یو بل سره د خط وکتابت لړلو

څه هم ښکاره سوې وه -

(۴) نو انګریز استعمارګرانو دَ نولسمې پېړۍ له لومړي کال څه یو

خوا د پنجاب د رنجیت سنګه او بل خوا د ایران په کومک د افغانستان دَ

نیولو منصوبې پیل کړې - او په دې کې یې دَ افغانستان له مراعات

لرونکي طبقاتو څه پوره پوره کار واخیست - په لومړي قدم کې یې په

۱۸۳۸ع سنه کې پر افغانستان یرغل وکړ - او دَ ۱۸۳۸-۴۲ سنه انګریز افغان

جنګ په نتیجه کې د افغانستان دَ خاورې او واک دفاع کوونکي حکمران

PMAP Hayatabad Peshawar

دوست محمد مات او بندي کړ او د افغانستان د خاورې او واک
ذرځونکی شجاع يې پر افغانستان واکدار کړ ـ چې هغه د افغانستان
د ژمي دارالحکومت پېښاور تر ډېره اسمٰعيل خان پورې ټوله مشرقي
پښتونخوا لومړۍ د رنجيت سنګه پنجاب ته ورکړه، او وروسته فرنګي ونيوله
دوُدم قدم کې يې د پېښاور له محکوم افغان خاورې پر افغانستان يرغل
وکړ ـ او د دوُدم انګريز افغان جنګ ۱۸۷۸-۸۰ ء په لومړي پړاو کې
يې د افغانستان د خاورې او واک دفاع کوونکی حکمران امير شيرعلي مات کړ ـ
او د خاورې او واک پلرونکی يعقوب يې پر افغانستان وتپلۀ ـ چې هغه
د ګنډمک د تپلي استعماري لوظ نامې لاندې د افغانستان د جنوبي پښتونخوا
کوټه، سيوۍ، پښين او د منځنۍ پښتونخوا کرمه، مهمند او خيبر خاوره
فرنګي ته ورکړه. او پر پاتې افغانستان يې د انګريز بالادستي ومنله ـ بيا
چې په ۱۸۷۹ ء کښې افغان اولس ملي پاڅون وکړ او په بالاحصار کابل
کې يې انګريز ريذيډنټ وَوژلۀ ـ نو يې په دريم قدم کې د جنرل رابرټس
د ۱۸۷۹ ء د يرغل په نتيجه کې د ۱۸۷۹ ء د کابل د ملي پاڅون اتلان
او په ۱۸۸۰ ء کې په ميون [illegible] نګي ته تاريخي ماتې ورکوونکي ايوب خان
يې واک لاس ته کولو ته [illegible] پرېښودلی او عبدالرحمٰن يې تر ځېل لاس

PMAP Hayatabad Peshawar

لاندې حکمران کړ چې هغه بیا دَ ۱۸۹۳ ع سنه د ډیورنډ دَ تپلي استعماري لوظ نامې لاندې دَ افغانستان دَ جنوبي پښتونخوا د ژوب او لورې او د مینځنۍ پښتونخوا وزیرستان ، سوات ، چترال او باجوړ دَ فرنګې ته ورکړه او پر پاته افغانستان يې هم دَ انګریز بالادستي ومنله ۔ او په دې ډول له ۱۸۰۱ ع سنه څه تر ۱۸۹۳ ع سنه پورې انګریز له چترال څه تر بولان پورې افغان خاوره مستعمره یا نیم مستعمره وګرزوله ۔ او بیا يې دا ټولې خاوره هم ویشلې ساتلو دپاره او دَ هغې دَ افغاني شناخت د ورکولو دپاره د شمال مغربي سرحدي صوبې ، برټش بلوچستان او قبائلو د ریاستونو لو مو لو لاندې په درې برخو کې وساتله ۔

(۵) دَ خان شهید عبدالصمد اڅکزی پلار نور محمد خان نومېده. چې دَ هغه پلار سلطان محمد خان ، د هغوئ پلار عنایت الله خان ، د هغوئ پلار بوستان او دَ هغوئ پلار نامتو برخودار خان وو ، چا چې داحمد شاه بابا په حکومت کښې اهم حیثیت درلود او د پاني پت او نورو جنګونو کښې برخه آخیستې وه ۔ د برخودار دَ کاله عبدالله خان اڅکزی هغه پیاوړئ افغان وو ، چې د امین الله خان لوګری او نورملي اتلانو سره په ملګرتیا يې د لومړي انګریز ۔ افغان جنګ په دوران کې په ۱۸۴۱ ع سنه کښ

PMAP Hayatabad Peshawar

د فرنګي استعمارګر برېنز په وژلو سره د انګرېز په خلاف د لومړي برياله افغان ملي پاڅون سر کښېښود چې په نتيجه کې يې د فرنګي ټول استعماري لښکر او شجاع ختم سو۔ او د فرنګي د دې تاريخي ماتې او بې عزتي حال رسولو د پاره يوازې يو نيم ځان ډاکټر براﺋډن پاته سو۔ د دې په دوران کې عبدالله خان اڅکزی د ډېرو ورور او دوه زويان شهيدان سول، چې له کابل سره نژدې ښخ دي۔ د پښين د ضلعې قلاعبدالله هم دده په نوم ياديږي۔

(۶) د خان شهيد پلار نور محمد خان او د ډغوئي د کاله اکثريت د دوهم انګرېز افغان جنګ په دوران کې په سنه ۱۸۸۰ع کښې د ميوند په تاريخي ميدان کې د فرنګي ته ماته ورکولو کې د ايوب خان سره ملګري وو، او بيا چې د انګرېز په کومک عبدالرحمن د افغانستان حکمران سو، او ايوب خان فرنګيانو د پنجاب په لاهور کې نظربند کړ نو دوئي لومړي د قندهار ولايت په ريګ علاقه کې له شمشوزي اڅکزيو سره نواتي سو۔ او بيا د ګنډمک تپلې استعماري لوظ نامې لاندې مستعمره سوي پښين کې د خپل ټبکه عنايت الله خان مېنه عنايت الله خان کاريز کې آباد سو۔ چې دا وخت انګرېز د خپل سپېرو مقاصدو سره سم د دې لوظ نامې لاندې

PMAP Hayatabad Peshawar

نیولي چې له پښتون علاقو افغاني شناخت د ختم کولو دپاره دا برټش افغانستان پر ځای د برټش بلوچستان ګمراه کن او غلط نوم ورکړی وو. د خان شهید د مور پلار محمد حسن خان هم لومړی له ایوب خان سره په لاهور کې وو، او بیا عنایت الله کاریز ته راغلی.

(۷) د نړۍ وال امپریالیزم استعماری دولتونو تر میانځ د نړۍ د ملکونو د وېش، په دې لړ کې د نولسمې پېړۍ په آخرکښې د انګریز امپریالیزم استعمارګرانو په لاس د افغان ټولنې او خاورې وېش او د واک د ماتولو، بیا له چترال څخه تر بولان بشپړ افغان خاوره بیا وېشل او ګمراه کن نومونه ورکولو، یا ته افغانستان نیم مستعمره ګرزولو، د فرنګي استعمارګرانو په خلاف د افغان ملي پاڅونو او جنګونو په دې ټولو سلسلو کې د خپل کاله د وطنپالنې او سربښندنې د دې رول په پس منظر کې عبدالصمد خان اڅکزی د جنوبي پښتونخوا د پښین ضلعې د ګلستان تحصیل په عنایت الله کاریز کې د نور محمد خان اڅکزی په کور کې په جولائی سنه ۱۹۰۷ء کې وزیږیده.

(۸) د عبدالصمد خان اڅکزي یو ورور او دوې خوندې وې. ورور ئې عبدالسلام خان نومېده چې تر ټولو مشر وو. د کورنۍ ممکله

PMAP Hayatabad Peshawar

ئې دومره چې تنګه ګزاره ئې کوله ـ دئ د خپل ژوند په باره کې خپل
لیکلی کتاب چې تراوسه لا چهاپ سوئ نه دئ په لومړۍ کاپۍ کې پر مخ
۱۸۳ وائی « مونږ ماړه خلک نه وو ـ ایله ګزاره هومره ټول مو وو او
دئ ـ تل به تنګ او پور وړی وو ـ او تر اوسه هم داشان یو » په
دې لړ کې په جنوبي پښتونخوا کې د ځمکو د ملکیت او بیا د خپل ملکیت په
باره کښې داسې لیکی « زموږ د کورنۍ ځمکه او ټول جائیداد هم ډېر لږ
دئ ـ د لویو ولاتو (صوبجات) یا د بلوچستان د ځینو بلوڅو زمینداری
ته د پښتنو دا هیڅ هم نه ده ـ د لوڼو (لوهانی) سردارخیلو د څلورپنځو
کورو سیوا چې د لورالائی د ضلعې په دکی تحصیل کې پراته دی ، ماته په
ټولو پښتنو کې لس تنه هم داسې زمینداران یا خانان نه ښکاری چې دوه[٢]
سوه ایکړه د اوبو ځمکه یا باغونه لری ـ او چېرته (خشکاوه) ځمکه ډېره
ده ـ خو د ودانۍ لپاره اوبه نسته ـ زمونږ دواړو وروڼو به ایله
سل[١٠٠] ایکړه اوبو سره ځمکه وی ، چې پکې د شلو[٢٠] او دېرشو[٣٠] ایکړو تر
میان کله زیاته کله کمه باغونه وی ـ پوره د میوې به نږدې پنځلس
ایکړه وی ـ شل[٢٠] یا دېرش[٣٠] ایکړه به توره هر کال کرل کېږی »
د خان شهید پلار پر دې ځمکه د کور ګزران کاوه ، او ځکه چې د

PMAP Hayatabad Peshawar

پښتنو د اولسي ژوند وژواک په ارزښتونو سنبال وو، نو ئې د علاقې د خلکو د کښالو په روغولو او ستونځو لیرې کولو کې ښه لاس درلود، ځکه چې خان شهید ډېر ځیرک وو، نو ئې لا په پنځم کال کې لیک لوست پیل کړه - پلار ئې پخپله او تر خپل نظر لاندې په کور او جمات کښې زده کړه ورکوله - په شپږ او وه کاله کې په فارسي او عربي کې د فقهې، حدیث، تفسیر او د امام غزالي مروج کتابونه و لوستل. د پښتو له ارزښتونو سره سم ور وزل سو - او په دې طریق د ټولنې له ناوړه خویونو څخه وساتل سو - د پښتنو له دود سره سم ملي ننګونه ئې ټوله په کورني مجلسونو کې واورېدل

(۹) په کال ۱۹۱۸ء کې چې ئې یو سهار پر څلور بجې پلار مړ سو، نو سهار د پلار له جنازې سره له یو بل یتیم محمد رحیم ساکزي سره روان سو - او په دې ولوېده چې « دیتیم بې یتیمانو غمخور څوک دئ؟»

(۱۰) په پښتو لیک لوست کې ئې زړه نه لګېده - د پلار د مړینې وروسته ئې په یو مجلس کې واورېدل، چې « پښتو ګرانه ده - د هر چا نه وی زده. د چا چا زده وی» نو ئې د خپل طبیعت سره سم چې ګران کار کول ئې خوښ وو، پښتو لیک ولوست پیل کړه - په پښتون کام ولی نه رسېده.

PMAP Hayatabad Peshawar

تو په خوشحال خان خټک نور وکتابونو خوند نه ورکاوه، چې د تصوف
خبرې پکښې وې، چې د حافظ، رومي او غزالي ته نیږدې وې۔ خو
چې د مرزا خان انصاری دیوان ئې ولوست۔ چې د منطق گراني خبرې پکې
راغلې وې، نو ئې داسې خوښ سو، او له پښتو سره ئې داسې مینه پیدا[1]
سوه، چې له دې وروسته به ئې د پښتو هر لیکلی شی په ډېره مینه لوستی
او نوی توری، متل او شعر به ئې نده کاوه۔ تر دې چې خپله وائي ...
« چې اوس نو د ژوند مراد هم پښتو ده.» او باور لرم، چې که پښتانه نور هیڅ
هم ونه کي۔ خالي پښتو خپله کي، او خپل ټول سرکاري او خاني کار ونه
په پښتو کوي۔ پښتو لولي، پښتو لیکي او پښتو وائي، نو به د دوئي په سل[10]
کې که نور نه وي اتیا برخې کار وسي۔ هم به ئې خپله ودوری خوږه
سي۔ او هم به د نورو خلکو د سیلې او جنجاله وخېژي۔ او د هغو سره
به ئې ورورې پخه سي.»

(11) د پلار د مړینې وروسته ئې ماما محمد علیخان سرپرستي پیل
کړه۔ د دیار[13]لس کلونو وو، چې په سنه ۱۹۱۹ع کې د گلستان په مډل سکول
کې په دریم ټولگي کې داخل کړل سو۔ په کامي کال د غوره پوهېده، چې
د خوارو خلکو خدمت به ئې کاوه، نو چې په څلورم ټولگي کې په ټول

PMAP Hayatabad Peshawar

ولایت کې لومړۍ سو، او د میاستنۍ دولس کلداري[١٢] وظیفه ئې وکټله.
نو هغه ئې د خپل لوئ استادته ورکوله چې هغه به پرناچاروزده
کونکو ئکوله. له دې سیوا ئې کاموئی له دین سره تړلې کنهله او یا
د نړئ د مسلمانانو باچهیو او باچهانو سره، لکه د هغه وخت زیاتره
پښتنو او د هند مسلمانانو چې کنهله. خپله لهولکه، شاوخوا خلکوته ئې پام
نه وو. او نه ئې څه په جوړه بلله. د کابل د باچا سلامتی او ترڅان ئې
د اسلام ورانی او د خپل ژوند مراد بلل، خو چې په ١٩١٩ع کی غازی
امان الله خان د افغانستان د آزادی او استقلال اعلان وکړ او فرنګی
دریم ځل پر افغانستان یرغل وکړ، نو د محکومې پښتونخوا اولس هم د انګریز
په خلاف راپاسیده. په دې جنګ ئې د محکومې پښتونخوا ډېره برخه واخیسته
دوئ بریالیتوبونه ترلاس کړه. خو د نیمګړتیا او تنظیم د نشتوالی له لاسه
ئې آخری برئ و نه موند. آزاد او خپلواک نسول. دې جنګ د خان شهید
پر ژوند ډېر نقش پرېښود. په دې لړکی دئ وائی « که څه هم زه
ډېر کم وم. خو د غه جنګ زما پر ژوند ډېر برید وکړ ......کوم
ژوند او شور چې د دې غاړې په ټولو پښتنوکی پیدا نسو. هغه د بیخي
نشئ نه وو. زمونږ د شاوخوا خلکو څه به هره ورځ خلک تله خو یولږ

یالزلزاو څخه هم زیاتره خوار خلک ۔ ماړه خلک پیران او مولایان یو هم ولاړ نه ۔ نه چا په ډاکه سرواخیست ۔ خو د خولې خواخوږي د ټولوله پښتون سرکار سره وه ۔ دَ غزو اڅکزی او کاکړ زیاتره یاغی سول ۔ اڅکزی د جنګ و ډګرته نیژدې وو ۔ زیاتره ولاړ او په اوغانیستان کی د لښکر سره د ایله جاری (رضاکار) په توګه ګډ سول .........

د ژوب او بوری کاکړان د لرې له میدانه لری وو لو په څخوکی ژوندۍ خلکو په څولکه کی لاس وا چاوه ۔ او دَ وزیرو په مټکری ئې دَ انګریزی لښکرو سره ښې ډغرې دَ وهلې او ډېر تاوانونه ئې وور واړول ۔ یو وار خوئې الپوزئ (فورټ سنډیمن ۔ اوسنئ ژوب) چې دَ بلوچستان دوئم لوئ ښار دی ، هم ونیو ۔ سرکاری خلک ئې کلا بند کړل ۔ او وه ورځې پر ښار دَ پښتنو باچهي وه ۔ خو ځکه چې دَ دې جوش او سنبور په شاکی څه کامی تړون (تنظیم) او لمبه (جذبه) نه وه ، ځان ځانی کار وو ۔ نو خبرې څه پوخ رنګ لنو آخیستلائ ۔ جنګ ئې دکړ ۔ په جنګ کې ئې ګټه هم وکړله ۔ خو خپله ګټه ئې ټینګولائ لنوله ۔ په پائ کې به بېرته ډاکه او لوټ ځینې جوړ سو ۔ خو سیاهم زما باور دئ چې که جنګ څه اوږد سوئ وائې نو د دې ځائ کار د انګریز له لاسه وتئ"
(لومړی کاپئ صفحه ۲۰۵) ۔

(۱۲) په اتم ټولګی کښې ئې پر جرګه یو مضمون لیکلو په لړ کښې دَ جرګې
د ښو او ورانیو ښېګړنه کوله ـ دَ خپل کام او خلکو د لوږې، ناجوړي،
بې تعلیمی ـ توهم پرستی، او نورو هغه بد بختیو په پېلامو ورسیده،
کومې چې به ده سهار ماښام په خپل شاوخوا کښې لیدلې ـ دئ وائي
« له هغې ورځې نه مې دَ جرګې لټون پیل کړ ـ ښه مې ځان په پوه کړ
ښېګړې او ورانۍ مې زده کړې ـ د پخوانۍ پښتنی جرګې او انګریزی جرګې
بیلتون را څرګند سو ـ هم په دې ګړ بېژنه کښې دَ انګریز د سرکاری سرلښتې
(نظام حکومت) په ډېرو ورانو پوه شوم ـ او په دې ورسېدم چې
زمونږ د هیواد او پښتون کام د ټولو ورانو او خوارو سرچینه هم دا
انګریزی سرکار دئ ـ او په خوښه او یا ناخوښه د انګریز سرکار لار
چلوی ـ او دا کام به ورځ تر ورځې نور هم خوارېږي او ورانېږي او
په هیڅ توګه سمېدلئ او ودانېدلئ نه سی ـ ترڅو چې دَ انګریز دَ باڅو
ونه وزی ـ ولې دَ ودې او ښېګړې هر کار په سرکار پورې اړه لری
چې سرکار خپل او خواخوږی وی، نو هله کانې کار کېدلئ سی، او چې
سرکار پردی او دَ کام د ودې بې کانه وی، نو کام به ورځ خوږېږي
روز تر دوزې لا لوېږي ـ هم دا لټون دَ نورو شیانو سره زما د کا

ژوند پیلامه سوله " (لومړی کاپي مخ ۱۵۹) ـ

(۱۳) په ۱۹۲۳-۲۵ء کې ئې اتم ټولګی پاس کړ او پرېږ ئې سکول پرېښود ـ او ځکه چې ګزاره ئې تنګه وه، نو ئې د میوې تجارت ته لاس واچاوه ـ او د دې د پاره ئې سنده او پنجاب ته تګ راتګ پیل سو ـ انګریزي ئې مخ کښې لا زده کول پیل کړي وه، اوس ئې ښه ډېره زده کړه ـ نو ئې د وخت د عالمانو کتابونه ولوستل ـ او وائي چې دالته " ایله د لوستو او پوهنې په خوند پوه سوم " نو په نتیجه کښې ئې د ملایانو او نورو خلکو د اعتقاداتو په خلاف د پوهې (عقل) او پوهنې (علم) پر بنیاد باورونه جوړ سول ـ د قرآن شریف ئې هم ډېر ژور مطلعه وکړه ـ او په دې حالاتو کې په پښتنو کښې د پیرانو او پیریانو او د هر ډول توهم پرستۍ او د دې په نتیجه کې شوکی په خلاف پراخو هلوځلو ته لاس واچاوه ـ

(۱۴) غازي امان الله خان په ۱۹۲۸ء کښې د چمن او کوټې پر لار هند او یورپ په دوره ولاړ ـ خان شهید او په زرګونه پښتانه چمن ته د هغه هرکلي ته ورغلي وو ـ نورهم پر قلعه عبدالله خان، ګلستان بوستان او کوټه پښتانه وورته ولاړ وو ـ دې ورځې او په دې ورځ

له پښتنو سره د غازي امان الله خان ښې وصفې ډېر زيات نقش جوړکړه خان شهيد وائي « دغازي امان الله مينې او سرېتوب پرپښتنو ډېر برید کړې وو - په میاشتو خو به دغه خبرې کيدې - تردې چې لاتر اوسه لاهم خلک ددغې ورځې خبرې ډېرې په خوند او مينه کوي.» خو په دې ورځ يو دوؤ پېښو پرخان شهيد داسې نقش جوړکړ چې د ده زړوند دلارې په ټاکلو او دغولو کښې ئې ډېر لاس دئ -

یوه په ظاهر د معمول پېښه وسوه - چې د هيڅ چا نظرئې نه واخيست - خو پر خان شهيد ئې داسې بريد وکړ، چې د ده ژوند دلارې په ټاکلو کښې ئې ډېر لاس دئ - پېښه دا وه ، چې په هغه ورځ په چمن کښې باران وو او خټې وې - نوکوم ګورا (انګريز فوج) چې غازي امان الله خان ته سلامي ورکوله د هغو ګوټونه په خټو وو - نو چې باچا راورسېده، نو هيندکيانو په تهوالونو (توليه) د هغوئ ګوټونه صفاکړه - دې په ظاهر د معمول پېښې دئ ولړزاوه - دئ وائي « ما چې دا وليدل ډېره مې خواشنه سوله - او دالته ناست ناست دې جوړت واخيستم چې دا ولې مونږ پښتانه او هيندکيان دومره سپک يو - بکار خو دا وو ، چې نن د پښتنو دې پښتون باچا ته د پښتنو خپل فوجي کنډک

سلاي وورکولائ - که نه وائ نو هېندکي خو وائ - داځکه دي چې سلاي انګرېزان وورکوي - او هېندکيان ولاړ دي، د هغوئ بوټان پاکوي - داټول زمونږ او د هېند د مرېتوب پائ دئ - په دې چورت کې دومره ورک وم چې نه مې د توپو ډزو ته پام وو، او نه هغه زرګو نو خلکو ته - چې په دې کې ټول خلک ولاړ سو - نو هله زه په دې پوئ سوم چې باچا راورسېده" (لومړۍ کاپي صفحه ۵۲)

دا بله هم دغسې د معمول پېښه وه - وسو دا چې کوم وخت چې باچا د سلاي وروسته د خلکو لور ته راغلئ ودرېده - نو ئې تپوس وکړ چې "تاسې پښتانه یاست - په پښتو پوهېږئ"؟ ځکه ئې ویل غوښت - خو خلکو ځان له نارې جورې کړې نو هغه ټېسن ته روان سو - خان شهید وائي " د خلکو دې په بې سرښتې کار او خواله وو مې ډېره خوابده سوله - زړه مې غوښت چې پکار خو دا وو چې زمونږ ټولو له خوا یوه سړي هر کله وور ته ویلې وائ - او د هغوئ جواب مو اورېدلی وائ - او په یوه آوازمو ځو نارې کړې وائ - که څه هم تردغه وخته مانه په څه ډله یاګوند کې کار کړی وو، نه مې د بل چا کامي ډله یاګوند (تنظیم) لیدلی وو - خو یاد مې دي، چې

هغه درسته ورځ او څو ورځې لوري مې زړه ډېر بد وو ۔ او دغه چورت
راسره وو، چې زمونږ دا بده ورځ به څنګه او کله بدلېږي؟ کوندې
ښاغلی مولانا محمد اکبر خان مخفي به هم خپله او څاره سندره،

خودایه هغه ورځ به هم وی —— چې زمونږ به جهاز خپل وی

په څه راسې غم او اندېښنه کې ویلي وی"

(۱۵) هلته افغانستان چې د غازی امان الله خان او د هغوئ د ملګرو
په مشرۍ کې د وخت سره سم د خپلې ټولنې د مخ په وړاندې تګ پیل کړ۔
نو فرنګیانو ته په ټوله سیمه کښې له دې څه بیا په تېره له چترال
څه تر بولان د محکوم افغان پر ژوند هراړخیز اثر لوېدلو وېره وسوه
او د مخوا په شان ئې یوځل بیا د محکومې پښتونخوا له پېښاور، بنون،
کوهاټ، ډېره اسمٰعیل خان او کوېټې له استعماری مرکزونو او لښکرکوټونو
څه د دې حکومت په خلاف ساز باز او معاملې پیل کړې ۔ او په پائی کې
ئې د غازی امان الله خان حکومت ختم کړ او هغه په سنه ۱۹۲۹ء کې کابل
پرېښودلو او قندهار ته ولاړ ۔ په دې حالاتو کې محکوم پښتون د غازی
امان الله خان پر لور وو ۔ او د ده په لښکر کې د ګډون په حق کې وو
د پیرانو، ملایانو د دې مخنیوی کاوه ۔ ماړه خنک له فرنګی سره تړل

سوی وو ـ خان شهید وائی " دَ خلکو په زیاته د پوهو ځوانانو زړه دَ
غازی امان الله خان سره وو، خو زیاته خلک په زیاته تخور او ماړه خلک
انګریز دَ بنوره او ژوند اچولی وو ـ د هغوئی دَ ژوند مراد خو د ای ـ
اے ـ سی او پولیټیکل خوشامندی یا ته وه او بس ـ باور ئې دی که څوک
مشر سړی ولاړ سوی وائی نو ډېر خلک وه هر ډول کومک ته تیار ووځ
نو له کوټې او پښین یو څو تنه دَ غازی امان الله خان کومک
ته ولاړ ـ او په دې کښی خان شهید له هر چا په پټه یو ځای تیاری
وکړه ، توپک ، کارتوس او پیسې ئې تیاری کړې ـ آس ئې را ووست
زین کاوه ئې ، چی یو بل تر بوره وَ لیږد او پوښتنه ئې څنې وکړه ـ دَه
حال ورکړ ، هغه هم تیاری پیل کړه ـ له دې ټول کلی خبر سو ـ یو
خوا ډېرو خلکو ملګرتیا وکړه بل خوا څنه پیدا سو ـ او تر سرکار پورې
خبره ورسېده ـ او دوئی ئې کوټې پولیټیکل ایجنټ ته بوتله ـ په
هم دغه ورځ باچا خان د سیوک ـ کوټې پر لار چمن ته روان وو په
سیوک نیول سوی وو ـ په کوټه کې پولیټیکل ایجنټ دوی ټول
شپاړس [۱۶] ملګری په پولیس لائن کی نظربند کړه ـ او څو ورځې پس چی
دَ غازی امان الله خان لښکر له قندهار څخه دَ کابل پر لور وَ ووت ـ

او د ناکامی وروسته امان الله خان له وطنه روان سو۔ نو فرنګیانو او خان شهید او د ده ملګری ایله کړل سو۔ دا د ده لومړیه بندوو او اته [۲۸] ولیست ورځې وو۔

(۱۶) امان الله خان چې له خپل هیواد څه د همیشه دپاره تله نو د هغوئ کاډیه د ګلستان پر سټیشن ودرېدهٔ - ډېر خلک سټیشن ته ورغلی وو۔ که څه هم هغه ټول خلک پر هغوئ راټول سول۔ ناری ئې وهلې - خو هغه نه هیڅ زغ ورته وکړ او نه ورته ولاړ سو۔ خان شهید وائی « غازی امان الله خان دا جوش او بې وسی تر پایه کسله - خو په خوله ئې هیڅ نه دی ویلی - په زړه کی ګوره چې ئې ارمان کاوه، او که به ئې ویل چې د نامرده کام سره هم دغه ورېدی، چې پروخت ځان نه خبروی او پوهوی او بیا لکه نښځی ژاړی »

(۱۷) خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی، د هغوئ مشر ورور عبدالسلام خان اڅکزی، ایوب خان اڅکزی او یو څو نورو ملګرو د آزاد افغانستان په دې بحران، د محکوم افغان ټولنې د فرنګی استعمار غلامی دلته د سیاسی تنظیم د تحریک لستوالی، او د ځانې پوهنې وخوئ او د سیاسی نظرې او سیاسی او تنظیمی تجربې له دې سوې سره په کال

سنه ۱۹۲۹ع کښې د محکوم پښتون د یو والی هلی خپلواکی، د اولس واک (جمهوریت) او د دې د پاره لارې سنجول او عملی کول پیل کړه - او په دغه حال کښې په دسمبر سنه ۱۹۲۹ع کښې لاهور ته ولاړ - چېرې چې د هند کانګریس، بهارت مهاسبها او نورو ډېرو ګوندو نو کالنی غونډې کېدې - په دې کې ئې د ځان او هیواد د پاره ډېره رڼا وموندله - په تېره ئې د ډاکټر سیف الدین کچلو او کاکا صنوبر حسین مهمند وینا وی خوښې سوې - د کال سنه ۱۹۳۰ع په سر کښې ئې د ملګرو په خوښه او کومک په کلو سیاسی کار په جماعتو لو کښې له وینا وو پیل کړ - لومړۍ وینا ئې د خپل کلی په جماعت کښې وکړه - خو ډېر ژر دئ، عبدالسلام، او ایوب خان فرنګی بندیان کړل - او په جولائی سنه ۱۹۳۰ع کښې د فرنګیانو تابع فرمان جرګې دوه کاله سزا کړل - او مچه کښې ئې بندیان کړل - د "یو اُولس" میاستو بند تېرولو پس په سنه ۱۹۳۱ع کښې هغه وخت را ایله کړل سو، چې د هند سیاسی مشران لندن ته ګول میز کانفرنس ته تله - د ګاندهی جی او د هند وائسرائی لارډ اروِن د لوظ نامې لاندې د ټول سیاسی بندیانو ایله کول ضروری سو - یوه د ذکر وړ خبره دا ده، چې د سنه ۱۹۲۹ع په پائی کښې لاهور کښې د هند د ګوندونو غونډو ته

یوسف علیخان مګسی بلوڅ هم تللے وو، او بیا چې بېرته راوګرزېده، نو هغه هم د دوئ ډول بندی او سزا کړل سو۔ دوئ ترد ېوخته نه ځله پېژندل۔ خو د جیل څه را ایله کېدلو وروسته بنه ملګری او دوستان سو۔ له جیل څه خوشې کېدلو سمدستې هند ته ولاړ۔ چې ګول میز کانفرنس ته تلونکی مشران د جنوبی پښتونخوا (برټش بلوچستان) حالات ورڅرګند ېکړی۔ او دوئ و دې ته تیار کړی، چې په ګول میز کانفرنس کښې د دې ولایت دپاره د صوبائی خود مختاری مطالبه وکړی۔ او دلته سیاسی او نور اصلاحات راولی۔ په دې لړکښې تر ټولو د مخه ګاندهی جی سره ولیدل۔ په بمبئ کښې پنځلس ورځې له هغوئ سره میلمه سو۔ د ګاندهی جی په مشوره ئې د صوبې د مسائلو او د دې د حل په باره کښې یو لیک وکړ۔ چې د هغوئ په هدایت د هغوئ سیکرټری پیارې لال په انګریزی کښې ترجمه کړ او د نه یا نو د یو پمفلټ په شکل کښې ئې پنځه سوه کاپۍ چهاپ کړې۔ خان شهید یو څو کاپیه واخستلې او چې هر مشر لېدلے د دینا، وروسته به ئې دا پمفلټ ور کاوه۔

خان شهید دالته وو، چې باچاخان راغلے او دوئ دالته

په لومړي ځل ځله وليدل - بيائې يو ځائې ډيرې شپې وکړې - او له دې سره دَ دوئ دواړو په مشرئ کښې دَ مشرقي او جنوبي پښتونخوا کامي تحريک لاس و له وړکړ -

(۱۸) له هند څخه چې بېرته راغلی - نو په کوټه کې دَ بلوڅ کامي تحريک يو مشر مير عبدالعزيز کُرد سره پيژندګلوي وسوه - او دَ قلات (بلوچستان) دَ وزير شمس شاه دَ ظلم په خلاف دَ انجمن اتحاد بلوچان پټ خپور سوی پمفلټ ئې تر نظر سو -

(۱۹) خان شهيد او ملګري د يو کامي ګوند دَ جوړولو په هڅه کښې وو - چې يوسف عليخان مګسي په سنه ۱۹۳۲ء کښې په ملتان کښې دَ بلوڅانو يوه غونډه را وَبلله - او په دې لړ کښې ئې خان شهيد ته هم خپل لومړي ليک وليږلی - خان شهيد وائي " دَ ملتان غونډه يو خو دَ بلوڅو په نامه غوښتې سوې وه ، او بل هغه وخت ماته څه کار را پېښ سو - ځکه ولاړم نه خو ليو خط مې ور و ليږه - او په هغه کښې مې وليکل ، د بلوچستان لپاره دَ بلوڅو او د پښتنو يوه شريکه ډله (جماعت) پکار دي چې هغه دننه په بلوچستان کښې هم کار وکي - او د باندې په هند کښې هم خوروني اوبرې پيژندنه (پروپېګنډه) کوي - چې دَ بلوچستان سرکار پر دننه ډله زور

PMAP Hayatabad Peshawar

لنی کولائی " دئ پرځ وائي " په ملتان کښې دوئ دا جوړه کړې وه چې د دسمبر سنه ۱۹۳۲ء په اوسترۍ هفته کې به په جیکب آباد کې د ټول هند بلوڅانو غونډه (کانفرنس) کوي - ځکه چې دا غونډه د بلوڅانو په نامه وه، نو ماکار نه په درلود - په ۱ کتوبر یا نومبر کښې د یوسف علیخان خط راغی چې جیکب آباد له راسه، چې د غونډې د هرکلي جرګه (استقبالیه کمېټۍ) جوړه کو - ما وورته ولیکل چې ځکه چې غونډه د بلوڅو په نامه ده، او زه پښتون یم نو زه نشم در تلائ - تاسي ته دې خدائ کومک او وس درکي - دهغوئ تار راغۍ چې غونډه به د بلوڅو نه وی ........ نو زه ورغلم او په جیکب آباد کښې مې په لومړي ځل دده سره ولیدل ........ د غونډې په هکله مو دا جوړه کړله چې ځکه چې کار پر بلوڅي نامه روان سوی دی، اوس ئې نوم نه دی بدلول پکار - چې ټول خلک راغونډ سی نو به څه داسې نوم ور له جوړ کړو، چې د بلوچستان د پښتنو هم خوښ وی ..... د بلوچستان په پښتنو کښې که څه هم د بلوڅي غونډې لپاره کارګران وو ....... خو د ګوتې په پلو به زیاته به ګلستان شاوخوا ډېر خلک تیار سو " (زما ژوند دوځمه کاپۍ مخ ۸۹)

(۲۰) په دسمبر سنه ۱۹۳۲ع کښې په جیکب آباد کښې د پښتون او بلوڅ ګډه جرګه د خان شهید په صدارت کښې د بلوچستان کانفرنس په نوم وسوه - دئ وائ " داشان د بلوچستان د خلکو پښتنو او بلوڅانو دا لومړۍ کامی غونډه د بلوچستان د سرکاری پولې (حدود) نه باهر او د سیند او پنجاب د بلوڅانو په شراکت ........ زما په مشرې کې پېل سوه " (زما ژوند - مخ ۸۳)

په کانفرنس کی د ډېرې خیړنې پس د ډلې نوم " بلوچستان اینډ آل انډیا بلوڅ کانفرنس" خوښ کړل سو او دستور ئې وورله جوړ کړ -

کانفرنس ډېرې پرېکړې وکړې، چې په هغو کښې د" صوبې د نظام حکومت بدلولو او پر ځائ ئې نوی نظام راوستلو " او د ښاغلی عبدالرحیم حساس اڅکزی پر وړاندیځ " په بلوچستان کښې ښوونه په پښتوکولو " پرېکړې وې -

(۲۱) د دې کانفرنس صدارتی وینا خان شهید وکړه - دئ وائ " او مابې تیاری خپله لومړۍ وینا د ګډو خلکو په وړاندې وکړه - روښتیا داده، چې ډېرزیات سام رابانډې پروت وو - او څه چې مې ویل

خو بیا هم مې ملګرو وینا خوښه کړله
پوره په خپل واک مې نه دې ویلي ـ خو بیا هم مې ملګرو وینا خوښه کړله
او ځینو مسلمانو ئې داستاینه وکړه چې د ځوانې په دې وخت زمونږ
ګومان وو، چې خودائې خبر ته به څومره د جوش وینا کوي ـ پوره یاری
شاباش وی چې دومره په سد کې او سرهه وینا دې وکړه.
(۲۲) په دې طریق د کامې خپلواکي او اولس واکي د پښتون او بلوچ
کامې تحریکونه یوله بل سره ملګري سو ـ او په دې کښې خان شهید د
پښتنو له خوا، میر یوسف علیخان مګسی د بلوڅو له خوا څخه برخه واخسته
د سنه ۱۹۳۳ع میلادي کال ئې په سیاسي او تنظیمي کار کښې تېر کړه ـ له نورو
کارونو علاوه هند ته ولاړ هلته ئې ډاکټر اقبال او نور خلک هم
ولیدل ـ د مسلم کانفرنس غړی سو ـ او په صوبه کښې د اخبارونو
او نشرواشاعت څه د بندیځ لیرې کولو دپاره ئې هلې ځلې وکړې ـ په
دسمبر سنه ۱۹۳۳ع کښې ئې په حیدرآباد سنده کښې د بلوچستان کانفرنس
کالنۍ غونډه وکړه ـ له دې وروسته ئې په کراچۍ کښې په خالقدینا هال
کښې وینا وکړه ـ او په جنوري سنه ۱۹۳۴ع کښې چې کوټې ته راستون سو،
نو ونیول سو ـ او بیا د دري کاله سزا سو ـ او له بند پوره کولو وروسته
په پنځه زره کلداري زر ضمانت غوښتل کېده ـ مګر جیل کې ئې بندي کړه
۵۰۰۰

هلته له ډول ډول کړاوونو سره مخامخ سو. شومتیا ئې وینوله. دالته د بلوڅ کامی تحریک میر عبدالعزیز کرد هم بندی وو، سره ملګری سو. مطالعه ئې پراخه او ژوره کړله. انګریزی ژبه ئې نوره زده کړه. دوی لا په بند کښې وو، چې پر ۳۱رم مئی سنه ۱۹۳۵ء د کوټې تاریخی زلزله وسوه. په زرګونو خلک مړه سو. د مالونو تاوانونه ورسېدل. او په دې کښې دَ خان شهید ملګری او دوست د بلوڅ کامی تحریک مشر میر یوسف علیخان هم مړ سو. چې پښتون او بلوڅ کامي تحریکونو ته ئې ډېر تاوان ورساوه. ځکه چې دَ هند په اخبارونو کښې دَ هغوئ د بند او کړاوونو خبرې په تفصیل راتلې. نو انګریزی سرکار پر ۷، جون سنه ۱۹۳۶ء د هغوئ ایله کولو ته اړ سو.

(۲۳) په کال سنه ۱۹۳۵ء کښې په هند کښې د ولایتونو (صوبو) دَ محدود خودمختاری قانون جوړ سوی وو. که څه هم دا قانون په جنوبی پښتونخوا (برټش بلوچستان) کښې نه وو لګېدلی.

په سنه ۱۹۳۶ء کښې په جنوبی پښتونخوا (برټش بلوچستان) کښې د اخبارونو او مطبوعاتو قانون دَ هلو ځلو په نتیجه کښې جوړ سو، کوم چې خان شهید او ملګرو دَ دې دپاره کړې وې. خان شهید چې

له بنده خه را ایله سو، نوئي ملګري را غونډه کړل - چنده ئي وکړله او د استقلال په نوم ئي د اخبار د راایستلو کوشش پيل کړ - د یوسف علیخان ملي د قلمي نوم (عزیز) په مناسبت سره ئي (عزیز الیکټرک پریس) په پرلس روډ کوټه کښې ونګاوه - او بیا ئي د کال ۱۹۳۸ء شته په لومړیو شپو کښې د اردو او پښتو استقلال، اخبار په لومړي ځل له کوټې په خپل ادارت کې پيل کړ - په اداراتي جرګه کښې محمد ایوب خان اڅکزی، میر عبدالعزیز کرد، میر عطا محمد مرغزاني میرشهباز خان شیرواني، محمد حسین عنقا، محمد حسین نظامي، او محمد نسیم تلوي وورسره وو - لومړي استهنتې ایلې یتر قدوس بهتائي چې د خوورځو د پاره ولاړ نو میر الله بخش سلیم د هغه پر ځائ کار کاوه -

(۲۴) په هم دې کال ۱۹۳۸ء شته پر ۲۱ رمئ خان شهید او ملګرو د ډېرو هلو ځلو وروسته د لومړي ځل د پاره د پښتنو او بلوڅو د کامې خپلواکئ، اولسي واک او ترقي او ودې د پاره انجمن وطن په نوم سیاسي ګوند جوړ کړ - چې خان شهید ئي صدر وټاکل سو - خان شهید او ملګرو یو خوا دورې، ویناوې او لیکونه کول او د پارټۍ

پروګرام ئې خپراوه، او بل خوا ځکه چې دګوند پروګرام او پالیسی کښې د وطن او دَ خلګو دَ مسائلو او دَ هغوئ صحیح حل وړاندې سوی وو، نو ډېر ژر خلګو دا ګوند خپل کړ ـ دا انجمن وطن لومړۍ کالنۍ غونډه (۱۶، ۱۷ ام جون سنه ۱۹۳۹ع) په صدارتی وینا کی خان شهید دَ ګوند مرادونه سیاست او تنظیم پر ډېرو اړخونو رڼا واچوله ـ چې په هغو کښې ځینې دادی؛

" د بلوچستان اوسنی لیستی او مظلومیت دومره روښ اوښکاره حقیقت دئ، چې ممکن دَ ده، چې پر دې څه ویل، دا لوره ښکاره اوڅرګندنه کړی ـ زما په خیال دَ ماضی او حال دَ درد ناکو افسانو دَ بیانولو، او ژړلو او ژړولو کښې د وخت ضائع کولو زمانه ډېر وخت سوی دی چې تېره سوې ده ـ اوس خو زموږ هره ګړۍ او ساعت پر دې پکار دی چې وګکېږی، چې دا همه ګیر افلاس، جهالت او بېکسی چې یوا ځې زموږ دَ ذلت څه ډکې غلامی نتیجې دی په څه ډول په عزت، خوشحالی او آزادی کښې بدل کړلائ سی ـ که زما دا خیال صحیح دئ، چې زموږ دَ مصیبتونو سرچینه هغه غیر ملکی غلامی ده، په کومه کښې چې زموږ صوبه بلوچستان، زموږ ملک هندوستان او د دنیا نور ډېر

ملکونه تشکیل دی ، نو مونږ ته ډېر سوچ پر ځائې ددې غلامی د ختم کولو دپاره د کار او عملی ضرورت دی - دا انجمن پکار دی چې ددې عمل ذریعه بلکه همه عمل وی - دا انجمن لکه چې تاسو خبر یاست د مادرِ وطن بهترین بچي مرحوم نواب یوسف علیخان او د هغه د یو څو مخلص ملګرو د اتٔه کاله سرفروش جدوجهد منظم نتیجه ده - د تېر کال په دوران کې عملی تجربې مونږ ته ثابته کړې ده ، چې د ولایت اولس د انجمن له سیاسی او اقتصادی پروګرام سره زمونږ تر هیلو زیاته دلچسپی ده ........ زه په دې رسمی ویناکښې د ملک د بېشمېره ضرورتونو څه دوه ۲ څیزونه په خصوصیت سره په ګوته کول غواړم - او د نورو په باره کښې شاوخوا څه راغلی استاځیو ته خبرتیا باورکوم - هغه دا دي :-

أ) د ولایت پرائمری ، ثانوی ، صنعتی او عام تعلیم ضرورت او په دې لار کې تازه خنډ سوې ستونځې -

ii) د ملک د تباه حال کسانانو او مزدورانو بشپګړه چې پر دې انجمن وطن ته خاص توجه کول پکار دی -

ترختمولو د مخه یو ځل بیا زه ستاسو د ټولو مننه کوم - او هیله کوم چې تاسو به انجمن له نسلی او جغرافیائی تعصب صفا ساتئ او

په ځان کښې به د وطنی او غیر وطنی مخالفینو له پاره رواداری، مروت او انسانی همدردی پیدا کړی. د ملک د سیاسی، اقتصادی او ټولنیز انقلاب د پاره تر ټولو هوسا بلکه یواځنې لار دغه ده. انقلاب زنده باد"

( د انجمن وطن د کالنی کانفرنس ۱۶، ۱۷، جون سنه ۱۹۳۹ء رپورټ چاپ )

دلته پکار دئ چې دا حقیقت په ګوته کړو. چې خان شهید او ملګرو خپل نصب العین ته رسیدلو د پاره زغم (صبر) رواداری، مروت او انسانی همدردی باندې ډیر زور اچولے دئ. روښتیا خو دا دی، چې خان شهید او ملګری د بې ساری زغم او ښه انسانی خویونو څښتنان وو. او هر ډول ستونځې ئې ډیر په خندا تیروليې.

خو کوم وخت چې د زغم اصول د ګاندهي جی د عدم تشدد له اصول سره ګډ وډ کړل شو، د کوم په مطابق چې د سیاسی جد وجهد یواځې پارلیمانی، آئینی او قانونی شکلونه پکار راوستل کیږی. او د تحریک د زور او کمزوری د حالاتو په مطابق د جدوجهد د تدبیرونو اختیارولو پارلیمانی، آئینی، قانونی سولیئز بنکاره، غیر آئینی، غیر قانونی، پټ او وسلیز شکلونو پکار راوستلو د اصول رد کوی، نو دا د پښتون تحریک همغه نیمګړتیا وه چې د هغې په وجه تحریک د وخت او شرائطو سره سم

PMAP Hayatabad Peshawar

دَ مبارزې دَ شکلونو پکارولو او تدبیرونو اختیارولو څه ړه وکړه، او ګوند او تحریک هغه قوت جوړ نکړ، چې که حالات پیدا هم سی، نو دَ انګریزی او پنجابی استعمارګرانو قوت په قوت مات کړی۔ که څه هم داسې حالات د تقسیم هند په سنه ۱۹۴۷ع کښې او بیا د بنګله دیش د جوړیدلو پر وخت په سنه ۱۹۷۱ع کښې پیدا سو۔

(۲۵) د انجمن وطن دَ سنه ۱۹۳۹ع په کالنۍ غونډه کښې د صوبې دپاره دَ پوره صوبائي خود مختاری، په صوبه کی د مطلق العنانیت خاتمه، د خلکو دَ منتخب حکومت ته اختیار ورکولو، د سرداری نظام او دَ موروثی او غیر ذمه دار قبائلی معتبرینو دَ جرګې دَ نظام فوری خاتمه، د فرنټیر کرائمز ریګولیشن فوری خاتمه، په صوبه کې په ټولو ښارونو کې د پوره منتخب میونسپلټی، په هر تحصیل کې پوره منتخب نوټیفائډ کمیټۍ او په ټولو ضلعو کې پوره منتخب لوکل بورډ جوړولو، په هنه، زړخو، مچه خوست، شاړک، برنائ او هندوباغ د سرمایه دار مالکانو په لاس دَ مزدورانو د شوکې ختم کولو او د دوئ د تعلیمي او صحت ضرورت پوره کولو او مطالبات منلو دَ بیګار دَ ختم کولو د کسانانو دَ مالیې معاف کولو، له خلکو د ډول ډول وصولۍ بندولو، او دَ قامی آزادۍ، اولس واک او خلاصون لوړې دا ډول ډیرې مطالبې وسوې۔

(۲۶) دانجمن وطن پر بلنه باچا خان صوبې ته په دوره راغلی۔ او په ټوله صوبه کښې د خان شهید په ملګرتیا دوره وکړه - ډېرې اولسی غونډې ئې وکړې۔ د دورې په آخری ورځ په نصیرآباد کښې د جمالی خاندان په لمسونه پر جلسه حمله وشوه - چې محمّد امین کهوسه ئې په تبرزین ټپی کړ ۔

(۲۷) چې په سنه ۱۹۳۹ع کښې نړیوال جګړه ونښلیده ۔ نو انجمن وطن پر خپل بنیاد د انګریز سره د عدم تعاون پالیسی جوړه کړه ۔ او بیا چې په سنه ۱۹۴۲ع کښې کانګریس د انګریز د پیښتلو د پاره له هندوستان ځه ووزئ، چغه ورکړه، نو انجمن وطن بیا پر خپل بنیاد په دې تحریک کې ډېرې هلې ځلې او ستړې وکړې ۔ نو فرنګیانو خان شهید او ملګری په کال سنه ۱۹۴۲ع کښې بندی کړه ۔ چې

(۲۸) په سنه ۱۹۴۶ع کښې انجمن وطن له کانګریس سره په دې الحاق وکړ، چې هغه ګوند د کراچې په غونډه کښې د ژبې پر بنیاد خودمختار صوبو جوړولو لوظ کړی وو ۔ خو وخت په ثبوت ورسوله چې د انجمن وطن او دا ډول خدائی خدمتګار، لیعنی د پښتون د آزادئ تحریک او ګوندونه، چې په کانګریس کښې ګډ سو، یائې الحاق ورسره وکړ،

دې قومي تحریک د محکوم افغان دَ یو والی او له انګریز څه له هند څه جلا ځان ته دَ خپلې خپلواکۍ واضح نصب العین ټاکلو ، دې منزل ته رسېدلو دپاره د پښتون خپل آزادګوند ساتلو ، ددې دپاره دَ نورو قومونو سره دَ شرائطو سره سم د محاذ جوړولو او بیا دَ خپل عملي آزادی ساتلو څه محروم کړې - او دَ انګریز دَ تلو پر وخت د محکوم پښتون مسئله د افغانستان له MAINLAND څه په جبر رانیول سوې او له هند څه بالکل دیو جلا کام په توګه تر بحث لاندې رانغله دالله پکار داوُو چې انجمن وطن او خدائی خدمتګار په خپل میانځ کښې انضمام یا الحاق کړې وائی او دَ انګریزانو له خوا دَ واک دَ منتقلی پر وخت ئې له چترال څه تر بولان پورې افغان خاورې په باره کښې پر وخت دا دریځ نیولۍ وائی ، چې ځکه چې له چترال څه تر بولان پورې پښتون خاوره دَ هند برخه نه وه او نه ده - دَ پښتونخوا او هند یوائځنی ګډه خصلت دادی چې دوئ دواړه دَ یوه بادار انګریز غلامان دی - لو چې انګریز ځی نو پکار دی چې د افغان خپله آزادی بحال کړل سی - او دواک واکې دوئ ته ورکړل سي . خو دوئ دَ کر پس مشن کیبنټ مشن او بیا دَ ماونټ بیټن پر وخت خپل آزاد دریځ وړاندې

نه کړ - نو چې انګریز واک منتقل کاوه ، نو هڅوئ پرځای ددې چې له
چترال څه تر بولان پورې افغان خاوره ، لکه څنګه چې ئې افغانستان څه په
جبر جلا کړې او محکوم کړې وه ، نوئ اوس بېرته خپل اصل خاورې
(MAINLAND) سره یو ځائ کېدلو او خپلواک کېدلو ته پرېښوولی وای۔
یا دا چې ځان ته ئې آزادی او خپلواکی وورکړې وائ ۔ خو دخپل سپېرو
مقاصدو د پاره دا وکړه چې پښتون خاوره ئې د ویشلی هند دوؤ ملکونو
بهارت او پاکستان کښې یوکښې د ګډېدلو ته مجبور کړه ۔ او د محکوم افغان
د یونیم سل کاله سترې ئې له خاورو سره یو کړې ، او یو ځل بیا ئې دنورو
استعمارګرانو یعنی د پنجابی او هندې مهاجرو د استعماری دولت پاکستان
محکوم کړ ۔ او کانګریس پښتانه پرمیدان پرېښودل ۔ د پښتون ګوندونو
په کانګریس کې ګډېدلو پائې داسو ، چې مونږ له یو استعماری غلامی
څه په ډېرسترو ځان خلاص کړ ، نو د یو بلې استعماری غلامۍ په لومه
کښېوتلو ۔ ددې غلطی او د کانګریس د بې وفائ احساس خان شهید
کړی وو ، او دائې مونږ ملګرو ته څوځله په ګوته کړه ۔ او باچاخان
خو چې د لارډ مونټ بیټن د دریم جون سنه ۱۹۴۷ع پلان د کانګریس په
کمیټی کښې واورید ، نوئې وویل « ګاندهی جی تا مونږ و لیوانو ته

دَ غورزولو"! او بیا باچا خان دَ خپل ژوند په حالاتو د زماژوند

او جدوجهد" کښې زمونږ دَ ټول جدوجهد پر ثمر ددې زلې په باره

کښې دا ټپه ویلې ده :-

د زړه پر باغ مې ګلی وشوه

بو یا بیا سپرلې راځي سپږي ګلونه!

(۲۹) پر ۳ ر جون سنه ۱۹۴۷ء د لارډ مونټ بیټن د انتقال اقتدار

پلان اعلان سو۔ هند وَویشل سو۔ په دې کښې پریکړه وسوه، چې

مشرقي پښتونخوا (شمال مغربي سرحدي صوبه) به په ریفرنډم، او

جنوبي پښتونخوا (برټش بلوچستان) به د شاهي جرګې او دَ کوټه د نامزد

میونسپل کمېټي په ذریعه دا فیصله کوي، چې له بهارت سره کېږي

او که له پاکستان سره۔ دا ښکاره وه چې پښتون خاوره به پنجابي

استعماري دولت پاکستان ته په لاس ورکول کېږي۔ په دې کښې

دَ پښتنو دپاره دَ خپلې آزادۍ لعني دریم متبادل نه وو اېښوول

سوی۔ دالله پښتون قومي تحریک او ګوندولو ته دَ خپلې غلطۍ درک

ونکړېده۔ او سمدستي ئې په بنوں کښې په سنه ۱۹۴۷ء کښې یوه ډېره

لویه قامي جرګه وکړه، او دَ پښتون دیوکول او خپلواک پښتونستان

جوړولو دپاره ئې پرېکړه وکړه، چې تاريخي بنوں قرار داد بلل کېږي، د فرنګيانو د اقتدار د منتقل کولو دپاره د ډول ډول مزاکراتو پر دې وخت لا خان شهيد له هند او پاکستان څه جلا د پښتون د يو خپلواک مستقبل ته د پښتون پارټيانو د قوتونو توجه واړوله. او په دې باره کښې ئې د باچاخان په اخبار پښتون کښې يو خط هم خپور کړ۔ خو چې د بنوں قرار داد منظور هم سو۔ نو بيا هم دې منزل ته رسېدلو دپاره نه خو تنظيم جوړ کړل سو۔ او نه د دې دپاره جدوجهد وسو۔ که څه هم دا وخت شرائط د پښتون د قامي آزادۍ د تحريک وخپل منزل ته رسېدلو دپاره له هره اړخه تيار وو۔ انګريز روان وو، په ملک کښې زور بحران وو، په مشرقي پښتونخوا (شمال مغربي سرحدي صوبه) کښې د خدائي خدمتګار حکومت وو، او په لکهو لو پښتانه هره سربښندنه ته تيار وو۔ او يوه ډېره اهم خبره لا دا ده، چې د هند د آزادۍ ايکټ ۱۹۴۷ء سره سم آزاد پښتون قبائل بيرته آزاد کړل سو، له دوئ سره د انګريز د بالادستۍ ټولې لوظ نامې ختم کړل سوې۔ او قبائل هم له دې ذمه دارو څه آزاد کړل سو۔ او دا د مستقبل د حکومتونو او دې قبائلو کار وو چې دوئ يو له

بل سره لوظ نامه کوی او کړ نه ـ او دا دول انګریز په خپل لاس د ډیورنډ تیلی لوظ نامه خپله د انګریز د هند د آزادی ایکټ سنه ۱۹۴۷ء الندې منسوخ سوله ـ خو په دې لړ کی لا هم څه کار و نکړ او قبائل پنجابي استعمارګرانو په زور دا بنګیل کړي دي ـ

(۳۰) نو دا ډول چې پر ۱۴ اګست سنه ۱۹۴۷ء د پنجابي او مهاجر استعماری دولت کی پښتون ټولټل بیا را بنګیل کړل سو ـ بیا نو خان شهید او ددہ انجمن وطن او خدائی خدمتګاران په کلونو د پنجابي استعمارګرانو د تشدد ښکار سو ـ خان شهید د انګریز د وتلو سره سم په سنه ۱۹۴۷ء کې بندي کړل سو ـ په مشرقي پښتونخوا کې په سلګونو پښتانه په ګولو و ویشتل او شهیدان کړل سو ـ باچا خان او ملګري بندیان کړل سو ـ په ټول پښتون تحریک بندې خالې ډکې کړل سوې ـ په سنه ۱۹۵۰ء کښې د محمد ایوبخان اڅکزی په مشری کښې د جنوبی پښتونخوا په سلګونو پښتنو و آزاد وطن افغانستان ته هجرت وکړ ـ او بیا په توبه اڅکزی کښې له پنجابي استعمارګرانو سره و جنګیده ـ عبدالرحمن اڅکزئ او نور ډېر ملګري ئې د پنجابي استعمارګرانو په بمباریو شهیدان سو ـ د فرنګی دوخت شهری حقوق لا ختم کړل سو ـ په سنه ۱۹۵۰ء کې استقلال اخبار بند کړل سو.

له دې سره سم د ملک په آئین ساز اسمبلۍ کې چې د آئین
د جوړ ولو مسئله راغله ـ نو مهاجر او پنجابي استعمارګرانو د پښتون،
بلوڅ، سندهي او بنګالي واک و اختیار څپل لاسونو ته راوړلو ـ ددې
پاڼۍ داوسو چې د دې کامونو قدرتي وسائل او د اولس د زیار و
محنت د شوکې او د دوئ د پسمانده (عقب مانده) ساتلو د پاره
هلې ځلې پیل سوې ـ د پاکستان سیاسی او آئیني تاریخ په حقیقت کښې
د پنجابي او مهاجر استعمارګرانو او د محکوم پښتون، بلوڅ، سندهي او
بنګالي کامونه تر مېنځ د سیاسي واک د پاره د جدوجهد د کشمکش
او کښالې تاریخ دی ـ نو استعمارګرانو په ۱۹۵۴ع کښې آئین ساز اسمبلۍ
ماته کړه، د شرقي پښتونخوا (صوبه سرحد) جنوبي پښتونخوا (برټش
بلوچستان) او سندھ دوه ولایتونه او د خان قلات په مشرۍ کې
ریاستونه (بلوچستان سټیټس یونین) ئې ختم کړه او د لاهور تر واک
لاندې ئې یو یونټ جوړ کړ ـ د خلکو په خپله رایه د حکومت د ټاکلو
یعنې انتخاب حق ئې پوره ختم کړ یائې تش په نوم وساتلو ـ بیائې په
مرکز کښې د بنګال اکثریت د ختم کولو د پاره د پېریټي (PARITY)
اصول جوړ کړ ـ او وروسته ئې له نهه کاله وروسته پر دې استعماری

بنیادونو ولاړ د سنه ۱۹۵۶ع آئین (اساسي قانون) جوړ کړ۔

په دې ړوله موده کښې خان شهید له بندې خانې څه د

مشرقي او جنوبي پښتونخوا د لوکولو، د لوخودمختار پښتون ولایت

یعني پښتونستان جوړ ولو، هلته د زیارکښ او وطنپال اولس د

منتخب حکومت واک، پښتو سرکاري، تعلیمي او کاروباري ژبه کرزولو

او د مترقي پښتون ټولنې جوړ ولو دپاره، لیک، مطالبې، تنظیم

او نور جدوجهد کاوه۔ او چې د شپږ کاله بند وروسته په جنوري

سنه ۱۹۵۴ع کښې له بند څه خلاص سو۔ نو ئې سمدستي د جنوبي پښتونخوا د پښتنو

د کامې سیاسي ګوند "ورور پښتون" جوړ کړ۔ خان شهید ئې صدر او

هاشم خان غلجي ئې جنرل سیکرټري سو۔ د ګوند د ورور پښتون، مرام

او هغه ته رسېدلو دپاره لارې چارې او پکار خولیونه د ګوند

د غړیتوب پر کارډ دا ډول راغلي دي :-

## د ورور پښتون بلوچستان مرادونه

ا) په پاکستان کې دننه د پور له پورې پښتنو یوه پوره

خپلواکه هولکه (صوبه) په نوم د پښتونیستان جوړ ول او

پښتنو کې ورور ولي پیدا کول۔

ii) په بلوچستان کې دَ ټولو پښتنو دَ ژوند ، دین ، ژبې، گوزران، ژواک ، گوزارې ، زدکړې او روزنې د ودې دپاره بې څه هیلې زیار کښل ۔

iii) په پاکستان کې دَ نورو پښتنو کوانه یانو سره په شریکو چارو کې کنگاش (مشوره) د هغو دَ ودې په چارو کې مرسته کول، او دخپل هیواد پاکستان ښه غوښتل ۔

iv) د خودائ پاک دَ ټولې پیدا دَ خودائ پاک د لارې (شریعت) سره سم، د هیڅ بدلې بې هیلې چوپړ وهل، لکه پښتونولی او دَ پښتنو تاریخ چې راښیي ۔ او دَ خودائ بندګان په زیاته پښتانه دَ ښو خولو، رښتونولی، ننګ، خواخوږی او روغه جوړه ته رابلل ۔

v) ددې مرادو دَ ټولو دپاره به پور واړه روا دود او سمو لارو چارو کار کېږی ۔ او په هیڅ وخت او شان کې به زغم او سبانولی (عدم تشدد) له لاسه نه پرېښو ول کېږی ۔

(۳۱) د یو یونټ د پلان په خلاف او دَ ورور پښتون د منظم کولو سیاسی کار پیل سو ۔ چې په جولائی ۱۹۵۴ع سنه کښې خان شهید بېرته

بندي کړل سو۔ او بیاچي د ډاکټر* خان په مشرۍ کښې دیو یونټ
پلان عملي کړل سو، او دَ لاهور دَ اسمبلۍ د پاره تش په نوم انتخاباتو
تیاري پیل سوه، نو په جولائي ۱۹۵۵ء کښې له بنده خوشي کړل
سو، او بیاچي د انتخابي دورې په لړ کښې بورې (لورالائي) ته ولاړ
هلته دیو یونټ وزیراعلیٰ ډاکټرخان په حکم بندي کړل سو۔ له درې[۳]
میاستو وروسته دلزموډي دپاره ایله کېدلو وروسته بیرته ونیول
سو، او دَ کال ۱۹۵۶ء په پای کې لاهور هائي کورټ له بنده ایله کړ
پر ۲۵، اکتوبر لیکلی خپل بیان کې چي پر ۲۶، اکتوبر ۱۹۵۶ء ئې په هائي کورټ
لاهور کښې ولوستلی، دَ پښتون خاورې خود مختاره صوبه پښتونستان،
هلته دَ اولس واکي (جمهوریت) او ودې او ترقي د مقاصدو پښتون
او بلوڅ او نورو اړیکو په باره کښې ځائ په ځائ داسې رڼا اچوي:۔
د جنوبي پښتونخوا (برتش بلوچستان) دَ پښتنو په باره کې لیکي:۔

أ) " داسیمه بلوچستان یعنې دَ بلوڅو د خاورې په نوم بلل کېږي۔
خو بیا هم دَ بلوڅي ریاستو علاوه ددې دَ آبادۍ اکثریت د پښتنو دئ،

---

* خان عبدالجبار خان چي د خان عبدالغفار خان باچا خان مشر ورور
وو، او خلکو به ډاکټر خان صاحب باله۔

PMAP Hayatabad Peshawar

چې ژبه، ثقافت او نسل ئې د صوبه سرحد د خلکو دی - د بلوچستان د پښتون آبادی سیمه چې د چیف کمشنر صوبه وورته ویل کېږی، له صوبه سرحد سره یوړې ده - د دې ټوله آبادی د پاکستان تر اکثر ښارونه لږ یعنی پنځه لکه لاندې ده - خو رقبه ئې تر څلور صوبو لویه ده - نوئې آبادی ډېره ویره ده - په آئینی توګه له ۲ تحصیلونو څه یواځې درې په برطانوی هند کښې ګڼه وه - باقی مستجار علاقې یا قبائلی علاقې وې، چې اوس خاص علاقې وورته ویل کېږی"۔

ii) په ۱۹۳۶ع کښې د انجمن وطن د جوړولو د وروسته حالاتو په باره کښې لیکی "تر اوسه مونږ براه راست له برطانوی حکومت سره په جنګ وو، چې د قومی جوړښت د کارپیل د پاره لارې جوړې کړو - خو چې د صحیح کار وخت راغلی نو مونږ د ریاستی حکمرانانو، سردارانو، جرګه ممبرانو او دا ډول طفیلی عناصرو سره مخامخ سو، چې په بلوچستان کښې ئې کمی نه وه - دا ټولو او افراد نه یواځې دا چې د حکومت د استبدادی اقداماتو د حربې په توګه استعمالیدل، بلکه په دې وجه چې خالص برطانوی استعمار جوړ کړی وو، نو ئې د افسرانو په وینا او د هغو د خوشالولو د پاره هر وخت انتهائی ذلیل خدماتو سرته رسول لو

ته هم تیار وو - ځکه چې دوئ د حکومت ټوډیان وو، لودوئ ر افسرانو پر وینا هر قسم محصولات ټکولی وو - او د اولس په خلاف ئې متشددانه قوت په کار راووست - دا ټولې خبرې نظرانداز کول د قومی تحریک دپاره ناممکن وو - مونږ په دوئ کې له ځنې سردارانو سره وجنګېدلو هم "..........

iii) سنه ۱۹۵۴ء د 'ورور پښتون' او پښتونستان په باره کښې لیکي:

"څه وخت وروسته د ورور پښتون (پښتون ورور ولی) په نوم یو ګوند جوړ کړل سو - چې مقصد ئې دا وو چې په پاکستان کې دننه دې پښتونستان یو داسې خودمختار وحدت جوړ کړل سی، چې پر له پورې پښتون آبادی والو سیمو باندې مشتمل وی - او دا وحدت دې په عدم تشدد او آئینی ذرایعو جوړ کړل سی ".........

د میاشتنۍ 'پښتو' او اووه ورځنۍ 'پیغام جدید' په باره کی وائی:

" چې په جولائی سنه ۱۹۵۴ء کی زه په کورکې نظربند کړل سوم، نو پرما د تحریر او تقریر او له کلی د باندې خلکو سره لیدلو باندې بندیز ولګېده - او له دې سره د ورور پښتون، دوې

د سالي 'میاشتني پښتو' او اووه ورځنی' پیغام جدید' باندې دیو
کال دپاره بندیز ولګیده"........

۱۷) د پښتونستان په باره کی لیکی:-

"ترختم کولو د مخه زه دا بیانول مناسب ګڼم- چی دَ هغو
پښتو څوک چی دَ پاکستان په یوه پرله پورې سیمه کې اوسی، خو
څوک چی انګریزانو په مختلف نومونو د آئینی تقسیم په ذریعه جلا جلا
کړي دی، یو جلا وحدت جوړول او هغه ته دَ پښتونستان نوم
ورکول همیش زما دَ ژوند برخه اوسیدلې ده- دا جدوجهد زماله
ژوند څه جلا سوئ نه دئ- او نه کم ازکم دَ سزا او تشدد څه
د نجات حاصلولو دپاره زماله ژوند څه جلاکیدلائ سی"........

۷) د زمانې دَ ترقی او ودې دپاره زدکړې او دښې او اغیزناکی
زدکړې دپاره دَ مورنۍ ژبې او دَ مورنۍ ژبې دپاره دَ خودمختار
پښتونستان د ضرورت په باره کی لیکی:

" نن زمانه کښې، دودّې مرکز، بنسټ او معیار زدکړه بلل
کیږی- او د نړۍ دَ زدکړې ټول ماهر پر دې متفق دی، چی د
زدکړې منهاس او تر ټولو ښه طریقه د مورنۍ ژبې په ذریعه کامیاب

کیدلائی سی - اغیزناکه او کټمپره زدکړه په یو ژوندی ژبه ورکول کیدلائی سی - هغه ژبه چې هره ورځ پکار راوستل کیږی - چې په دفترونو، تجارتی مرکزونو، او ادبی خلکو کې چلیږی - چې ابتدائی تعلیم چې د آبادی اکثریت ئې حاصلولائی سی، د مورنی ژبې په ذریعه کارآمد جوړه کړل سی - او دا تر هغه وخته ناممکن دی، ترڅو چې د پښتو د پاره پښتونستان صوبه جوړیږی - چېرې چې صوبائی دفترونه یا د هغوئ یوه برخه او تجارتی کاروبار د دوئ په خپله ژبه یعنی پښتو کښې وی "

(vi) د پښتو او افغانستان پر اړیکو لیکی :

" په پاکستان کې په ټکهو او ذمه داریو په برابری شریکولو او په پاکستان کې د ننه د پښتونستان بااختیار صوبې په جوړ ولو، مونږ پښتانه دې ته مائل کولائی سو، چې هغه دې له افغانستان سره خپل ټول اړیکی نظرانداز کړی - پښتانه د جمهوری حکومت له ټکهو او له خپل معاشرت څه مه محروم کوی، که تاسو دا غواړی چې هغوی دې له افغانستان سره خپل ډول ډول اړیکو په کشش متاثر نسی - دا دې زما باورونه او د پښتونستان د مطالبې د دلائلو لنډه اړانه "....

(vii) دبلوچستان د پښتنو په باره کې د پښتونستان او بلوچستان تر سرلیک لاندې لیکی :-

" زه د بلوچستان په پښتنو کی پیدا سوی او لوی سوی یم ـ او دا قدرتی خبره ده، چې زما په سیاسی ژوند او مقاصدو کی د دوی ضروریات او مسائل پېښ پېښ دی ـ ما په سر کی دا محسوس کړه، چې د هغوئ د عقب ماندګی او زمونږ د بې لسی تر ټولو لویه وجه د زدکړې ناقص طریقه ده ـ په دې چې دا د دوئ په مورنی ژبه کی نه ورکول کېږی ـ ددې په نظر کې نیولو سره په سنه ۱۹۳۲ء کی په جیکب آباد کې د بلوچستان کانفرنس پر موقع چې ددې علاقې په تاریخ کی لومړی کامی غونډه وه، دا قرارداد منظور کړل سو، چې ابتدائی زدکړه دې د زدکونکی په مورنی ژبه ورکول کېږی ـ په متحده هند کې له کانګریس سره زما د اړیکو تر ټولو لویه وجه د کراچی قرارداد وو، چې د کوم چې ما په پوره زور تائید وکړ ـ دې کې د آزاد هندوستان کی دننه د ژبو د خودمختار صوبو ضمانت ورکول سوی وو ......

او ترڅو چې په بلوچستان کی د او سېدونکی پښتنو مسئله ده ـ د دې یواځنی حل پښتونستان دی ـ

حکومت پاکستان چې په سنه ۱۹۵۱ء کې د ډاکټر محمود حسین په مشر
کې په بلوچستان کې د آئینې اصلاحاتو دپاره یوه کمېټۍ جوړه کړه، نوموړ
ړې پوره مرکزی بندی خانې ته چېړی چې زه په هغه شپو کې بندي
وم، د دې کمېټۍ سوالنامه په سرکاری توګه را واستول سوه. هغه
وخت ما د بلوچستان د ولس غوښتنه کړې وه - او ویلی مې وو، چې
د پښتو سیمې دې صوبه سرحد سره ګډې کړی، ځکه چې دا یوازنی
قدرتی او سمه طریقه ده ـ"

viii) پښتونستان د وخت اهم ضرورت دی، د سرلیک لاندې
لیکی "په دې طریقه د پښتو تاریخی ضروریات او غوښتنې لزېدلائ
سی - په ملک کې د پښتو او پښتونولۍ ژغورنه او د پښتون د بېل
بېل پېټیو (قطعاتو) یووالی د وخت اهم ضرورت دی - چې د پښتونستان
د یو با اختیار صوبې په جوړه ولو پوره کېدلائ سی - په دې ډول
پښتون د خپلواکی او اولس واکې (جمهوریت) په ګټو برابر شریک کېدلائ
سی - اولس واکی هغه یوازنی لار ده، چې د پښتونو په ډول اولس واک
خوښونکی خلک د دې ملک له پنجابیانو او د لرې له بنګال سره ترل
کېدلائ سی - او دوی د هغه ټول قدرتی اړیکو نظرانداز کولو باندې

مائل کولائ رسی ، د کومو په ذریعه چې دوی د افغانستان داوسیدونکی ګواندې خلکو سره تړلی دی"......

(۳۲) خان شهید چې په سنه ۱۹۵۶ع کښې له بند څخه ایله کړل سو، نو یوخوائې د یو یونټ او استبدادی استعماری حکومت په خلاف سیاسی کار روان کړ - اوبل خوائې د پښتون، بلوڅ، سندهی او بنګالی کامونو د خپلواکو اولسی تحریکونو او د پنجاب د اولس واکه تحریک اتحاد هلې ځلې پیل کړې - د سنه ۱۹۵۶ع په پائ د خان شهید او نورو ګوندونو د مشرانو په هلوځلو دا ګوندونه سره ګډ او مدغم کړل سو، او د نیشنل پارټی یو ملکی ګوند جوړ کړل سو -

i) د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی په مشری کې د پښتنو "ورورپښتون"

ii) د باچاخان په مشری کې د پښتنو "خدائ خدمتګار"

iii) د حیدر بخش جتوی په مشری کې د سنده هاری کمېټی -

iv) د جی - ایم - سید په مشری کې د سنده عوامی محاذ -

v) د میاں افتخار الدین په مشری کې د پنجاب آزاد پاکستان پارټی -

(۳۳) په سنه ۱۹۵۷ع کې چې له بنګال څخه د مولانا بهاشانی عوامی لیګ له نیشنل پارټی سره ګډه کړل سو - نوم ئې نیشنل عوامی پارټی کښېښول سو-

نیشنل عوامي پارټۍ امپریلسټ دښمن ، استعمار دښمن ، جاګیرداری

دښمن ، کمپرا ډور دښمن ، د پښتون ، بلوڅ ، سندهي ، بنګالی او پنجابي کامولو د

سیالۍ او د اولس دَ واک او ودې ، د مثبت غیرجانبدار پالیسی او دَ

یونټ دَ ماتولو او د ژبې او ثقافت پر بنیاد د کامولو د خود مختار صوبو

د جوړولو بیرغ اوچت کړه -

دې مرادونو ته رسیدلو دپاره کوند ډېرې هلې ځلې وکړې -

نو پنجابي استعماری فوج ، د پنجاب په کټه جوړ کړی دَ ۱۹۵۶ء آئین ختم

کړ او پر ۷ ، اکتوبر ۱۹۵۸ء ئې دَ فوج د ستر د رستین (کمانډرانچیف) ایوب خان په

مشرې کښې لومړي مارشل لاء ونکوله یعنی بربنډ فوجي آمریت ئې جوړ کړه -

او اصل ګزار ئې پر نیشنل عوامي پارټۍ او د هغه پر مشرتابه وکړه - تر ټولو

د مخه ئې خان شهید بندی کړ - د کوټې دَ اوسنې میونسپل کارپوریشن په میونسپل

هال رچې په ۱۹۷۰ء کی د بلوچستان د لومړۍ ولایتی اسمبلۍ هال هم وو - ) کې

سپیشل ملټری کورټ کې مقدمه پر وچلیده - او دَ دسمبر ۱۹۵۸ء په دوئمه

هفته کې څوارلس[۱۴] کاله د مشقت د بند سزا ورکړه - او بیائې نو د ایوب خان

د فوجي آمریت پوره لس کاله د هری پور ، ملتان ، مچه ، لاهور او نورو

بندی خانو کی تیرې کړې - ټول کوند دَ تشدد ښکار کړل سو - خو کوند

PMAP Hayatabad Peshawar

له خپلو هلو ځلو لاس نه واخیست.

(۴۳) د ایوب خان مارشل لاء تر ۱۹۶۲ ع سنې پورې وساتل سوه. وروسته ئې په ۱۹۶۲ ع سنه کې یو داسې آئین (اساسی قانون) جوړ کړ، چې په هغه کې ئې د پښتون، بلوڅ، سندهي او بنګالي کامولو د مریتوب یو یونټ او له بنګال سره د سیالۍ په نوم د پېریټي (PARITY) نظام وساتلی. د وفاقي پارلیماني براه راست چوڼ سوی نظام حکومت د ختم کولو، صدارتي نظام حکومت او بالواسطه (غیرمستقیم) طریقه انتخاب د ټګولو په ذریعه ئې استعماري واک نور ټینګ کړ او وئې ساتلی. خو تر ۱۹۶۸ ع سنه پورې د ایوبي استعماري آمریت په خلاف په کامولو کې ډېره کرکه راپورته سوه. او چې پر ۲۵ اپریل ۱۹۶۸ ع سنه د پوره سزا تېرولو وروسته خان شهید له بند څخه ایله سو. او پر اپریل ۱۹۶۸ ع سنه د بند وروسته د لومړي ځل د پاره کوټې ته راغلی، نو ئې د کوټې پر هوائي ډګر ډېر لوی او نود هرکلی وسو. استعماري حکمرانو له دې څه لوېیه وېره وکړه. او په یو څو ورځو کې ئې ....... بېرته بندي کړی. ډېر ملګري ئې هم بندیان سو. او مقدمه پر وچلېده. دا هرکلی او بېرته بندي کېدل هغه انګېزه وه، چې د ایوب خان په خلاف ئې د یو ډېر زور بحران لمبې بلې کړې. په

دې کې پر ۲۹ رمئ سنه ۱۹۶۸ع د کوهټ د کالج پر ظریف شهید هوسټل استعمارګرانو په شپه ګولۍ و چلولې - او پښتون طالبعلم ظریف ئې شهید کړ او ډېر ملګرې ئې ټپیان کړه - دې کار د اوور پر لمبو د تیلو کار وکړ - او دا ووچې ایوب خان د کال سنه ۱۹۶۹ع په لومړۍ شپو کې د ګول مېز کانفرنس په تشکل کښې د اختلاف د پارټیانو سره خبرو اترو ته تیار سو سیاسی بندیان ئې ایله کړه - خان شهید او ملګرې پر ۲۴ر فروری سنه ۱۹۶۹ع له بند څه ایله سو - د بنګال د اګرتله سازش کیس واخیستل سو، او د عوامی لیګ صدر شیخ مجیب الرحمٰن هم ګول مېز کانفرنس ته وبلل سو -

(۳۵) په دې بحران کې له نورو خبرو علاوه دا امکان هم پیدا سو چې استعمارګران به یو یونټ مات کړی، او د ژبو او ثقافت پر بنیاد به د کامولو د خودمختار صوبو جوړولو ته سرکښېږدی - په سنه ۱۹۴۷ع کښې د پښتون کامی تحریک د دښمن له لاسه ماته خوړولو وروسته د لومړی ځل د پاره دا امکان پیدا سو، چې پښتون به له چترال څه تر بولان پورې په یو خودمختار کامی صوبه کې سره راټولېږي - په دې چې له محکوم کامولو په پرته، استعماری ګوندولو لا هم د یو یونټ ماتولو او د کامولو د کښبالې وحل کولو ته سر ایښې وو -

(۳۶) د ۱۹۶۹ع سنه په لومړیو شپو کې د اختلاف ګوند دا تحاد ډیموکراټیک ایکشن کمیټۍ میټنګ په لاهور کې وسو. نیشنل عوامي پارټۍ (ولي خان ګروپ) د دې اتحاد یو اهم غړی وو. تر دې لږ د مخه پر ځینو مسائلو ګوند په دوو برخو نیشنل عوامي پارټۍ (بهاشاني) او نیشنل عوامي پارټۍ (ولي خان) کښې ویشل سوی وو. د اختلاف ګوندونو دا تحاد د یونټ ماتولو ته غاړه کښېښوله. خو چې د یونټ پر ځای د نوی صوبو د جوړولو پوښتنه را پورته سوه، نو یکار خو دا وو، چې نیشنل عوامي پارټۍ چې دا وخت یې صدر عبدالولي خان وو، دخپل پروګرام (مرامنامې) سره سم د ژبې او ثقافت سره سم د کامي صوبو (ولایتونو) د جوړولو تجویز وړاندې کړی وای. او په دې ډول یې د جنوبي پښتونخوا (د برټش بلوچستان پښتون خاوره) د مشرقي پښتونخوا (صوبه سرحد) سره یوکولو او خودمختار صوبه پښتونستان جوړولو دریځ نیولی وای او لعغه هم داسې وخت چې له ډېر کړاوونو وروسته پښتون یوځل بیا د خپل منزل ته نژدې سوی وو. خو وسو دا چې یوځل بیا د ۱۹۴۷ع سنه په طرق پښتون له تاریخي ناکامي سره مخامخ کړل سو. داځکه چې پښتون کامي تحریک او ګوندونه لا په ۱۹۵۶ع سنه د نیشنل عوامي پارټۍ په شکل کې د لوړ کامولو په تحریکونو

اوګوندونو کې مدغم سوي وو ـ خپلواک پښتون کامي ګوند نه وو، چې پر وخت او ځای ئې د پښتون د ګټو دفاع کړې وای ـ او د نورو کامونو په ډول ئې خپله خاوره یو کړې او خودمختاره کړې وای ـ د خان شهید په پرته نور پښتون مشرتابه د بلوڅ او پنجابي مشرتابه تر اغیزه لاندې د پښتون د خاورې وېش او د جنوبي پښتونخوا د بلوڅو د برخې ګرزول و منل ـ که څه هم جنوبي پښتونخوا په تاریخ کې د بلوچستان برخه نه وه او سېدلې ـ تردې چې انګریز لا هم د استعماري تېلې لوظ نامې لاندې یوولې افغان خاوره (جنوبي پښتونخوا) له بلوچستان څه جلا و ساتله، که څه هم د سپېرو مقاصدو لاندې ئې هغه ته د برټش بلوچستان ګمراه کن نوم ورکړ ـ

(۳۷) د اختلاف د ګوندونو د اتحاد او په هغه کې د بلوڅ مشرتابه تر اغیزه لاندې د نېشنل عوامي پارټۍ د پښتون مشرتابه ددې تاریخي غلطۍ پرېکړې پر وخت خان شهید له بند څه را ایله سوی وو، او پر دې تاریخي موقعه په لاهور کې وو ـ هم دا هغه ځای دی، چې د پښتون اولس کامي تحریک کې د محکوم پښتون د یووالي پر سوال اهم اختلاف پیدا سو ـ خان شهید له دې پرېکړې سره سخت اختلاف وکړ ـ او ددې

په خلاف ئې قائل کونکي دلائل وړاندې کړه - خو بیو ځل بیا د پښتون کامې تحریک او ګوند د ادغام په وجه د لوړو د کامې تحریک د ګټو تابع سوی وو - له دې وروسته خان شهید خپل دریځ د نیشنل عوامي پارټۍ په ادارو (مقاماتو) کې دننه په زیاته پښتون مشرتابه ته وړاندې کولو هلې ځلې وکړې - په دې لړ کښې دی کابل ته باچاخان ته راغلی، خو هغوی د پښتون اولس د بهتر او ناقابل بیان کړاوولو په لاس یو ځل بیا راوستلی سپړلی بخه داځل په خپله وینوله !

په کابل کې د خان شهید او باچا خان د خبرو اترو ، په هغه کې د دواړو د ریځولو حال د ښاغلي ابراهیم عطائي په کتاب "د دبلوخوملي ازادي بخښونکو جنبشو تر یوه کتنه" کښې راغلی دی -

(۳۸) په دې حال کې د ایوب خان وروسته د بحکوم کامولواو اولس په حق کې آئین او سیاسي نظام جوړ پدلو د بخنیوی او د پنجابي استعمارګرانو له ګټو سره سم د حالاتو بیولو دپاره بیا د فوج د ستر درستیز (کمانډر انچیف) جنرل یحیٰ خان په مشرۍ کې استعماري فوج پر ۲۵ مارچ ۱۹۶۹ع سنه د دوهم ځل دپاره مارشل لاء ونګوله - بربنډ فوجي آمریت ئې جوړ کړ - خو د بحران د شدت د لږولو دپاره ئې د انتخاباتو اعلان

وکړ. د کال ۱۹۶۹ء سنه په پاکه کې ئې د یو یونټ د ماتولو داسې اعلان
وکړ. چې پر ۱ر اپریل سنه ۱۹۷۰ء به د نوؤ ولایتونو پولې ښکاره کول کېږي
او پر ۱ر جولائی سنه ۱۹۶۹ء به د صوبو حکومتونه خپل واک تر لاسه کوي.

(۳۹) ځکه چې د نوؤ صوبو د پولو ښکاره کولو د پاره له نومبر
سنه ۱۹۶۹ء څه تر اپریل سنه ۱۹۷۰ء پورې د شپږو میاستو شاوخوا موده
پرته وه، نو خان شهید د پښتونستان جوړولو هلې ځلې پیل کړې. د
نیشنل عوامي پارټۍ د آئین و دستور سره سم د نوو ولایتي واحدونو
پرځنګ د کوټې او بل د کلات دوه ولایتي یونټونه وو.

په دې وخت کښې بلوڅ مشرتابه کوشش پیل کړ، چې د ګوند
د دې دستور په خلاف د بلوچستان په نوم د کوټې او د کلات یو ګوندي
ولایتي یونټ جوړ کړي، چې بیا پرځ د زړو ولایتونو د بحال کولو
تر ګمراه کن نوم لاندې پښتون خاوره د بلوچستان برخه وګرځوي.
خان شهید د ګوند د دستور د دې خلاف ورزۍ هم مخنیوی کاوه.

په دې شرائطو کې هغوی د نیشنل عوامي پارټۍ بالخصوص پښتون
مشرانو ته لیکونه ولیکل. چې په هغو کې د محکوم پښتون کام د ژوند دا
تاریخي پړاو، د دې په باره کې د پښتون مشرتابه سیاسي کښالو، او په

ھغو کښي مختلف دریځونو باندي بنسه رڼا لویږي ـ په دي لیکونوکښي ځني اهم لیکونه دادي !

i ) عبدالولی خان صدر نیشنل عوامی پارټۍ پر نوم له ګلستان کوټې څه لیک ۶۹ ـ ۱۲ ـ ۹

ii ) اجمل خان ختک جنرل سیکرټري نیشنل عوامی پارټۍ پر نوم له ګلستان کوټې څه لیک ۶۹ ـ ۱۱ ـ ۱۰

iii ) عبدالولی خان صدر نیشنل عوامی پارټۍ پر نوم له لاهور هوټل لاهور څه لیک ۷۰ ـ ۱ ـ ۱۱

iv ) اجمل خان ختک جنرل سیکرټري نیشنل عوامی پارټۍ پر نوم له لاهور هوټل لاهور څه لیک ـ ۷۰ ـ ۱ ـ ۱۴

v ) د محمود علی قصوری صدر مغربي پاکستان نیشنل عوامی پارټۍ پر نوم لیک ـ ۷۰ ـ ۳ ـ ۱

## (۴۰) د عبدالولی خان پر نوم د خان شهید د لیک متن :

GULISTAN

ګرانه ولی خان خودای مومل سه ـ

بنسه چارې ـ بنسه یمه ـ بنسه موټل عوارېمه ـ سبا لـه به اختر

PMAP Hayatabad Peshawar

دی ـ ستاسی او د کور د ټولو لویو او وړو دې مبارک سی ـ او د خواخوږو مننکرو هم ـ

له کابله چې راتلو تاسی ماته وې چې څو ورځو له به راځې او کاربه راسره کوې ـ نو ما دلته په رارسېدو په هغه لهکله تراوسه دوه تاره درکړي دی ـ یو د ښاغلی اجمل خان په نامه د دفتر پر پته اوبل ستاسی پر نامه شهر باغ ته ـ د اجمل جواب راغی چې ولی خان کابل کې دی او دهغه بل په پته پوه نسو مه! چې مې ستاسو له والسی لپس درکړی وو ـ

اوس چې د ښاغلی یحیٰی خان وینا ډېره خواری رالنډه کړله، چې یونټ ئې مات کړ، او دا نیه ئې وکړه، چې ولایتونه (صوبې) به د ټاکلې چې څوبه وی او کومې کومې ـ پولې به څنګه وی؟ او ورسره ئې د چونې وخت هم وټاکی ـ نو مونږ له دلته او هلته ډېر کار پکار دی ـ او ژر ژر ـ او تر هرڅه وړاندې مونږ له په خپلو کې ځان پوهول پکار دی ـ او بیا د بلوڅانو سره ـ وروسته به بیا سرکار کورو ـ

دلته د پارټی کار هم په تېر درست کال کې په ټپه ولاړ وو ـ ښاغلی اجمل خان به درسره خبره کړې وی ـ ما نو کار نه دی

په لړله خوله دې لوی کاله مې گومان دی چې پارټی جوړېدونکې ده

ددې خت په رسېدو به ماله خپلې خوښې خبر کړې - چې

چېرې سره لیدلای سو ؟ په ډاکه کې تاسو د کوټې او کلات د یار څو

په شکله څه پرېکړه کړې ده ؟ دلته خو د بیزنجو په ویناد کوټې د وېړن

بلوڅ غړي هم کلات بنا خ سره ولاړه -

باچاخان به کله دلته راځي ؟ یوه اخبار کې وو چې پر ۲۲ م

دسمبر راځي - (لوړ بیا) ستاسي

عبدالصمد اڅکزی

---

## (۳۱) د اجمل خان خټک پر نوم د خان شهید لیک :

گولیستان

۶۹-۱۱-۱۰

گرانه ! اجمل خانه خودای مومل سه -

نبه چارې نبه یمه او نبه موتل غواړمه - پرون چې اختر

له کورته راغلمه - ستاسو بې تاریخه خت ئې راکړ - زړه مې لالوړ هم

بدسو - هو هغه خومې هېرسو چې ستاسو اختر دی که نه دلته خو د

بل چانه دی یوازې ما د پښتنو سره کړی دی - ستاسي دې مبارک

سي ـ وروره ستاسي په خت مې د زړه بدی پیلامه داوه چې تاسي دومره بې وسه یاست چې خپله بې وسي منلای او څرګندولای هم نه سی ـ په خوسی هیلو ځان هم غولوی او ما هم ـ دا به وسي او دا به وسي !!! په زاړه دورکې ماځه وکړه ته چې هرڅه بولې ستاسي

خوښه خو که زه خبر وای چې د هغه پاکې به دا ګېږی چې زه او زما کام به یو وار بیا دَ امیر عبدالرحمٰن او فرنګی له لاسه نه خپل دَ «مل ګری» باچاخان له لاسه دتل دپاره بلوڅ ګېږمه ـ له پښتو او پښتو نتانه دباندې پاتېږمه نو وروره څله به مې ځان کړاوه او څله به مې نور کړول ـ یونټ خو یونټ ځکه وو، چې پنجابیانو د ډېرې اکثریت مریتوب وو او اوس ؟ هو هغه دَ دښمن له لاسه وو دا د دوستانو او هغه دوستان چې ماځه وورلسره یا وورسره کړي وو ـ په هغه تاسي ټول خبر یاست ـ که اوس هم تاسي پرهغه خره سپاره یاست نو زه به په کمه پوزه دَ "بخګنې جدوجهد" کی له تاسي سره یو ځای کیږمه یا یو ځای کیدای سمه ـ هله خو به "زموږ بلوڅانو" ګډ "ستاسي پښتنو" تاوان وی ـ او هم ددې الوته ـ ددې شان یو خط د "شاهباز" ښاغلی سعید خان په جواب کی لیکلی وو، ؛

هیله يې ده چې هغوی او نیاغلی قلندر به ترې خبر کړی یاست - هو نیه
مې یا دسو قلندر خان زما بیان بدل کړی وو - چې هغه ماتاسو ته
هم لیږلی وو - سلام به مې وور ورسوي او دا هم چې که مې اخبار
چې زما خبر زما په ډول نه چهاپوی ، هغه نه بیا زه څنګه کار
آخیستای سم - او په هغه او "نوائے وقت" کې بیلتون څه دی ؟
ورورة دغه یوه خبره تاسو ته دا څرګند وی چې وړاندې به زموږ بینه
ستاسی ...... وی او ستاسی دا زموږ خوکه موږ یا زه و مه !

چې له کابله راتلمه ولی خان راته وې چې ته به راسې او کار
به کوؤ چې راغلمه تار مې در کړ تاوې ولی نه وو - چې ولی دا غی شهی
باغ ته مې تار ورکړ په پته ئې پوه نه سومه - په لاهور کې مو سره
ولیده تاسې او تهول بې وسه واست - ورورة اوس مې بیا ولی ته خت
لیکلی دی چې که دی خونبه وی " چې یوځائ سره و وینو " - ولی چې زما
ګومان دی چې د جنرل یحیٰی خان ئې کور ودان هغه د هرچا دیاره
چې دی زما یا دبل چا داسې بیان ئې ورکړ ..... چې د مواد پکښې دی -
اوس هم که تاسی د غواړی موږ به نه ځله بیلیږو - "باچا خان به راسی
خودائی دې راولی - خو زمائې په څه؟ ماستا په وړاندې په کابل

کې نه وو لیدلی او راته ویلي ئې نه وو چې تاسی هرڅه چې کړلی وو دا د پرش
کاله ما هم د غه صوبه سرحد د پاره کار کړی وو هم د غه زما پښتونستان
وو؟ بیزنجو څه ویل او څه ئې کول په دې زه ښه پوهه یم ـ چې
ښاغلی ولی خان باچاخان سعید خان او ټول پښتانه خپله ، دغوی
وینا زړې صوبې زړې صوبې سهار ماښام وای نو بیزنجو لیونی
دی چې د ژبو ولاتونه به نه غواړی چې ئې ماته هم څخ سپین وی
او پارټۍ ته هم ـ چې ما خو به بده خبره نه وې کړې؟ او خدائې
مه وکه د کوټې د پښتنو د خوړ لوپس به واړندې پنجاب او سینده ته
د بلوڅانو دَ غوښتلو دا هم جوړ وی چې پښتانه خو زما په مریتوب
ولی خان په جونګه کی راکړه ـ زه خو دَ ژبو ولاتونه غواړمه!

د غونډ میزې جرګې پور وخت ولی خان ویل چې ټولو
زاړه ولاتونه غوښتل نو ما څه کړی وای؟ وروره اوس خو دغه
خبره نه ده ـ اوس خو یحیی خان نه زاړه ولایتونه ویلی دی ـ نه
ئې د ولاتو پولې یادې کړی دی ـ نه ئې له سره شمیر هم ټاکلی دی
او دا دغه شي وو چې د دغه د پاره ما په یواځې سر ستاسی د ټولو
بې څه کومکه لا ددې سره تاسی که لوئ واست که واړه چې خوله

به موږ پړیکوله زاړه ولاتونه به موږ یاد ول ، ډیرې خوارۍ وکښې ـ نو نه
پوهیږمه چې اوس هم تاسې په ډیرو پیسې خو ډیر زیات زیار کاږئ
چې داسره پاته سی او هیلې هم ورکوي منتونه ئې هم کوئ چې هغه
که وکیلان دی ، که پیران او نوابان ځان پښتانه نه بولي، نه درسره
ګډیږي ـ او موږ چې هغه هم پښتانه یو او هم په تاسې ګډیږو که
نواب جوګیزی دی که قاضي علي وکیل او که نور څوک نو تاسو
مو ولې له ځانه شړلی ؟ دا د پښتنې خبره هغه د سهار په بانګ کې
نوې تپه ده نو یو وار خو خپله هزاره ډیره دریاد که ـ بیا نو دا
له ما واخله چې پښتنې به هم پرلار کیږي ـ ستاسو دا خبره چې د کوټې
پښتانه که یو آواز څه غواړي نو څوک ئې تر الیسار ولاړ نسي، هیڅ
وزن نلري ـ ځکه چې د کوټې د پښتنو په وړاندې دا لوئ خنډ
دی چې هغوئ څه د غواړي ؟ پښتونستان ؟ په هغه ئې ګډ وي
څوک ؟ باچا خان او ولي خان ئې نه ګډ وي ـ ما ته اوس پښتانه
بلوڅ ملګري لغړ دغه یوه خبره کوي چې ته موږ پښتونستان له څنګه
بیائې ـ د پښتونستان نمائندګان (مالک) او ډیر اکثریت خو موږ
غواړي هم نه ؟ نه به ژر تاسو ته د دغه شان لیکونو اخبارات

دروليږم!

ستا دا دعا (دعا) چې را پيدا سوې خندان ورک سي.

په تاسې په زياته کثرالو پورې اړه لري - چې دا غوښتنه وکي چې

موږ د کوټې پښتانه خان سره غواړو او لس لور کار لکه ما چې وړاندې

ويلي دي ماليوازې برابر کړي دي - چې دا وسې لو بلوڅ به هم موږ

سره راځي - کني لو د کوټې د پښتو سره بلوڅ د تل د پاره له پښتونستانه

داسې بيل سو، چې بيا به يې د نه ويني - ميانوالي او کيمبلپور ته

ستاسې

دلوري! (لوربيا)

عبدالصمد اڅکزی

## (۳۲) دعبدالولی خان پرنوم دخان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي بل ليک:

لاهور هوټل لاهور
۲۰-۱-۱۱

ګرانه ولي خان

ښه چارې - مهرباني به وکړ او ددې لاندېنيو خبرو په

هکله به مې خپل په سوچ او لاره خبر کړ - ځکه چې د کوټې او قلات

په پارټۍ کې د دغو خبرو په هکله ډېر سخت اختلاف او بد پاڅې راپيدا شوې دی - چې يکښې ستاسې قوم هم راځي.

(۱) د ۴ جنورۍ په "پاکستان ټائمز" کې خبر چې د لويديځ پاکستان په بېلو بېلو برخو کې به تهاکلي کسان کارکوي - روښتيا دي که دروغ دي نو داسې خبرې د بندولو دپاره تاسې څه چاره کوئ ځکه چې داسې يخوا هم شوي دي او بيا هم کېدلای شي -

(۲) زموږ د کوټې کلات پارټۍ به د ښځوالو ولاتو (صوبجات) دپاره کارکوي که نه دلته د ژبې پر بنياد د لوئ پولو او سيمو دپاره؟ او که نه د بهاولپور او پنجاب رنګه چې وائي بهاولپور په پنجاب کې او خوک وائي نه ځان له ولات - موږ هم د ښځوانۍ کلات په هکله دغه خبره کولائ شو - چې موږ په پښتو کېږو که نه وي لوځان له ښځوانۍ ولات (صوبه) کلات په ځان نه کېږه وو - دا ځکه چې د کلات په راکېدو زموږ د ګډې (اجتماعي) رنګ يو مخ بدل شي - ډېرکه (اکثريت) به لږ (اقليت) شي او لږ به ډېرکه - ستاسې او سوات له کېدو څخه چپ چې لږ ورو ستو پاته خنک او قبائلي ژوند والا به په داسې ډېرو کېږي چې ژوندۍ پر مخ تللی او په وده کې دي - دلته به پر مخ تللي خلکه د

یانې قبائلي خلکو تر ډېرې لاندې راسي ، چې د سرداري سرلښتې (نظام)

په ډېره سخته بلاک لاهم راګېر دی۔

(۳) د کوټې او کلات بلوڅ په ژبانه میر غوث بخش خان ګلیا

دی چې مرکز دا پریکړه کړې ده چې د کوټې او کلات به یوه کمېټۍ وي.

دا روښتیا ده که خوښې خبره ؟

هیله لرمه چې تاسې به دې پوهه یاست چې د دې خبرو رونهږده

(صفائی) د خلکو د پوهولو او د راتلونکې چوڼې د ګټلو د پاره ډېر سخت

په کار دی ځکه دا غواړمه چې په دې هکله ستاسو لیک خپلې پارټۍ

ته ور وړمه چې پر ۱۶ ر جنوري به د کارینده جرګې غونډه کوي ، او

پر ۱۸ ر جنوري به لومړۍ اولسي غونډه (جلسه عام)

ستاسو

عبدالصمد اڅکزی

## (۴۳) د اجمل خان خټک پر نوم د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي دیوبل لیک یو څه برخې :-

لاهور هوټل لاهور

۱۴-۱-۱۹۷۰

ګرانه اجمل خانه خودای مومل سه۔

بنه چارې۔ بنه یمه او بنه موټل غواړمه .........

.......... ولی خان سره مې دلته خومنتهه په سره سینه خبرې وکړې ادهغوی ـــ زما په گومان ـــ په لومړی ځل زموږ د ځای په درانه ماشوره او وه پښتنو ته پښې کړ او څه خو پوه سو. او په دې هم چې چاره ئې هم اوس بېکار ده که نه وی بیا ـــ په اسمبلۍ کې به ډېره گرانه وی. ځکه چې پنجابۍ او سینديکه به د سر دو باره ولش منلو ته هیڅ کله تیار نه سی. او نه به بنگالی زموږ وسیله (طرفداری) وکی. خو د دوی په گومان دا وخت هم چاره ډېره گرانه ده. دا لوظ خو ده کاوه چې تاسو هم د بشاغلی یحیٰی خان سره خبره وکړه او زه به ئې هم ورسره وکم. ـ مانن له دې ځایه داخت ولی ته ولیکه یا سی او بشاغلی ارباب سکندرخان هم پام باندې وکی. او د ولی په جواب به مې خبر کی. ځکه چې د ښهر باغ ختونه او تارونه هغوی ته ډېر کم رسېږی:

" بیگا مې دلته گورنر ولید. هغو زموږ دا خبره په کلکه منله چې په بلوچستان کې دې د بلوڅو او پښتنو ولش وسی. پښتانه دې په پښتونستان کې سی او بلوڅو ته دې د ډېره غازیخان بلوڅ او نصیرآباد ورکړل سی. که د هغه ځای د خلکو خوښه وی. هغوی دا هم منی چې له دغه ولش به د هزارې، ډېرې او لوری جهگړې نه پیدا کېږی.

لکه قصوری او پنجابیان چې وای - هغوی داهم ومنله چې دوی به
بناغلی یحیی خان سره خبره کوی - ماهم بناغلی یحیی خان ته لیکلی دی،
چې تر ۲۰، جنوری پس ماته د لیدو وخت راکی - زما گومان دی چې
که ته او نور خواخوږی (جسټس حمید، رشید، ارباب) هم دا خبره
په ټینګه د هغوی سره وکه نو کار به وسی - او داګرانه ماشوره به له
میانځه ووزی - زه به نن واپس ځمه - د خودای په امان "
د بلوچستان څه د پرمشران سرداران دوی د بناغلی یحیی خان له
ځی - که ستاسی د غاړې څو تنه سیاسی مشران جعفر میان، بناغلی
عبدالاکبرخان، ارباب عبدالغفور خان جسټس حمید بناغلی سعیدخان
هم یحیی خان ووینی او بیا ولی هم وورته ووای نو دا کار کیدای سی
ما دلته هم ولی خان ته یوخت ورکړی دی تاسی هغه هم وګوری.
ارباب سکندر او نور ټولو دوستو ته به مې د مینې ډک سلامونه
ورسوی. د خودائ په امان -

ستاسی

عبدالصمد اڅکزی

(۴۴) د ایوب خان د ګول میز کانفرنس او بیا د یحیی خان د ۱۹۶۹ء دسمبر

په پايه کې د يونټ د ماتولو له اعلان سره چې د پښتون د لوکېدلو او د خود مختار پښتونستان او بل د کوټې او کلات د جلا جلا صوبا ئ ګوندي يونټولو پر سوال د خان شهيد او د بلوڅ مشرتابه تراثر لاندې عبدالولي خان چې کومه سياسي کښاله راغله ، نو د جنرل يحيٰی خان له اعلان څخه تر اپريل او جولائی سنه ۱۹۷۰ع رچې د نوؤ صوبو پولې ټاکل کېدلې او اداره (انتظام) ئې پيل کېده) په پارټۍ کې داسې حالات جوړ کړل شو ، چې خان شهيد داسې مفلوج کړل سي چې له دې تاريخي موقعې يوځل بيا د پښتون په حق کې کار وانخلي - او د غلط او ناوړه الزاماتو په خوپ او دوړو کې د خان شهيد او د بلوڅ مشرتابه او عبدالولي خان ترمياڼځ د پښتون پر مستقبل اثر اچونکې تاريخي سياسي کښالې حقائق پټ کړل سي - لکه چې عبدالولي خان ته د لاهور له ليک څخه چې هم څرګندېږي ، د جنوري سنه ۱۹۷۰ع په دريمه هفته کې د کوټې نيشنل عوامي پارټۍ په کوټه کې د جلسه عام فيصله کړې وه ، خو يو څو ورځې وروسته څني پښتنو له دې جلسې د لاتعلقی اظهار وکړ - او داې تش د عبدالصمد خان اڅکزی جلسه وبلله - پردې د محمود علي قصوری پر نوم د خان شهيد ليک داسې رڼا اچوي ؛

## دَ محمود علی قصوری پر نوم دَ خان شهید لیک ۹،

۲۰-۳-۱ محترم قصوری صاحب -

السلام علیکم - ستا دَ ۲۰-۲-۱۹ لیک را ورسېدۀ - ستاسو دَ خواخوږی مننه - ما ته افسوس دی چې نه معلوم چې څله زما دومره اوږده لیک تا ته دا واضح نه کړای سو چې "عدم تعاون" زما له خوا نه دی، بلکه له بلې خوا بې دَ څه وجې پیل دو - چې ماز غمله - آخر پر ۱۶ جنوری چې دَ پارټۍ او دَ هغې دَ ورکنګ کمېټۍ دَ غړی په توګه مثل کېدلو میاست لا سېرۀ نه وه، ما دَ کمېټۍ په اجلاس کی تجویز وړاندی کړ چې دا افواه دَ چې په پارټۍ کې څنې غړو له ما (عبدالصمد) سرۀ څه اختلافات دی - که دا سې دې نو هغه دې دا وخت کمېټۍ ته وړاندې کړل سی - او که نه دی نو دَ اخبارونو په ذریعه دې دَ دې افواڅو تردید وسی.

له لږ بحث مباحثې وروسته په متفقه دا پرېکړه وسوه، چې دَ دې افواوو دې تردید وسی - او دَ دې ویل سی، چې په پارټۍ کې هیڅ اختلاف نسته - دا جلسه د عبدالصادق کاسی نائب صدر په صدارت کې وسوه. هاشم خان او حیات الله موجود وو - البته مری صاحب غیر حاضر وو.

تر ۱۸ جنوری ټهیک وو، خو په دغه ماښام دَ مری صاحب پر رارسېدلو

پوځ غړی له هغه سره لیدلو ته تللی وو - او پر ۲۰ ، جنوری سهار په
مقامی اخبارونو کی د ۸ ، اصحابو هغه بیان راووت چې د مشموله اخبار
قاصد ۲۲ ، جنوری په ګڼه کې پر لومړی مخ راغلی دی - ظاهر ده چې
له دې بیان وروسته زما دپاره دوې لارې خلاصې وې - یا دا چې له ګوند
او د هغه له عملی کارونو عملاً لاس واخلم او کښېنم - خصوصاً په داسې
وخت کې چې د پارټۍ ممبر سازی پیل کېدونکې ده - ممبر سازی کی قصداً
ناوختی کړل سوې وه - او تر هغه وخته نه کاپۍ چهاپ سوې وې نه ډیشل
سوې وې - او یوازې یوه میاشتی پاته وه - یا بیا د پارټۍ په ورکنګ
کمېټۍ له اکثریت څه علاج وغواړم - ما دا دوهمه لار ونیوله - او د
۵ ، غړو له خوا سیکرټری سیکرټری ته نوټس ورکولو سره د میټنګ د راغوښتلو
مطالبه وکړه (پر تفصیلات مشتمل د اخبارونو کټنګ دراستوم) میټنګ وسو
او اکثریت زما ملګری سو - (قرار داد د اخبارات له کټنګ څه وګوری)
اوس دا حالت دی چې د پارټۍ ۱۳ ، د هاشم خان په قول ۱۱ غړي له ما
سره دی - او یوازې ۵ ، غړو زما بائیکاټ کړی دی - په دې چې د
بائیکاټ له ۸ ، غړو څه دوه غړي له څو میاشتو د کوټې ډویژن
پارټۍ پرېښې ده او په خود ساخته (بلوچستان نیشنل عوامی پارټۍ) کښې

چې مرکزی دفتر یې په کلات ډویژن کې په مستونګ کې
ګڼه سوي دی - د ورکنګ کمېټې غړی دی.
دی - دا نه بلکه هلته هم
دا دی حقیقت د هغو خلکو چا ته چې تاسو "موجوده پارټۍ"
وایاست - ولي خان او د هغه ځای خواخوږی د ویلو با وجود نه
راغله - او نه غالباً ژر راتلونکی دی ...........

عبدالصمد اڅکزی

(۴۵) او په دې ډول تر اپریل او جولائی سنه ۱۹۷۰ع پورې خان شهید
د پښتنو د لوصوبې د جوړولو او د دې د پاره د ګوند او اولس
پردې لار کارکولو له هلوځلو څخه وغورزول سو. او په نورو
کښالو اړم کړل سو.

په اپریل سنه ۱۹۷۰ع کی یې له کوټې (جنوبي پښتونخوا) سره
د کلات خاوره (بلوڅی) ګډه کړه او یوځل بیا یې پښتنانه د غلط او ګمراه کن
نوم بلوچستان لاندې راوستل - او مشرقي پښتونخوا (شمال مغربي سرحدي
صوبه) ته یې هغه د انګریز نوم ورکړ.

(۴۶) په دې حالاتو کی او بیا بالخصوص د پښتون خاورې په
بلوچستان کی لاندې کېدلو او په دې کی د بلوڅ مشرتابه، د ځیني پښتنو

شرتابه او د نیشنل عوامي پارټۍ د برخې په دې حالاتو کې د خان شهید
وخپل منزل ته بیا د نوې تیارۍ او تنظیم سوال پیدا سو. خو له
دې هرڅه سره ده غوښت چې په پارټۍ کې د ننه کار وکړي. خو
اوس بیا داکوششونه پیل کړل سو، چې دی له ګوند څه داسې
ویستل سي، چې د کامي اولسي کار څه وغورزول سي. هغه پښتنو چا
چې په جنوري کې په ګوند کې د پښتون صوبې د پاره کار ته پرېښینه
نه وو، هغوله لومړي جولائي ورو سته ناري او شور جوړ کړ چې له
پښتنانه سره په ګوند کې بد کېږي. او په جولای سنه ۱۹۷۰ع کې په کوټه
کې په 'هنه'، کې د پښتنو غونډه را وغوښتل سوه. په دې کې
خان شهید هم ګډون وکړ. پر دې زور واچول سو، چې جلا ګوند
دې جوړ کړل سي، چې جلا ئې پروګرام، نوم او بیرغ وي. د خان شهید
دریځ دا وو، چې نوی ګوند نه جوړ وو، په هم دې کې به جدوجهد
کوؤ. او که جلا کار کوؤ، نو بیا ځکه چې نورو د ګوند له منشور و
پروګرام څه انحراف کړی دی، نو به خپله هم د دغه ګوند، نوم
منشور، پروګرام او بیرغ دفاع کوؤ، یوا ځې له نیشنل عوامي پارټۍ
(بهاشاني)، نیشنل عوامي پارټۍ (ولی خان) څه د تمیز د پاره به

یو څه ځانګړی نښان ورسره ولګوؤ، چې دَ پښتون قام پر مسئله

زمونږ دَ دریځ څرګند وی وی ـ د ډیرې بحث و مباحثې وروسته

دا پریکړه وسوه، چې نوم به پښتونخوا نیشنل عوامی پارټۍ وی، خو

بیرغ به بدل وی ـ نو دا ؤو چې خان شهید د ډیرو هلو ځلو په

نتیجه کې نیشنل عوامی پارټۍ وساتله ـ او د پښتون کام دیووالی او

خپلواکی مقاصد و څرګند وی تاریخی پښتونخوا توریه ئې وورسره زیاته

کړ ـ خان شهید دا لوم دَ خپل ډیر خوانده او پر پښتونخوا او پښتون

اولس مین ملګری مولانا عبید الله کاکړ دَ بوستان پر تجویز خوښ کړ

خان شهید دګوند مشر وټاکل سو ـ

(۴۷) دا ؤو چې دَ سنه ۱۹۸۷ء وروسته یوځل بیا دَ لور نیمګړ تیاؤ

علاوه په بنیادی ټوګه دَ لورو قومولو تحریکونو او ګوندونو سره

مدغم کیدلو په سبب دَ پښتون کامی تحریک او ګوند ولو خپل منزل

تت کړ ـ لار ئې خطا او ورکه کړه ـ او د تاریخي پریکړو پر وخت

ئې کړاوؤنه او غورزې پرزې دلورو په کښته ورغلي او پخپله له

تاریخی ماتې سره مخامخ سو ـ

(۴۸) د پښتونخوا نیشنل عوامی پارټۍ له جوړیدو سره سم خان شهید

او ملکرو له لوی سره سیاسی او تنظیمی کار پیل کړ۔ کوند د دسمبر ۱۹۷۰ء سنه د مرکزی او صوبائی انتخاباتو کې مرحله واخیستله۔ خان شهید د مرکزی اسمبلۍ پر سیټ نور ټول مقابل امیدوارانو ته ماته ورکړه، یواځې د جمعیت العلماء اسلام کوند نمائنده تری وګټله۔ هغه هم څه پر سیاسی بنیاد ونه ګټله۔ خو خان شهید په صوبائی اسمبلۍ کښې وګټله۔

(۳۹) په ۱۹۷۱ء سنه کې چې جنرل یحیٰی خان او پنجابی او مهاجر استعماری نوح د آئین ساز اسمبلۍ د اجلاس د راغونښتلو څه انکار وکړ، پر شیخ مجیب الرحمٰن، عوامی لیګ او د بنګال پر اولس ئې برید وکړ۔ او په دې بحران کې بنګله دیش جوړ سو، نو په ۱۹۷۲ء سنه کې د بلوچستان صوبائی اسمبلۍ لومړی اجلاس راو غونښتل سو۔ چې خان شهید ئې صدارت وکړ۔ په دې اسمبلۍ کې د نیشنل عوامی پارټۍ (ولی خان) او جمعیت العلماء اسلام یو پارلیمانی اتحاد جوړ سو۔ او د سردار عطاء الله مینګل په مشرۍ کې ئې حکومت جوړ سو۔ خان شهید په حزب اختلاف کې کښیناست او د کامی او جمهوری مسئلو په هکله ئې په جمهوری طریقو خپل دریځ وړاندې کاوه۔

(۵۰) په فروري سنه ۱۹۷۳ء کې وزیراعظم ذوالفقار علي بهټو پر بلوچ
کاني تحریک الزام ولګاوه چې هغوی د بغاوت پلان تیار کړی وو ، او
عطاء الله مینګل حکومت ئې ختم کړ او پر حکومت الزام تلونکي اکبر خان
بګټي ر د بلوچستان او سنیه وزیراعلی) ئې د سلطاني ګواهي په انعام کې د صوبې
ګورنر کړ - په مشرقي پښتونخوا (صوبه سرحد) کې د مولانا مفتي محمود په مشرۍ
کې د نیشنل عوامي پارټۍ او جمعیت حکومت احتجاجاً استعفی ورکړه - د
پیپلز پارټۍ او نیشنل عوامي پارټۍ ترمیانځ د جګړې حالات را پیدا سو.
خان شهید د حالاتو له خرابېدلو څخه د بچ کولو دپاره ، د نیشنل
عوامي پارټۍ له مشرانو سره ولیدل او تجویز ئې ورکړ ، چې د نیشنل عوامي
پارټۍ ، پښتونخوا نیشنل عوامي پارټۍ ، جمعیت العلماء او نور آزاد غړو
حکومت دې جوړ کړل سي ، چې حالات له خرابېدلو څخه را وګرځوي - خو
هغوی ذادَ نه منله - په دې دوران کې پر نیشنل عوامي پارټۍ بندیز
ولګېده - مشران ئې ونیول سو - په دې حالاتو کې د خان شهید پر له
پسې داکوشش وو ، چې حالات دې له خرابېدلو څخه وساتي - په دې
لړ کې یو اهم مرکزي میټنګ پر ۶ ، دسمبر سنه ۱۹۷۳ء په اسلام آباد کې
کېدونکی وو - چې په کې خان شهید هم ګډون کاوه - خو تر دې د مخه

تسلط‌گرانو، دهغوایجنټانو او اولس دښمن قوتونو په سازش پر ۲ر دسمبر ۱۹۷۳ع سهار پر ۴ بجې پر خان شهید باندې د وله بمان هغه وخت دغورزول، کوم وخت چې دی په کوټه کې پر شارع جمال الدین افغانی .... باندې په خپله کوټه کې ویده وو، او شهید ئې کړی. - وروسته پر ۴ر دسمبر په عنایت الله کاریز ګلستان کې په داسی حالاتو کې خاوروته وسپارل سو، چې دجنوبي پښتونخوا د تاریخ تر اوسه تر ټولو لویه جنازه ورکړل سوه -

(۵۱) په دې مقاله کې دخان شهید عبدالصمد خان اڅکزی د ژوند دهغوی د فکر، او په هغه رڼاکې دهغوی د محکوم افغان وطن یعنې محکوم او نیم محکوم پښتونخوا وطن د ملی خپلواکۍ، اولس واک او د مترقی ټولنې جوړولو او د آزاد افغان خاورې یعنې آزاد افغانستان دخپلواکۍ دفاع او ترقی په لار کې د فرنګی او بیا د پنجابی امپریلسټ استعمارګرانو او په وطن کې د هغوی د ګمارلو ارتجاعی طبقو قدرت د ماتولو دپاره دپښتون اولس د ملی غورزنګ د انجمن وطن، وروړپښتون، نیشنل عوامی پارټی او بیا پښتونخوا نیشنل عوامی پارټۍ ګوندونو جوړولو او په دې لار کې غورزو پرزو یوه لنډه شانته خاکه وړاندې سوه -

په دې لار کې هڅوکه د اردو او پښتو اخبار استقلال ، د
پښتو میاشتنۍ پښتو چې کمال خان شیراني یې مدیر او ډاکټر خدای داد
یې مرستیال دو ، د اردو او وره ورځنۍ پیغام جدید چې عبدالصمد
درانۍ یې مدیر وو ، او دَ پښتو میاشتنۍ گلستان د بند او لوړ مشکلاتو
باوجود په کلولو وچلولې . هڅوکه د لوړو ژبو ډېر کتابو لولو پښتو ژباړنه
کړې ده ، چې په هڅوکې د شیخ سعدي گلستان له فارسي په پښتو ، دَ مولانا
ابوالکلام آزاد ترجمان القرآن له اردو په پښتو ، او ډاکسن کارتر.....
دَ (FUTURE OF FREEDOM) له انگریزي څه په اردو کې دَ آزادۍ
کې افق ، تر نوم لاندې ډېر اهم دی . له دې سره یې د خپل ژوند د لومړۍ
نیمې دلو برخې حالات «زما ژوند» په نوم په پښتو کې لیکلي دي . د پښتو
ژبې د ودې په هکله یې د «پښتو لیک دود» یو پاڼ کې لیکلې دکه ، چې دَ
پښتو لیک دود سمولو دپاره یې ډېر ارزښتناک او د غور وړ وړاندیځ
کړې دکه . د خان شهید د دې علمي ، تحقیقي ، ادبي او صحافتي کارونو دا
هره برخه دَ لروبر افغان د ودې په لار کې ځانگړې ارزښت لري . او دا
هره برخه د ارزیابۍ دپاره یو جلا سیمینار غواړي .

 د خانِ شهید د فکر ، د قربانۍ څه ډک غوڅو پرڅو او

ټاکونو څه زمونږ د تاریخ یوه تاریخي او اهم نتیجه دا راوزي چې د پنجابي استعماري دولت او په هغه کې راغونډو سوی نړېدوال امپریلسټ ځواکونو او د هغوی د ګمارلي پښتون جاګیردار، کمپرادور، لوړ بیوروکراټي او ټولي ارتجاع د واک ماتولو او د محکوم افغان یعنی د محکوم جنوبي پښتونخوا، مشرقي پښتونخوا د لیو والي او خپلواک پښتونستان د جوړولو، هلته د انقلابي، جمهوري او وطنپال پښتون اولس واک ادبیاد سیاله او مترقي ټولنې جوړولو او د منځني پښتونخوا د آزاد پښتون قبائل) د قانوني او عملي خپلواکی ساتلو ستر اهمیت ........

ستر اهمیت ئې دادئ چې بېرون نه دي اولس یو خپلواک او د بلوچ، سندهي او پنجابي ملتونو له ګوندونو څه یو جلا ملي ګوند کې راغونډول، یعني یو داسې جلا او خپلواک ګوند جوړول د بریالیتوب د پاره ترهر څه لومړی شرط اوقدم دی.

یوازې او یوازې دا ګوند ــ د متحد او اولس واکه پښتونستان ستراتیژیک هدف لرونکي طبقو او قوتونو ګوند ــ د وطنپال، جمهوري او انقلابي پښتون اولس دا ګوند ــ هغه قوت دی چې دې ستراتیژیک منزل ته رسېدو په لار کې خنډ بنیادي دښمن پنجابي استعماري

واک د ماتولو د پاره اولس ته لوری ښيي او په دې لار کې ئې منظم کوي۔ او ددې جوګه کوی ئې چې دا دښمن مات کړی د هغه پر ځای خپلواک پښتونستان جوړ کی، هلته اولس واکی راولی او بیا پر ځ تللې د سیالی ټولنه او کام جوړ کړی۔ او د پنجابي استعماری دولت له یرغلونو د مخنیوی پښتونخوا دفاع وکی۔

(۵۳) او اوس چې د آزاد افغان یعنی افغانستان اولس د افغانستان د خلک ډیموکراټیک ګوند په لارښوونه په ۱۹۷۸ ع کې ثور انقلاب راووست۔ او د افغانستان د ترقۍ او ودې سره سره د محکوم افغان د خپلواک صباؤن او اولس واک امکانات پیدا سو۔ نو په پنجابي استعماری دولت کې راغونډ سوی نړیوال امپریلزم د فرنګی استعمارګرانو د تجربو په رڼا کې د انقلابي افغانستان د آزادۍ، ملی حاکمیت، خاوري تمامیت او ثور انقلاب دښمن رجعتی قوتونو څخه د کټې اخیستلو په ذریعه د ۱۸۳۸ ع، ۱۸۷۸ ع او ۱۸۲۹ ع په څیر یو داسې کرغېړن کام اخیستلو هیله وکړه، چې پر انقلابي افغانستان د انګریز د ډیورنډ تپلې توره لیکه چې هغه په خپله په ۱۹۴۷ ع کې د آزادۍ هند ایکټ ۱۹۴۷ ع لاندې پخپله هم ختم کړی وه، یوځل بیا او تر دې چې پر انقلابي افغانستان

لاینحلې استعماري واک وتپې ـ او په دې سپېره لار کې ئې افغانستان
ته هغه انساني، اقتصادي او کلتوري تاوانونه ورسول، چې په سلګونو
کتابونو کې دابیان دا تولید لائی لني او نه قلم د دې بیان توان لري ـ

داحقیقت چې د محکوم افغان د اولس د آزادۍ ملي غورځنګ
داتوان ونلرله، چې د انقلابي افغانستان پر څنګ د یو مؤثر، منظم او
توانا قوت په توګه ودرېږي، چې یو خوا د انقلابي افغانستان دفاع
وکړي او بل خوا محکوم افغان ته نجات ورکړي ـ یو ځل بیا دا ثابتوي
چې د پښتونخوا په ډول داځل هم د دې یوا ځنی سبب د محکومې پښتونخوا د
انقلابي، جمهوري او وطنپال پښتون اولس له نورو ملتونو څخه جلا او
خپلواک ملي ګوند نیستي ده ـ آخرکار زمونږ د تاریخ د دې پړله پسې
سبق په رڼا کې او د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي پر قدم د محکومې
پښتونخوا دوو ګوندونو پښتونخوا نیشنل عوامي پارټۍ او پښتونخوا مزدور
کسان پارټۍ په لومړي ځل پر ۲۶، اکتوبر سنه ۱۹۸۶ع په پښاور کې د
دواړو ګوندونو پښتونخوا ملي عوامي اتحاد جوړ کړ او بیا ئې پر ۲۹، او
۳۰، مارچ سنه ۱۹۸۹ع په کوټه کې په تاسیسي کانګرس کې دا اتحاد په پښتونخوا
ملي عوامي پارټۍ بدل کړ ـ چې د لومړي ځل د پاره ئې دا لار پرانستله،

چې دَ محکوم او عملاً نیم محکوم پښتونخوا ټول انقلابي ، جمهوري او وطنپال پښتون
اولس به داسې راغونډ او منظم کړي ، او ددې جوګه به ئې کي ، چې
پنجابي استعماري دولت ، په هغه کې راغونډ سوي امپریلزم او دهغو
کمارلي دَ لر وبر افغان ارتجاعي قوتونو ته به هغه ګزار ورکړي ، چې
یو خوا به د انقلابي افغانستان دَ آزادي ، ملي حاکمیت ، خاورې تمامیت
ثور انقلاب او ملي روغې جوړې دفاع به په ډېره میړانه وکړي ،
او بل خوا به محکوم افغان یعنی محکومه جنوبي پښتونخوا او مشرقي
پښتونخوا سره یو کړي ، او خپلواک پښتونستان به جوړ کړي ، او دَ پنجابي
استعماري دولت دَ یرغلونو په خلاف دَ منځنۍ پښتونخوا ( آزاد پښتون
قبائل - منځنۍ افغان) دَ قانوني او عملي خپلواکۍ دفاع وکړي کومه خاوره
چې د انګریز دَ وتلو پر وخت انګریز لا دَ آزادي هند ایکټ سنه ۱۹۴۷ع لاندې
خپلواکه کړې وه ، خو اوس پنجابي استعماري دولت په زور عملاً داسې
بالادستی پر راوستلې ده ، چې عملاً ئې نیم محکوم حالت کې اچولې ده.

عبدالرحیم

د ډپټي چیرمین پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ

کابل - ۲۰ ، مارچ سنه ۱۹۹۰ع

# "خان شهید عبدالصمد خان اڅکزئ ژوند او کار"

ل دے سرخط لاندے د آزاد او انقلابي دولت افغانستان له خوا یو سیمینار جوړ کړے شو. چه پکښے د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ مشرانو او د محکومے پښتونخوا بعضے دوست دانشورانو نه علاوه د سنده ولایت دانشوران به هم ګډون کوي. تاریخ خو نو لسم د مارچ سنه ۱۹۹۰ء مقرر وو. خو دے نه یو څو ورځے وړاندے د هغه ځائے وزیر دفاع شهنواز تڼي د ګلبدین حکمت یار او پاکستاني آئي ایس. آئي په سازش د نجیب الله د انقلابي حکومت خلاف ځائینا نه کودیتا اوکړه چه په څلورویشت ساعته کښے د ننه ناکام کړے شوه. تڼي پاکستان ته سره د ملګرو را وتښتیدلو. دے سره زمونږ کابل ته تګ کښے ځنډ راغے او څه د ټکټونو او د جهازونو د نه راتلو په وجه مونږ ایسار شو په کراچۍ کښے او انتظار باسو. مونږ چونکه د دے نه وړاندے د پارټۍ د تنظیمونو او اولس ته دخپلی پروګرام رسولو په لړ کښے تقریبًا د یوے نیمے میاشت نه مسلسل په دوره وو. او د کراچۍ نه پس مو د مشرقي پښتونخوا په اکثرو ضلعو او علاقو

کښې جلسې استقبالیۀ او غونډې اوکړې۔ لهٰذا د دې سیمینار د پاره نه څه تیاری اوشوه۔ او نه مو د خان شهید د ژوند او جدوجهد باره کښې څه تیر لیکونه او حوالې په وخت پیدا کړې۔ البته د دې لس دولس ورځو د انتظار په دوران کښې موږ څه نه څه کار اوکړې شو او ما عبدالرحیم مزدوخیل او اصغر لالا د مردان خپلې خپلې مقالې تیارې کړې۔ او اوس کابل ته د رسیدو په انتظار ناست یو۔

شیر علی باچا۔ جنرل سیکرټری

پښتونخوا ملی عوامی پارټی

۱۴ – ۳ – ۱۹۹۰

کراچي بولټن مارکیټ۔

---

او بیا مونږ په نولسم تاریخ کابل ته د دیلي په لار را ورسیدو۔ خو زمونږ رسیدو په یو ورځ وړاندې سیمینار شروع شوې وو۔ مونږ په دویمه ورځ یکښې په نیمه کښې شرکت اوکړو۔

## ① ګونګی قوم

که دا اوئیلے شی چه پښتون قوم یو ګونګے قوم پاتے دے نو
بے ځایه به نه وی - دد ے قوم تاریخ اګرچه د خونړو معرکو او انقلابی
واقعاتو نه ډک دے او د یو ښه او اعلیٰ تهذیب رد ے ئے هم ا ښه
دی - دخپل تاریخ په بهیر کښے ئے ډیر سپیځلے قهرمانان ، بهادر جرنیلان
نامتو سیاستمداران ، ستر دیفامران او ممتاز شخصیتونه زیږولے دی چه
دهیڅانه په سیالئ او لیاقت کښے کم نه وو - او زمونږ د ډیر فخر، ویاړ
او غرور سبب ګرځی - خو د هغوئ د ژوند حالات ، کار او مبارزے
دلیک په شکل کښے ډیر کم خوندی ساتلے شوی دی او ننن مونږ د
هغوئ د لوم ، تاریخ ساز کارنامو ، تجربو او اوصافو نه محروم پاتے

یو ـ ددے د لورو دجوړتونه سربیره یوه غټه وجه دا ښکاری
چه قدرت یوه داسے هوټه اوکړه چه د افغانانو وطن ئے په یوداسے
چوک او چارسو باندے واقع کړوچه د شاؤ خوا د هر یرغلګر تیریدنه
به بے ددے چوک د تیریدنے نه ګرانه وه چنانچه د دوئ پدے
چوک د تیریدنے او قبضے کولو ارادے او د افغانانو له خوا د دوئ
د مخ نیوی او مزاحمت کولو عمل د دوئ د تاریخ ، وطن او ټولنے لورئ
او تقدیر او ټاکل ـ ددے کشمکش نتیجه دا شوه چه افغانان د تورے،
ننګ پت او میړانے خاوندان او د لیک لوست او قلمکارئ د فن نه محروم
پاتے شو ـ یعنی توره ئے تیره او قلمونه ئے پس شو ـ په مقابله کښے
نور قامونه د لیک لوست خاوندان اوګرځیدل خپل تاریخ ئے پرله پسے
محفوظ اوساته او دلته په پاکستان کښے خو پنجابیان او هندوستانی
مهاجر لیکوال د خپلو قلمونو په زور فرضی او بناوټی قهرمانان ځان
له پیدا کوی د هغوئ د معمولی معمولی کارنامو ډمامے په ډیر زور
شور سره غږوی او په افغانانو ، سندیانو او بلوڅو باندے ئے
د پاسه د مسلط کولو کوششونه کوی ـ او د دوئ نه خپل تاریخ،
ادیبان او شاعران نه یوازے پټوی ـ بلکه د ډاکوانو ، لوټمارانو

او جاهلانو په نوموئلو يې بلې.

(۲) = د افغان وطن، قام او ټولنيز ژوند باره کښې معلومات را غونډول او هغې له کتابي شکل ورکول د بيروني حمله کونکو يو ضرورت دی. او د خپلو استعماري مقاصدو د حاصلو د پاره يې هغه کار کوم چه مونږ له پکار وو سره د بدنيتۍ سرته په څه نه څه شکل کښې رسولے دے. نن زمونږ موجوده ليکوال او دانش وران يا خو پد غه زړو حوالو شخوند وهي او که ناره پرے کوي او يا يې دا ډيره عجيبه ټوقه راغلې ده چه د انقلاب او بين الاقواميت په نامه د نورو ملکونو د واقعاتو گوشوارے مرتب کوي او د هغوي د مشرانو شجره نسب معلوموي خو د خپل وطن د جدا جدا برخو يعنې محکوم، نيم محکوم او آزاد حيثيت او هغې نه ورپيښو مسئلو او مشکلاتو د پيژندنے د دے د لارو کوڅو، غرونو درياونو، ځنگلونو، اولسونو او قبيلو نه ځان نا خبره ساتي. حالانکه د محکوم او پسمانده ملکونو او قومونو وطن دوست دانشوران او پوهان د ځان پيژندنے او د حاکم او استعماري دولتونو حاميان دانشوران د بل د پيژندنے زيات فکر کوي.

(۳) = بيا هم نن په افغان وطن کښې ډير د ليک خاوندان پيدا شوے

دی چه ملی احساس یې زیات دے او دخپل قوم او اولس د شاندار ماضی د تاریخ ورک او نیمګړی باټلو لټولو کښې بوخت دی او د خپل تاریخ مات ګډه تسلسل په یو نه ماتیدونکی تسلسل کښې بدلوی۔

(۴) = په محکومه پښتونخوا کښې چه کوم زور آور ملی تحریکونه، طبقاتی تحریکونه او کسان تحریکونه چلیدلے دی نو څه هم تراوسه زیات په تیرو کښې پټ دی او چا یې په یو سائینسی توګه نه تاریخ مرتب کړے دے او نه یې تجزیه شوے ده - پدے لړ کښې هم زیات کارد لیکوالو نه علاوه د دغې تحریکونو نامتو سالارانو په ډیرو نامساعده حالاتو او طوفانی فضا کښې سرته رسولے دے - باچا خان د اولسی رابطے، جلسو جلوسونو، ھلے ځلو او د جیل د کړاوونو باوجود خپل ژوند لیک " زما ژوند او جدوجهد " په نامه کتاب جوړ کړو چه د محکومے مشرقی پښتونخوا د حالاتو نه علاوه د هند د سیاسی حالاتو او د پښتنو د قومی آزادی غوښتونکی نهضت په ډیرو اړخونو باندے یې رڼرا غورځولے ده۔

(۵) = د محکومی پښتونخوا د جنوبی برخ یو بل قهرمان خان شهید عبدالصمد خان اڅکزئ چه د انګریز او پنجابی استعمار چیانو په عدالتونو کښې ورته قریباً دیرش کاله سزا اوروله شویده او دوویشت کاله

تاریخي سرایې د دوی په مختلفو حیلو نو کښې تیره کړې وه خپل "ژوند

لیک" او نور ډیر کتابونه لیکلي دي چه ځنې چاپ شوي او ځنې لا د چاپ نه پاتې دي.

د جنوبي پښتونخوا د هغه وخت د ټولنې ساخت، نفسیات، ثقافت، سیاست

او د انګریز سامراج او د هغه د پیدا کړې سردارګۍ او خانۍ د نظام په

ظلم، جبر او ناروا قوانینو باندې په تفصیل سره بحث شوې دې او

ددې برخلاف د اولس او دده د سیاسي جماعت د مبارزې، مرام

او پالیسو څرګنده ونه شوې ده - دا ددې کتابونه او تحریرونه د

جیل د تورو تنبو شاته او په ډیرو نامساعده حالاتو کښې د لیکلو

حوصله صرف د هغه برخه ګرځیدې شي - او هغه له دیو او چت

ملي سالار نه علاوه دیو اوچت پښتون ادیب مقام ورکولي شي -

(٦) نن چه د آزاد او انقلابي افغانستان دولت او دانشورانو دا

سیمینار جوړ کړې دې - مقصد نه یوازې دې ملي سالار ته د پیژندګلوۍ

وړاندې کولو بلکه په حقیقت کښې د محکوم افغان اولس د تیرو مبارزو

د تاریخ ځنې برخې لټولو، د هغې تجزیه کولو، اولس ددې نه خبرولو

او په اصل هغه موجوده نسل ته دیو ورونې مثال په توګه د وړاندې

کولو بلکه راتلونکي نسل د پاره د خوندي ساتلو معنی ورکوي - دا بیله

خبره ده چه پدے لړ کښے هم زمونږ دے ملی قهرمان زمونږ کار ډیر

آسان کړے دے او دا زیات کارونه یئے د بخکښ نه په تحریر کښے

د راوستلو په ذریعه موږ ته رارسولی او محفوظ ساتلے دی۔ اومونږ

یئے د مننے او احسان د بار لاندے راوستے یو۔

## (۷) قومی جوړښت۔

(۱) د افغان قوم په جوړښت کښے ډیرو عناصرو کار کړے دے۔

د خپل پنځه زره کلن تاریخ له مخے دا د بنیادمو یو داسے ټولګے جوړ دے چه

بنیادی توګه مستحکم، تاکلے او تاریخی جوړښت لری او دا هله کیدائے

شو چه دوئ د لوے اوږدے مودے د پاره په یوه مشترکه خاوره چه د قدرتی

دلښتونو نه ډکه ده، د آمونیولے تر اباسین، شریک ژوند او منظم

اړیکے لرلے دی او په بدل کښے یئے اقتصادی تړون، شریکه ژبه پښتو،

پښتونولی، کلتوری یو والے، ملی شناخت او ذهنی ساخت را منځ ته کړے

دے۔ مذهب د دوئ د کلتوری یووالی یوه برخه ده او د کلتور لوړو

برخو مره اخلے ده۔ پښتون قوم د اسلام نه وړاندے هم وجود لاره۔

(۸) د افغانانو ترمینځه د اتحاد د جذبے او احساس د قوی کیدو

سبب د بیرونی یرغلګرو په خلاف د دوئ د اوږد د مزاحمت او چلے

ته‌ ازادئ‌ او خپلواکئ‌ ساتل دي چا چه‌ د دوئ وطن د تاراج کولو او د

افغان اولس د لوټلو دپاره‌ پر له‌ پسې پخپلو ډالونو پټرې وهلې وو۔ د

مغلو خلاف د بایزید روښان او د هغه‌ د ځامنو اوږدے مبارزے

د اتحاد دا جذبه‌ زیاته‌ کړه‌۔ خوشحال خان خټک د جنګی مبارزے نه

سیوا د افغانانو د متحد کید و دپاره‌ پخپلو نظمونو کښے ډیرے نارے

وهلے دی۔ ملک احمد خان، ملک ګجو خان، شیخ ملی او میرویس نیکه‌ په

بیلو بیلو افغان سیمو کښے د خپلواک او آزادے واکمنۍ ردے کیښودے،

او په‌ آخر کښے احمد خان دا حمد شاه‌ درانی په‌ شکل کښے راڅرګند شو۔

او د "ټولو پښتنو متحد اوسئ" په‌ نعره‌ یئے د آمو او آباسین ترمینځه‌

یو خپلواک افغان ریاست تشکیل کړو

(۹)= سامراج، جنګونه

د انګریز سامراج په‌ افغانستان د حملے کولو نه‌ لږ وړاندے د

جمرود (خیبر ایجنسئ) په‌ جنګ کښے افغانانو د سکهانو یو ظالم جرنیل هری سنګه‌

نلوه‌ قتل کړے وو (۳۰ م اپریل سنه‌۱۸۳۶ء) او د خپلو ... نیولو شوو علاقو د

بیرته‌ اغستے دپاره‌ هڅوئ د سکهانو په‌ مورچو ډزے کولے۔

(۱۰)= د افغانستان د کورنۍ پیښو نه‌ د فائدے اخستلو دپاره‌ په

شمله کښې د درې ړلو یوه معاهده وشوه ـ او په ۱۳م دسمبر کال سنه ۱۸۳۸ء کښې د شملې معاهدې لاندې د فیروزپور (پنجاب) د چاونړۍ نه د انګریزانو او سکهانو ګډ لښکر په دې غرض افغانستان ته روان شو چه د امیر دوست محمّد خان په ځائې وطن فروش شاه شجاع په تخت کینوی، د انګریزانو فوځ د سنده او کوټې په لاره قندهار ته لاړ او وروستوئې د کابل په تخت شاه شجاع کینولو کښې کامیابي بیا مونده او هغه د معاهدې لاندې د پېښور، مردان او نورې علاقې و سکهانو ته حواله کړې. خو افغانانو ملي پاڅون اوکړو او د غه د دښمن فوځ ئې ټول تښتولو ته اړ کړو. په دوئم انګریز افغان جنګ کښې انګریزانو خیبر ایجنسي، کرم ایجنسي جنوبي او شمالي وزیرستان او د مهمند ایجنسۍ ځنې برخې اونیولې. سیوئې پشین، کوټه او وروستوئې چترال او ملاکنډ ایجنسي اونیوه ـ په کال سنه ۱۸۹۳ء کښې ئې د ډیورنډ لائن په نامه یوه توره کرښه کش او د پښتنې قبیلو ویش ئې اوکړو ـ په کال سنه ۱۹۰۱ء کښې چه د صوبه سرحد په نامه صوبه جوړه شوه نو د پښتنو خاوره یو وارې بیا د انتظامي حدودو په ذریعه وویشلې شوه ـ او په زرګونو مربع میله خاوره ئې په بلوچستان ورګډه کړه ـ د دې سره د پښتنو قومي یووالي ته نور تاوان اورسولې شو.

(۱۱) بدلون

انګریزی سامراج د خپل ایمپائر (سلطنت) د مضبوطولو استعماری

لوټ ساتلو او د دے د پاره په پښتون ټولنه کښے د ننه ټولنیز بنیاد

جوړولو په غرض حکومه پښتونخوا کښے د خانئ او فیوډالئ نظام

منځ ته راوستو۔ دوئ د پښتنو قبائلو د شریکے ځمکے او د بزګرانو په

ځمکو د خانانو قبضے په قائمولو کښے ډیر لاس اوکړو او په ډیر ارت

مټ ئے هغوئ ته جاګیرونه اوبخښل چه ډیر زر د هغوی په ذاتی

ملکیت کښے ورغلل۔ انګریزانو خپلو د غه ایجنټانو ته د خان، نواب

خان بهادر او رئیس خطابونه بے دریغه ورکړل او طاقت او اختیارات

ئے ورله بے حسابه زیاته کړل۔ د غے وطن فروش طبقے په بزګرانو

خپل وطن تنور کړو۔ د بیدخلئ کولو او د اجاره برخو قلنګولو او

نور ظالمانه ټیکسونو اخستلو په ذریعه ئے مفلسان کړل او د غلامئ

بیګار اجرتی او جبری مشقت ژوند ئے ورپه غاړه کړو۔ په کلو او

بانډو کښے دهقانانو او د پیټی مزدوران بے کچه زیات شو چه د سیاسی

معاشی او سماجی حقوقونه محروم وو۔

(۱۲) د دولت مند سوداګرو او مراعتګانو دیلو تشریح اوکړه

سره پښتنې ټولنه کښې بل درز راپیدا شو چه اول بېړے په بیرونی تجارت
کښې د دلالۍ کارکوؤ او بیا چه کلیوالے او مقامی منډئ مضبوطے شوے نو
دوئ د سے او غر او د کلو او ښارونو تر مینځه په تجارت بالذئ حاوی شو.
د کسب ګرو او دستکارانو د انګریزی مال او پیداوار سره په مقابله کښې
دیوالیه او واته او دوئ په مزدورانو کښې بدل شو۔ ورو ستو خانانو او سوداګرو
هم خپله سرمایه په صنعتی کاروبار کښې لګول شورو کړه۔
په حکومه پښتونخوا کښې او په خصوصی توګه په مشرقی حکومه
پښتونخوا کښې د نولسے صدئ په سر کښې د دانشورانو قشر راپیدا شو۔ دا
د خانانو، سوداګرو او مالدارانو ځامن وو چه په لاهور پنجاب۔ علی ګړه
او پیښور انګریزی سکولونو کښې ئے تعلیمونه اوکړه او بیا ئے په دفترونو
او انتظامی ځانګو کښې نوکری اونیوے یا استاذان، ډاکټران او وکیلان
شو۔ سر بیره پدے چه بعضے کسانو د لندن او غربی ملکونو په یونیورسټو
کښې تعلیم حاصل کړو۔ دا تعلیم که هرڅو انګریز د خپلو مفادا تو
د ساتلو دپاره ورکاؤ۔ خو په بدل کښې ئے د پښتو په ټولنه اثرات
او غورزول۔ د دوی په نظریاتو کښې بدلون راغے۔ او دا سے
نوے نوے خیالات رامینځ ته شو۔ چه زاړو او توهماتی ښکرونو

د هغې مقابله نه شو کولے ۔ د فیوډالی نظام او د هغې سره د تړلے ادارو

اصلاح پیدا سے طریقو کوك چه نوے اړیکو یعنی د سرمایه دارئیے

اړیکو سره په سمون کښے راشی او د هغې په لاره کښے خنډونو ته خاتمه

ورکړی ۔ د جمال الدین افغانی او د غه رنګ د نور مذہبی فرقو د

منځ ته راتللو او سرګرمویو خاص مقصد داوو ۔ البته د ټکوے پښتونخوا

حالات او تو لنیز اړیکے وروستو پاتے وے ۔ او جاګیرداری نظام

دومره محکم او مضبوط نه وو که څه هم د سردارئ خپل د جبراولوټ

دود دستور موجود وو ۔

(۱۴) پدے دور کښے د صحافت بنیاد قائم شو ۔ پښتو اخبارونه چاپ

کیدل او ادب کښے نوے رجحانات پیدا شوو ۔ ادبی انجمنونه او

روښ خیالی خوره شوه ۔ پښتو ژبے سره او په هغې کښے چاپ شوے

تیصو او اولسی سندرو سره دلچسپی زیاته شوه چه اکثر به ترجمه

شوے وے ۔ د ګرائمر، لغت او نصابی کتابونو چاپ کیدل شورو

شو ۔ د پښتون قومی استحکام په وجه غیر پښتانهٔ اقلیتی ګروپونه او

لسانی ډلے په دے کښے جذب کیدل زیات شو ۔ او د پښتون قام ملی

شعور زیات را بیدار شو ۔ د انګریز د غلامئ نه د خپل قوم او اولس

د خلاصولو او آزادۍ او خپلواکۍ ګټلو جذبې راپورته کیدو سره
سم د پښتون ملي آزادۍ بخښونکي تحریک ته زمینه مساعده شوه. چې
د اکتوبر ستر انقلاب پدې نوره اغیزه واچوله.

(۱۵) = افغانانو د انګریزانو اقتدار په محکوم افغان خاوره باندې
دیوې ورځ دپاره نه دې منلې. او په ښکاره یا په پټه او کله تیزاو
کله ورو خو خپلې انګریز ضد مبارزې ته یې دوام ورکړې دې. خو
د انګریز د جدید وسلې، فوځ او تربیت، د پنجابي فوځ د کومک او
د وطن فروشو خانانو، ملیانو او پیرانو د لاسه به کله کامیاب او
کله ناکام وې. بل طرفته پدې مبارزو کښې به د ډسپلن کموالې
او انفرادیت پسندي وه، ښکري جنګونه به کیدل او یو منظم پیلې او
ګټونې با شعوره سیاسي ګوند او رهبري به موجود نه وه. چې
د وطن وحدت او آزادي راولي او انګریز او د هغه نال ګړي وطن
فروشان او نوابان دې له مینځه یوسي.

## (۱۶) = ممتاز شخصیت

د حالاتو داغوښتنه وه چې یو ممتاز شخصیت دې مینځ
ته راشي. دا به څوک یې دا یوه اتفاقي خبره وه. ځکه چې یو عظیم

انسان هغه وخت منبع ته راځي کله چه د هغه ضرورت وي - او په یو خاص حالاتو کښې د یو خاص سړي راتلل یوه اتفاقي خبره وي - که یو نه وي بل به وي او که بل نه وي بل به وي، خو لیوانسان به مخ ته خامخوا راځي - بلکه د اموسم د اسې موزون ئي چه د یو په ځائے ډیر کسان هم پیدا کیدا ئے شي - البته د معروضي ضرورت سره سره د ده خپل کردار، ذاتي خوبئ او ذهني صلاحیتونه هم د اسې پکار دي - چه خپله ټوله ذهني او جسماني توانائي د ټولنې د ودے دپاره وقف ساتي. او د ودے دپاره چه د کومو څیزونو ضرورت او د دے ضرورت دپاره څه پکار وي هغه په نظر کښې اونیسي - دا کار د ے په یوازے سر او د اولس د مرستے نه بغیر تکمیل ته نشي رسولے - یوازے اولس تاریخ جوړه وي او ټول مادي او روحاني دولتونه پیدا کولے شي - چنانچه د محکوم پښتونخوا د تاریخي ضرورتونو سره سم په مشرقي محکومه پښتونخوا کښې باچاخان او صنوبر حسین مومند او په جنوبي محکومه پښتونخوا کښې دا ممتاز شخصیت خان شهید عبدالصمد خان اڅکزئ وو چه قدرت د دے کار دپاره اوټاکل -

## (۱۷) ژوند

خان شهید عبدالصمد خان اچکزئ د جولائي په میاشت په کال سنه ۱۹۰۷ء کښې عنایت الله کاریز گلستان کوئټه په یو علمی او دینی کورنۍ کښې سترګې او غړولے۔ دے په اصل اچکزئ۔ حمید زئ جلیزئ او د برخوردار خان د کاله دے چا چه د احمد شاه بابا په مشرئ کښې د پانی پت په میدان دیوے دستے کمان کوو او مرېتو ته ئې سخته ماتے ورکړے وه۔

د خان شهید پلار یو لوستے او دیندار سړے وو۔ او په تازی فارسی او پښتو ښه پوهیدو۔ اول ئې د تنګدستئ ژوند کاوه۔ بیا دومره ګذاره ئې روانه وه چه دوه وخته ډوډئ به پیدا کیده۔ ژوند هم ساده وو او بد و خرڅولو، نشو او تماشو او میلو ټیلو څخه بچ وو۔ خپله زمینداری بیے کوله هلکانو ته به ئې سبقونه ښودل او د کلی روغ جوړے بیے کولے۔ د ده پلار ډیر امانت ګر، میلمه دوست او غریب دوست وو۔

(۱۸) خان شهید ډیر تیز ذهن لاره۔ یاد داشت ئې حیران کوونکی وو۔ ابتدائي تعلیم ئې په کور او مسجد کښې حاصلولو۔ شپږ او وو کالو

کښې ئې د پارسی تازی کتابونه ټول خلاص کړل او د امام غزالی کتابونه ئې په ډیر شوق او لوستل - خو د استاد هیڅ بده خبره بیځ نه منله - د لسوکالو په عمر کښې ئې چه پلار وفات شو نو ځان ئې یتیم محسوس کړ و خو د پښتو ژبې سره د مینې او لوستلو خواهش ئې لا زیات شو - د ګلستان په مډل سکول کښې ئې داخله واغسته او په آزموینه کښې اول نمبر راغی -

(۱۹) = د خان شهید د ژوند مرام په دغه ورځو کښې " د کابل د باچا سلامتی وه او د تر کانو آزادی بیا د اسلام آبادی ګڼله " خو د افغانستان د آزادئ جنګ سنه ۱۹۱۹ع د هغه په ذهن ډیر برید اوکړو - په جنوبی پښتونخوا کښې پښتنو د انګریز خلاف هم پاڅون اوکړه - او په انګریزی فوځ ئې چپاوونه اوکړل د فورټ سنډیمن (ژوب) ښار ئې اونیو - او وه ورځ د پښتنو باچاهی خپله وه - او بیا په شا شو -

" د دے جوش او جذبے (ښود) په شا کښې څه قامی ترون یا جذبه نه وه - ځان ځانی کار وو نو خبرے څه پوخ رنګ نه شو اغستے پښتو به جنګ ښه په میړانه اوکړو، او په جنګ کښې به ئې ګټه هم اوکړله، خو خپله ګټه به ئې ټینګولے نه شوه - او په پائې کښې ترنه بیرته لوټ مار او ډاکه ځینې جوړه شوه خو زما باور دے که جنګ څه اوږد شوے

وے لو دے ځائے کار د انګریز د لاسه ووت۔ د دے قامی جوشه سره سره هم د خپلے ناخبرتیا، حرص، غولی هیلے او د پیسو د بے ځایه مینے له مخے چه تل ئے د پښتو نوم ګټے تر دے چه جوړ ے باچهه په خاورو لړلے دی۔ داځل هم د انګریز ټول مخبران پښتانه وو۔ او په لږو پیسو بیے" هغه کړیو چه به کړائے نشو خناس"! او دیو قومی جنګ نه دومره ځینی تللے وو چه د جنګ نه پس بیئے هم خپل پد غه بے ننګه دیاړ کاؤ۔ ،، انګریز لږ لږ تنخواوے او خلعتونه بیئے اخستل یا بیئے ځوښت او ډیل بیئے مونږ د سرکار خسمانے کړے دی"

(۲۰) خان شهید چه ښوونځی له تللۓ نو" دَ نړۍ د ژوند په یو خوا هم نه رسیده او دَ خپل خواوشانه ناخبره او نابلده وو" سخت صندی او په زور خبره نه منل، په سیالی خوښ او ناسیالۓ ناخوښه، په زړه او ځان زغم تیرونکے، په نازو نعمت پالله، میلمه دوست، او د فضول خبرو کولو او دَ مروجه بدو کارو څخه ډېره کوونکے وو۔ د امام غزالی د تعلیماتو دَ اثر لاندې چه علم دَ عمل د پاره دے ډیرو ورانو نو شو لکه دَ دروغو، بیزاری، دَ بد وئیلو، پوچو خبرو دَ نشو او لوږو بدیالو اوګناهونو څخه کرکه۔ په اول کښے نفل، ذکرو اذکار

او درمهاوی ئې کولے خو بیا پوهه نشو ........... چه دَ
نیکی ژوند لاېل څه شے وی۔ دَ خدائے پاک کتاب ئې هم هغه وخت داسے
لوست لکه چه خپله دهٔ ته رالیبزل شوے وی۔ او تر آخره ئې هم دا
شان لوستلو او دَ جیل ډیر کړاو نه ئې په ځان آسان کړل۔ دے
دُعا به خان صاحب ته ډیر خوند ورکولو۔

نن م خولے له دهٔ راغلے دَ وړوکی زړګی ځله۔

خدایه دلے ژوندون راکړے لکه وی چه شمع بله۔

او هم دغه دَ هغه دَ ژوند ارمان وو چه دغه مراد پوره کړی۔

(۲۱) دَ خان شهید په نزد دَ یومشر یا ویان جوړیدو دپاره پاک
ژوند داشانی په کار دے۔ لکه دَ هندارے دَ پاره پاکی یا رنها ځکه
چه دده په خیال سړے که څه وینا کوی نو خلک یو وه بل ته
سترګی وهی چه ګوره وائی څه او کوی څه ؟ دا دوه شیان که دَ
هغه مخ له نه وے ورغلے دے هرڅه چه وو، خو دا به نه وے
چه نن دے۔

(۲۲) خان شهید وعدهٔ پوره کول، یو دینی فرض او د سړیتوب
نخښه بلله۔ دسړی دَ ژوندهٔ دَ وعدے پوره کول که وزی نو

دَ سړي ژوند بيا دَ سړي نه پاتې کيږي د ځناور به وي ، او وعده دَ بل سره نه بلکه دَ ځان سره هم کښل پکار دي . خدائے سره وعده هم ځان سره وعده وکښل دي ځکه چه په ژوند کښې يو کار نيولي يائيے يوه لار خوښه کړے ده بيائيے هيره کمه پريښودے يا بدله کړے ده - چپ له هغه وخته چه خپله ئيے په تاوان پوه شوے دے . يا بل پر پوه کړے دے . کنې نو دچا دَ ويرے دچا د شرمه دچا دَ هيلے يا دَ ځان د آساني د پاره خوئيے کرد سره نه ده بدله کړے -

۵ نه مي ځان کله خرڅ کړي دي په خدائے -
په جنت نه په سره سپين پس چا بدلائے -

(۲۳) = خان شهيد داپخه وعده کړے وه چه د انګريز نوکري به نه کوي - څه د " همدرد " اخبار د کتو اثر وو او څه د خپلے کورنئ د انګريز دښمنئ او ديندارئ وجه وه چه د غهتو غهتو نوکرو د دعوتونو باوجود د هغه خپے او نه خوئيدے - خپله وعده ئيے ټينګه اوساتله. او قامي کار ته ئيے ټينګه ملا او تړله - په قام کښې د نسه جګړے سوا ودل او په روغه جوړه خبره خلاصول ، دچا په کار کښې کار نه لرل ، د

مقدمه بازئ نه لرے لرے تبنتیدل، سکولونه پرانستل او هلکان سکول ته لیږل دَ هغوی نور تعلیم ته ځنګ کول او هغوی ته وظیفې مقررول د نورو ځوانانو په مرسته بېئ دا ټول کارونه سرته رسولو۔

(۲۴) = په ځوانئ کښې خان شهید د ښکار هم ډیر شوقی وو او خپلو خپلوانو او دوستانو سره به ښکار باندے واتۀ ۔ د دے نتیجه دا شوه چه صحت ئے ډیر ښه وه خواری کښ شو ۔ په یخ ګرم لوږه تنده، ستړیا او مزل بېئ هیڅ باک نه وو ۔ د تمام اولس او د وطن د غریبو سره اشنا شو۔ دهغوی پت، پښتو، میلمستیا او غریبۍ نه ئے واقفیت اوموند۔ او دا د دیار کارلس کاله پس په سنه ۱۹۲۰ع کښ هغه وخت پاتے شو کله چه هغه په قامی کاربیل اوکړو هغه هم د زغم او ټینګار او عدم تشدد په وسله چه پوهشو نو خپلے ټولے وسلے ئے ګذار کړے ۔

(۲۵) = د جنوبي ځکوے پښتونخوا ټولنه کښې طبقاتي درزونه ډیر کم وو ځکه چه آبي ځمکه کمه ده او للمے ډیرے دی بیا هم دا سے خانان یکښې وو چه د دوو سوو ایکړونه ئے زیاته ځمکه لرله ۔ دکاشت قابله ځمکه باندے باغونه وو ۔ باغوان ۔ مزارعین او لغړخلک هم وو او دا ټولنه د مختلف قسم توپيرونو لکه د پیریانو، پیرانو ۔ او نه نه کرلو وغیره کښې ګیره

وه ـ خو د انګرېز سرکار او د هغه د سردارانو په سخته ولقه کښې وه خان شهيد چه د ښوونځي څخه راوته نو لا پدے نه پوهيدو چه هيواد څه وی؟ سرکار څه وی؟ خو ډېر ژر ورته د دفترونو، رشوتونو، سفارشونو، دکار او مقدمے ځنډونو او نورو خرابو دا اوښودله چه سرکار څه ته وائي او غلامی څه معنی لری دا ټول څيزونه ده ته د يو پاسپورټ جوړولو په لړ کښې او بيا د نورے څيړنے نه په ډاګه شول. او بل خواته د غازی امان الله خان وطن دوستۍ، باچا خان او مترقی اصلاحاتو او بيا د هغه خلاف سازشونو او د هغې په نتيجه کښې د هغه مهاجرت د خان شهيد په ذهن ډېر اثرات واچول او د پښتنو په بدنظمۍ او په وخت يو کار نه کولو ډېر خفګان واغست ـ خو تر دغه وخته نه هغه کوم ګوند کښې کار کړے وو او نه ئې د بل چا قامی ډله يا تنظيم ليدلے وو ځکه سوچ ئې واهه چه د پښتنو دا بده ورځ به څنګه او کله بدليږی؟ او دا سندره ئې ډېره خوښه وه چه :ـ

خدايه هغه ورځ به هم وی ــ چه زمونږ جهاز خپل وی ـ

(۲۶) ــ دغه وخت د جنوبی پښتونخوا ټولنيز رغونږ څه دا سے وه چه د انګرېز د راتګ سره لوئے ملکيتونه مقدمه بازی او طبقات منځ ته

راغلي وو تعليم يافته خلکان را پيدا شو او سوداګرانو ترقي اوکړه دلته
به اردو او انګريزي ژبې چالو کړې افغانستان او ايران سره ئې د دوئ
اړيکې کمزورې کړې هندوان او سندهيان سوداګر راغلل چه ځينې
مسلمانان او ځينې هندوان وو. نوکرئ هم هغوی واخستې د هند او
پنجاب نه وږي خلک هم په روزګار پسې را خواره شول د ليويز نوکرئ
سنډيمن را ويستلې او د جنوبي پښتونخوا سرداران ئې پکښې ګير کړل. سودي
کاروبار هم روان شو او خلک به ود پسې ورک وو. وږي لس بلا وی ؟
لرې لرې وطنونو له به تله خوئيندې مېنډې به تر پاتې وې او څه
لږې ډيرې پيسې بيئ څه موده پس راوړلې. آبادي پنځه لکهه وه خو
په رقبه کښې ډيره لويه وه او آبادي ئې خوره وره وه. په شلو تحصيلونو
کښې يوازې درې په برطانوي هند کښې شامل وو نورې علاقې قبائيلي
وې کوموته چه به "خاص علاقې" وئيلې. انتظاميه بيخي مطلق العنانه
وه او د انګريز د تورو قوانينو (ايف سي آر) او د هغه د جوړې کړې
جرګو، سردارانو او خانانو ملکانو تسلط پرې خور وو. هائي کورټ او
سپريم کورټ پرې باندې هيڅ اختيار نه درلود. دا ليوه داسې
د ظلم او استبداد قلا وه چه د بهر نه راتلونکي خلق پکښې په آسانه نه شو

داخليدے او د هر سړي نه به د نوم پته او د راتلو سبب معلوموے
شو- په سياسي کسانو پاندے دلته د داخليدلو سخته پابندي وه.
او د ننه چاځه جمهوري سياسي حق نه استعمالولے شو او نه چاد خاپا
جامے ر دکانګريس نخښه) اغوستے شوے او نه خامتا جامه اغوستونکي ته
د داخليدو اجازت وو پريس او اخبار نه وو او دا علاقه په هر
لحاظ قصداً پسمانده ساتلے کيده-

(٢٧) په داسے حالاتو کښے خان شهيد او نورو ځوانانو د دے
ظلم د قلارولو، اولس او قام د دے نه بهر ته راايستلو دپاره سوچ
واهه- د ډير فکر نه پس هغوي آخر پد دے نتيجه اورسيدل چه يو
داسے جماعت د دے جوړکړي چه د هغے نوعيت ديني او مجلسي وي ځکه چه
بل شکل يد غه حالاتو کښے د دے نه شو نيوے- د يو مضبوط دښمن خلاف
په وړومبۍ مرحله او د يو قدم په توګه دا ممکن او درست لار وه.
بل هر قدم به انتها پسندي ښکاريده- او د دے جماعت د جد وجهد لار
به هم د عدم تشدد وه ځکه چه دښمن مضبوط وي او خلق اوده او
کمزورے وي او چه دراندے د تشدد د لاسه د نقصان رسيدلو تجربه
هم وي د عدم تشدد په لار به راتګ کول وي او د تشدد د استعمال نه

په ۹۹۵ کوی ۔ خان شهید که هر څو د دے لار په راتلونکی وخت کښے
کمزورکئ هم بنودلے دی خو پخپله تر آخری وخته پورے ټینګ پاتے
شوے وو چه پخپله د دښمنانو د تشدد ښکار شو ۔

## (۲۸) ګاندهی او باچاخان سره لیدل ۔

خان شهید په کال ۱۹۲۹ء کښے لاهور ته لاړو ۔ او هلته ئے
د کانګریس ، خلافت ، نوجوان بهارت سبها ، او کیه تی کسان غونډے
اولیدلے ۔ د ډیرو قامی مشرانو سره ئے ملاقات اوشو ۔ خو د صنوبر حسین
مومند او سیف الدین کچلو وینا وے ئے زیاتے خوښے شوے ۔ ولے په
وطن کښے دا کارونه هغه ته په نظر نه راتلل زیات نه زیات دینی
غونډے به کیدے خو مقررین به نه وو ۔ د پښتونخوا مشرانو د سره
نه وو او د قامی مشرانو په ځائے د انګریز ملکان دربا ندے ولاړ وو ۔
چه ټول خوشامندګر وو ۔ پدے حالاتو کښے خان شهید په اول ځل
سیاسی میدان ته د یو دینی مصلح په شکل راوته ۔ او د خپل وینا ابتدا
ئے د مسجد نه اوکړه خو سرکار پدے هم بد اوګڼړل او هغه ئے ګرفتار
کړو او دوستوئے بیا سزا ورکړه ۔ د رهائی نه پس په کال ۱۹۳۱ء کښے
خان شهید بمبئی ته د کانګریس د مشرانو او په خصوصی توګه د ګاندهی جی

چه ګول میز کانفرنس ته روان وو د لیدلو او هغوی د بلوچستان د حالاتو نه د خبرولو په غرض لاړو - بیخلس ورځې ئې د ګاندهي جي سره تیرې کړې - د ګاندهي جي ساده ژوند، خبرو او عملي سرګرمو په خان شهید سخته اغیزه اوکړه - او د عدم تشدد او زغم په فلسفه ئې اعتقاد نور هم مضبوط شو - او دا وعده ئې هم د ځان سره اوکړه چه هغه به تل پدې لار روان وي او بله دا چه خامتا او د هغې جوړې جامې ور باندې هیڅرې بنې او ګیدې او دا ئې د سامراج پر خلاف د جنګ یو نښان اوګاڼه -

(٢٩) اوهم دغلته د مشرقي پښتونخوا د ملي قهرمان باچاخان سره د دوئ اولنۍ ملاقات اوشو - خان شهید ددې اولنۍ ملاقات ذکر دا سې کوي " یوه ورځ ګاندهي او بللم وې صبا له باچاخان صاحب په ریل کښې راځي ته به ورځې - سټیشن ته لاړم - باچاخان - امیر محمد خان لالا - میاں احمد شاه د خدائي خدمتګارانو له خوا راغلل - دلته ما باچاخان په لومړي ځل اولیده - احمدشاه میاں بل ځائې هوټل ته لاړو او باچاخان او خان لالا د ګاندهي جي ځائې له راغلل - دلته باچاخان ذما په کمره کښې دیره شو او خان لالا هوټل ته لاړو - په ورپسې ورځ

ردو کښې زه د باچاخان نه ډیر تنګ شوم ځکه چه دے زمانه ډیر

مشرود او مابه د کشرانو په توګه د دوئ خمانه او څه ور وکئ کارونه

کول غوښتل خو دوئ به زه دے ته نه پریښودم او لا بیئ زما خمانه

کول غوښتل کله چائے را جوړے کړے او کله څه بل څه ۔ زه به پدے

ډیر تږمیدم خو په پائے کښ زه ډیر کلک شوم نو سره بلد او خوازه شو۔

ورورسته بیا ډیر سره نږدے او خوازه ملګری شو ۔ ما ئے ډیرے بنے ګړے

او ډیرپوه ولیده ُ "۔ "خو د دوئ په ژوند کښے کومے خبرے ډیر

برید په ما اوکړو هغه داوه چه د بمبئ نه څو میاشتے پس باچاخان یو

غونډے له روان وو ۔ زه په لاهور کښے ووم تهیس ته ورغلم ۔ ډیر

کانګرس مشران او ورکران د دوئ نه چاپیره شول ۔ زه پخپله یوے

ډډے ته بنه لرے غلے او دریدم خو په هغه کښه کښے هم دوئ زه

اولیدم ماله راغے او راته غاړه وت د دے ور ے خبرے نه ما د

دوئ په زړه کښے د پښتون او د پښتنو د مینے اندازه اولګوله

(۳۰) " باچاخان نه سیوا بمبئ له د کانګرس د ډلے پښتانه هم

راغلے وو ۔ پیر بخش خان وکیل ۔ حکیم عبدالجلیل ۔ لال بادشاه ۔ علی ګل خان

دوئ ګاندهی جی له د باچاخان او د هغوی د ډلے نالښت را وړے وو۔

چه داد مسلمانانو جدا ډله ده او دوئ له په کانګرس کښې ځائے نه
دی ورکول پکار ـ دوئ ځان ته خدائي خدمتګاران وائي ـ دالله اکبر
نعرے وهی ـــــــ هم دلته ګاندهی جی او د هغوی ملګرو د باچاخان
سره پدے هکله خبرے اوکړے چه هغوی دے خپله ډله، جرګه او
د رضاکارو تنظیم یو ځ په کانګرس کښې (مدغم) کړی نو بندوبست
او تنظیم به آسان شی ـ هغوی او منل او دستی ئے د اخبارو دپاره
یو بیان لااسلیک کړو ـ دغه وخت میاں احمدشاه بیرسټر نه وو ـ
ما باچاخان ته اووئے چه هغوی هم راوبولے خو هغوی اووے چه داځه لوئے
خبره نه ده مونږ پدے هکله خبرے کړے دی د هغوی به هم خوښه
وی دوئ به ئے بد نه ګڼی ـ خوصباله د میاں احمدشاه بیا بیل
بیان چاپ شو چه زه دانه شم منلے او د بمبئی نه واپس لاړو او هغه وو
چه د خپلے ډلے تخته بیل شو او لابیل دے ؟"

(۳۱) = په سرخ پوش تحریک کښې د اختلافاتو متعلق خبره باچاخان
پخپل کتاب " زما ژوند او جدوجهد" کښې هم کړے دے او وائي "چه میاں
احمدشاه دا خبره اوکړه چه زما په هندوانو باور نیشته ـ ځے نه بے
صباله را سره دوګه اوکړی نو بیا به مونږ څه کولے نه شو نو مونږ له

اجازت راکړه چه مونږ یو بل جماعت جوړ کړو چه حساب له زمونږ لاس د هندوانو برخلاف آزاد وی.» ما جواب ورکړو چه زه منافق نه یم زه د دے اجازه درکولے نشم - ولے چه دا څیز د خپل قوم د پاره مفید نه ګنړم، یا تے د هندوانو دوکه شوه ـــــ ستا دا خیال درست نه دے چه ګنی مونږ کانګریس سره یو ځائے شو نو مونږ ورپورے اوتړلے شو او هندوان چه هرڅه کوی مونږ به خپل لاس خوږ ولے نه شو ـــــ چه کله کانګرس مونږ سره دوکه اوکړه نو هغه وخت به کانګرس پریږدو - ته به مخکښے ئے مونږ به درپسے یو خو ته کم ازکم د هغے پوړے وار خواوکړه ـ»

باچاخان مخکښ لیکی چه «بله ورځ ما اولیدل چه عبدالاکبر خان او احمد شاه زما برخلاف یوه لویه پرېړه چاپ کړیوه پکښ ئے لیکلے وو چه «مونږ لکه د مصرو په شان په اولو کښے او به شو او زمونږ هیڅ هستی پاتے نه شوه.»

(۳۲) = د باچاخان خپل بیان د هغه په ضد او مخالفینو په حق کښے پریوت. او وروسته بیا دا ثابته هم شوه چه د باچاخان مخالفین په حقه وو. کانګرس د پښتنو سره تاریخی بے وفائی اوکړه کله چه ئے د هند دولش قانون د باچاخانه بے تپوسه او مانهٔ او پښتنانه ئے د

خپلو دښمنانو یعنې د برطانوي واکدارانو د رحم وکرم سیوری ته
پریښودل شو او د باچا خان خبره چه مونږ د لاس او پښو نه او تړلو
او لیوانو ته ئې او غورځولو۔ خو اوبه بیا د ورخه تیرې وې،
د تجربې کیدلو دا خوبي ده چه سړے هوښیار کړی خو بیا وخت
په لاس نه راځی۔

(۳۴) = دخان کورنئ د افغانستان نه راغلے وه او د هغې هیوادئې
ډیره خمانه کړے وه۔ او دا یئې ډیر ارمان وو چه بیرته افغانستان
ته لاړے خو بیائې دا اراده پریښوده۔ البته پښتنې پت او د پښتو
مینه ئې هیڅ وخت هم د زړه نه وتلے نوه۔ د افغانستان سره ئې مینه
تل ژوندے ساتلے ده۔ او هرکله چه د افغانستان د خلکو خه کار به
هغه شوے دے کړے ئې دے او چه دا کومان ئې شوے دے چه
په هلته تلو هغه د هغه ځائې د پښتنو په ښه ورتلائې شی نو تیار
شوے دے۔ د افغانستان د خپلواکئ جنګ په دئې کښې ډیر ژوندپیا
کړو۔ او د امان الله خان باچاهئ ته یې ډیر په مینه کتل او دائې
کنهل چه زمونږ د مریئتوب ورځ به هم بدلے شی، البته دلته به دا
د متهو زور غواړی د امان الله خان په مرسته کښې افغانستان ته ئې

تلل او په جنګ کښې برخه اخیستل غوښتل خو سرکار ګرفتار کړو نو

پاتې شو۔

## ګاندهي، عدم تشدد

(۳۴)

دګاندهي جي او کانګرس د عدم تشدد د لار خوښولو بنیا د او

اهمیت دا وُو۔ چه دانګریز د راتګ په وخت او څه د هغې نه وړاندے

هم په هند کښې صنعتونو او سرمایه دارۍ وجود لرلو چه انګریز دخپلو

مفادو لاندے هغې ته سخت نقصان اورسوؤ بیاهم په دے مجبور وو

چه لږغونې صنعتونه قائم کړی۔ دے سره په مزه مزه هندوستانی سوداګر

او سرمایه دار طبقه مضبوطه شوه او د انګریز استعمار سره په تضاد کښې

راغله۔ په زراعت کښې هم سرمایه داری ورو ورو داخله شوه او دکاشت

کولو زړه پدرشاہانه طریقه کمزورے شوه۔ دکانګرس جماعت دکوم مشری

چه د هندملی بورژوازی کوله له خوا د انګریز ضد قومی مبارزه په اصل

کښې دهغوی د قومی بورژوا جمهوریت دپاره مبارزه وه۔ او د دوئ نوری

مطالبه د ټول هند نه دانګریز الیستل او خپله حکمرانی قایمول وو نه چه

دسرمایه دارۍ خاتمه وه۔ کانګرس دا ټوله مبارزه دخپل طبقاتی مفادو

دساتلو او دخپلې حکمرانۍ دجوړولو تابع او ددے مطابق جاری ساتله.

جدوجهد له د عدم تشدد د رنګ ورکول هم د بورژوازی د مفاداتو د پورا کولو عین مطابق وو. د کانګرس نه د خواری کښانو او مزدورانو اقتدار خوښ وو او نه د هغوئ په انقلابی طریقه او د تشدد په ذریعه جدوجهد کولو د پاره میدان ته د راتلو مرستیال وو، ځکه چه په دے کښ دا خطره ښکاره او دا ویره موجود وه چه د هغوئ د خپلے حکمرانئ د قائمیدلو خوب هم نیمګړے پاتے کیدے شو. لو هغوی یو خواته په ډیرے پامردئ ښکاره او د زړه له کومی د غلامئ خلاف احتجاج او جدوجهد کوؤ او بل طرفته ئے د اولس نه عدم تشدد او اخلاقی خودتکمیلئ غوښتنه کوله. د انګریز سامراج د تشدد، ظلم لوټ او جبر په خلاف ئے اولس را پاروو خو ورسره ورسره بیے اولس ته د تشدد جبر او زورو خرابو د مزاحمت په تشدد نه کولو درس ورکوؤ. انقلاب ته ئے زنده باد وے خو عدم تشدد ته ئے پائینده باد هم وے. او ټول جدوجهد ئے پداسے طریقه روان ساته چه د انګریز د تلو نه پس اقتدار د هغوئ د طبقے خلکو له پلاس ورشی نه چه د خواری کښ اولس په لاس.

(۳۵) = د خان شهید هند ته تګ، هلته د کانګرس مشرانو سره لیدنه کتنه او د هغه خپلے سیاسی او قامی حلے ځلے د دے د پاره کافی وے چه د حکومت

په نظر کښې سخت خطرناک اوګرځي ـ د بلوچستان باره کښې د نوابزاده یوسف

علیخان صرف یو مضمون په اخبار کښې په چاپ کولو باندے د قلات جرګے

دهغه نه د اتلس میاشتو د بندی کیدلو نه علاوه لس زره جرمانه وصول

کړے وه ـ نو د خان شهید په تنګ راتلګ ئے سخت نظر سانه اوپولیس به

لکه د ښکار د سپو هغه پسے بوئیں واهه ـ نو پدے حالاتو کښې نه هغوی

د بلوچستان دننه تحریک شورو کولے شو او نه ئے د کانګرس د مشرانو سره

د تعلق او د مقاصدو د یو والی باوجود هغوئ سره د یو کیدلو اعلان مناسب

ګنړل ځکه چه د بلوچستان دننه اولس د یو منظم او انتهاپسند تحریک د فرلیضے

سرته د رسولو دپاره تیار نه وو ـ پدے حالاتو کے هغه او نورو

قام پرست ځوانانو د بلوچستان نه بهر د یو تحریک د بنیاد کیښودلو او

چلولو فیصله اوکړه ـ او په دسمبر ۱۹۳۲ء کښې ئے د بلوچستان د اوسیدونکو

پښتنو او بلوڅو په ګډه یو کانفرنس په جیکب آباد (سنده) کښې منعقد

کړو ـ او دا سے ئے د یو قامی تحریک ردہ کیخوده ـ د کوم مقصد چه په

بلوچستان کښې د اصلاحاتو د نفاذ دپاره جد وجهد کول وو او د نورو

علاقو د بلوڅانو او پښتنو راغونډول وو ـ د دے کانفرنس صدارت

ده ته سپارلے شوے وو او پکښې د نورو قرار دادولو نه علاوه د پښتو

ډبے د ذریعه تعلیم ذکرځولو مطالبه اوکړے شوه ـ او د ا کانفرنس د آل انډیا اینډ بلوچ کانفرنس په نوم یادشو ـ ځکه چه د دے نوم په دغه وخت بیا بدلیدے نه شوچه بیا وروستو به بدلیدهٔ ـ

(۳۶) = په کال سنه ۱۹۳۲ء کښے خان شهید په مسلم کانفرنس حیدرآباد کښے ګډون اوکړو ـ او د مجلس انتظامیه رکن جوړ شو ـ خان شهید دے باره کښے لیکی چه " د دے ډلے څه ناپیښه شان د وخت (آئین) دد ټول غړیان او صوبائی او مرکزی اسمبلئ ټول منتخب غړی به د دے خود بخود غړی وو ـ اولس کښے چا غړی نه جوړ ول دوئ به صرف د خرڅ د پاره پیسے ورکولے اوکله نه کله به پخپله هم راتلل ـ هرڅه ئے د محمد شفیع داو دی سکتر به لاس وو د کارینده جرګے مشری ئے د محمد اقبال پنجابی په لاس کښے وه ، ګومان دے چه مرزا بشیرالدین ئے هم ممبر وو ـ " لوئے لوئے مشران هم پکښے اوپیژندل او د هغوی سره به ئے د بلوچستان په هکله خبرے کولے او ځینے تجویزونه به ئے وړاندے کول او دا هغه خپله ګټه ګڼله ـ"

د حیدرآباد د کانفرنس نه په والسی خان شهید ګرفتار شو ـ نورے ګرفتاریئ هم اوشوے او یوسف علیخان ئے د قبیلے د سردارئ نه برطرفه کړو ـ د ایف سی آر د تور قانون د دفعه ۴۰ لاندے ئے د ر۳ے

کاله سزا ورکړه - خو د مسلم کانفرنس خطاب یافته مشرانو د دوئ په گرفتارئ اوبندیدو هیڅ د مرستې یا حمایت اعلان اونکړو لهذا د دوئ نه د خان شهید او د هغوی د ملګرو طمع ختمه شوه -

(۳۷) د خان شهید او د هغه د ملګرو د اوږدې مبارزې دا نتیجه راوته چه په کال سنه ۱۹۳۶ع کښې انډین پریس ایکټ په بلوچستان کښې نافذ شو - او هغه چه کله د جیل نه په د غه ورځو کښې رها شو - نو د خپل اولس د منظم کولو او بیدارولو په غرض ئې ورومبې چهاپه خانه اوګوله او یو اخبار ئې د استقلال په نامه جاری کړو چه ډیر علمی ، سیاسی او سنجیده اخبار وو البته د هنرمندانو ډیر کم وو ، دا اخبار بیا په سنه ۱۹۵۰ع کښې بند کړے شو او ایډیټر ئې گرفتار شو - او دوباره ئې د چلولو د پاره اجازت ورنکړو -

## (۳۸) انجمن وطن

خان شهید په کال سنه ۱۹۳۸ع کښې "د انجمن وطن" په نوم ورومبې سیاسی تنظیم په محکومه پښتونخوا کښې رامنځ ته کړو - د دے جماعت مرام په بلوچستان کښې د آئینی اصلاحاتو نفاذ وو - عدم تشدد او آئینی ذرائع استعمالول د دے اصول وو او خان شهید د دے صدر

وو - ډیر زر د اجماعت په اولس کښې مشهور او مقبول شو - او چه کله کال پس د انجمن وطن سالانه غونډه په کال سنه ۱۹۳۹ع کښې په کوټه کښې منعقد شو نو د حاضرینو تعداد په وړومبی نشست کښې یو زر او په آخری نشست کښې اَته زره وو - او د ملک د کټ کټ نه راغلے سیاسی مبصرینو پکښې ګډون کړے وو -

پخپل صدارتی خطبه کښې خان شهید د بلوچستان په حالاتو، د انجمن وطن په پروګرام او د جد وجهد په لاره ډیره تفصیلی وینا اوکړه - چه غټے غټے خبرے ئے داوے :-

خطبه :- ۱ = هغه وخت تیر شو چه خلکو به د وطن په مظلومئه اولستئه باندے د غم ژړا ژړله - اوس د اوسنکو بهیولو زمانه تیره شوه اوس د دے حالت په عزت، خوشحالئ او آزادئه د بدلولو سوچ پکار دے - د خپلو غمونو غم پکار دے او د ټولو نه لوئے غم غیر ملکی غلامی ده -

۲ = انجمن وطن به د دے غیر ملکی غلامئه د ختمے یو ه ذریعه ګرځول وی.

۳ = انجمن وطن د سرکار او د هغه د پیدا کړو سردارانو د کبر او غرور او استبدادی نظام نشه کمزورے کړے او په اولس کښې ئے د بیدارئه

احساس زیات کړے دے ۔

۴ = چونکه نه فوځ نه اسلحه نه دولت او نه پوره بیدار قوم ... لرو چه حفاظت پراوکړے شو نو زمونږ طریقه به دعدم تشدد وی۔

۵ = انجمن وطن به خالص دجنوبی پښتونخوا تنظیم وی۔ د دے ځائ داولس دمفادو دپاره به جد وجهد کوی ۔ د دے جماعت په لولو لولو پارټو کښے وابسته کول او یا دمذهب په خوشنما نوم اود نورو ملکونو دمسلمانانو دامداد په نوم مونږ له اشتعال کښے راتلل یا استعمالیدل نه دی پکار دابه زمونږ په دښمنانو کښے زیاتوالے راولی۔

۶ = انجمن وطن دکانګرس سره هیڅ سیاسی تړون نه لری البته دهند آزادی سره خپله آزادی تړلے ګڼی ۔

۷ = دتعلیم په مسئله او دتباه حال کسانانو او مزدورانو په بنسیکړه خاص توجه ورکول دی ۔

۸ = د وطن دننه او د وطن بهر دے "انجمن" دنسلی او جغرافیائی تعصب سره پاک او ساتلے شی ۔ او د مخالف خلکو دپاره دے رواداری مروت او انسانی همدردی را پیداکړی ۔ او هم دغه دملک دسیاسی اقتصادی او مجلسی "انقلاب" آسانه او سهل لار ده ۔

(۳۹) = په کال سنه ۱۹۳۵ء کښې په بلوچستان کښې د انګریزی افسرانو او د هغوی
د سیوری لاندې مسلمانانو د خپلو خوشامدګرو سردارانو په ذریعه د مسلم لیګ
بنیاد کیخوده چه سرپرستی ئې خان آف قلات او نورو ظالمانو خانانو کوله۔
اولس به تر ډیرې مودې دے ته سردار لیګ وئیل۔ دوئ د خان شهید
او د هغه د ملګرو سخت مخالف وو او هغوئ ته بې کله غداران او د
هندوانو ایجنټان وئیل او کله بې د افغانستان یا هندوستان ایجنټان
بلل۔ د خان قلات د مالی امداد په ذریعه د مسلمانانو اخبارونه او د
هندوستان ځنې مسلمانان خلګو به هم زمونږ په مخالفت کښې کارکوو۔ او
دوئ د حکومتی ظلم او مطلق العنانیت پاخه ملګری وو۔ او کله چه نهرو د
ریاستونو د ختمولو باره کښې ځائے په ځائے تقریرونه اوکړل نو دوئ داد
خپل مفاداتو په تاوان اوګڼل۔ د دوئ د دے رویو په وجه هیڅ جمهوری
او مترقی انسان په دے جماعت کښې او سیدل نه خوښول۔ او هم د دوئ
د دغه طرز عمل په وجه د پاکستان د تخیل باره کښې شبه نه کول او دا د
انګریز فریب نه ګڼړل یوه غیر قدرتی خبره وه۔ دلته په محکومه جنوبی
پښتونخوا کښې د هندوانو د غلبے سوال نه پیدا کیدلو بلکه د نورو صوبو
هندوانو او مسلمانانو به یوشان د مقامی مسلمانانو په تجارت، ملازمت،

او تعلیم کښې استحصال او لوټ کوو - حالانکه مقامی مسلمانانو په د مقامی غیرمسلمانانو سره مدد کوو - له دے کبله په مسلمانانو پښتنو دا باور کیدے شوچه دخپلو معاملاتو پخپله د حل کولو په لړ کښې خپل صلاحیتونه پوره په کار راولی -

## (۴۰) = کانګرس ، اِلحاق

کانګرس دکراچۍ پخپل قرار داد کښې د خودمختار لسانی صوبو یقین ورکړے وو دے سره د هندوستانی مسلمانانو د مستقبل باره کښې اُمید پیدا شوے وو - او د پنجاب او بنګال ویشل، په کشمیر کښې د ریفرنډم ضرورت او د آبادئ د تباه کن ښې هغه څیزونه وو چه په شا کیدے او اټالیدے شو - دغه وجه وه چه دخان شهید او د هغود ملګرو د پاکستان نظریه خوښه نه شوه او دخپل جماعت الحاق ئے په په کال سنه ۱۹۴۶ء کښې ددے په مخالفت کښې دکانګرس سره اوکړو چه انګریز د هندوستان په آزادئ کښې دځنډ پیدا کولو د یوے بهانے نه محروم کړی -

(۴۱) = کوچه د "انجمن وطن" الحاق دکانګرس سره ډیر وروستو اوشو - او تر دغه وخته پورے دوئ خپله مبارزه په آزادانه او پخپل سمی د انګریز خلاف جاری ساتلے وه - د "هندوستان پریزډی" په تحریک کښې

ئې زبردسته برخه واغسته او په جنګ عظیم دوئیم کښې ئې د انګریزانو د کومک کولو نه انکار اوکړو ـ هرکله چه کانګرس په هند کښې د تحریک په ډیر زور شور چلولو ـ خان شهید او د هغه سیاسی مَلګرو په ډیره میړانه اولس د انګریز په ضد مبارزه کښې برخه اخستلو ته تیار ولو او د هغې په نتیجه کښې هغه ګرفتار کړے شو ـ یوخوا په ټول هند کښې قومونه او اولسونه راویاریدل او بل خوا انګریز سامراج په جنګ کښې د کامیابئ حاصلولو باوجود دومره او ځپلے شو چه په هند ئې نور پدے شکل خپل اقتدار قائم نه شو ساتلے ـ

## (۳۲) انګریز لوے نو آبادیاتی پالیسی ـ

د دغې وجوهاتو له کبله انګریز د لوے نو آبادیاتی پالیسئ اختیارولو او د هند نه وتلو ته چمتو شو ـ او خپله جسمانی موجودګی ئې دلته نوره تاوانی او غیر ضروری اوګڼله ـ د خپلے آزموده " ډیوائیډ اینډ رول " (راووېشه او حکومت اوکه) د پالیسئ لاندے ئې د هند ولس ته حالات سم کړل د مسلم لیګ او نورو فرقه پرست جماعتونو منځ ته راتلل هم د دے زنځیر کړۍ وے او په نتیجه کښې ئې په دواړو حریفانو ډلو د هند د ولس قانون اومانه ئ ـ بهارت د هند د ملی بورژوازی په ولقه کښې ورغے او پاتے

ورتلے شوے علاقے د پاکستان په نامه د پنجابي استعمارګرو په حکمرانی کښے
ورکړے شوے - پښتانه نه چا اوپښتل او نه ئے کومه مطالبه چا اومنله۔
کانګرس غداری اوکړه او پښتانه ئے دخپلو مخالفینو په رحم وکرم پریښودل
دا هرڅه له دے کبله اوشو چه اول د پښتون قومي تحریک مشرتابه د هند
دکانګرس جماعت سره دخپل قومي سیاسي لښکر د اسے ګډون اوکړو چه خپل
آزاد حیثیت ئے بائیلود - د دے ټول قوت او قربانۍ ئے د هند په ګټه
واچوؤ او خپل تاوان ئے تمام کړے او بیا هم که د ګټے بعضے موقعے په لاس
راتلے هغه هم ضائع کړے ځکه چه د هغے نه د ګټے پورته کولو د پاره
چه د کوم قوت ضرورت وو هغې له د وړاندے نه تیاری نه وے شوے
او دوئ په ذهني توګه د عدم تشدد د فلسفے ښکار وو او دا ئے یوه
عقیده او د ګرد سیاست یوه قطعي لار ګڼلے وه - بله دا چه دځکوے پښتونخوا
خاوره دوئ د هند برخه ګرځیدلے تصور کړے وه او د دے مغالطے
لاندے ئے د ټول هند د آزادۍ سره خپله آزادی تړلے او د هغے د یو
نه بیلیدونکی جز په توګه ګڼلے وه - او د پښتونستان آزادی او د خپل
بیلرلی وطن سره یو ځائے کول ئے خپل آزاد مرام نه وو ټاکلے او خپل تقدیر
ئے د شریک هند د آزادی سره په نه بیلیدونکی توګه اوتړه او د هغے

د پاره ئې دخپل سیاسي او آزادئ عمل د واک او اختیار و اګے دکانګرس په لاس کښې ورکړے او خپله ئې ځانونه صرف بے مثاله قربانئ ورکولو ته وقف کړے ۔ ځکه خو پښتانه وائي چه "په پردی لاس مار وژل هم ښه نه دی"۔

(۴۳) = د پاکستان د جوړیدو پس د "انجمن وطن" مجلس عامله اعلان اوکړه چه مونږ د پاکستان وفادار او سیدونکی یو او ددے د پاره هرے قربانئ ته تیار یو ۔ دا اعلان شاید پدے طمعه شوے وی چه د اسلام، انصاف او مسلمانئ په طریقه به قومونو ته خپل خپل حقوق ورکړے شی ۔ خو دا اعلان د مسلم لیګ خوشامند کړو او تالی څټو دیو منافقت او خوشامند په توګه قصداً تصور کړلو ۔ او ډیر زر ئې خان شهید د پبلک سیفټی ریګولیشن (قانون امن عامه) لاندے ګرفتار کړو او تقریباً شپږ کاله پس بیا د ډیرو کړاونو او تکلیفونو په کال سنه ۱۹۵۴ع کښې رها شو ۔ او چه وطن ته راغے نو هیڅ تبدیلی ئې پکښې محسوس نکړه ۔ د انګریز قانون لاښځے چلیده ۔ د اولس ټول حقوق د افسرانو د خپو لاندے پامال وو ګورنری راج وو منتخب جرګے او ادارے نه وے ده ته دا پوره یقین اوشو چه د سردار لیګ او پاکستان باره کښې د دوئي خدشات بے ځایه

نه وو۔

(۴۴) = په سنه ۱۹۵۶ء کښې د رهائي نه پس ده او د ده ملګرو د ورور پښتون په نامه پارټي جوړه کړه او خان شهيد ئې ددے کنوينر مقرر کړو۔ چه ددے مرادونه دا وو۔

۱ = په پاکستان کښې دننه دپوره پوره پرتو علاقو د پښتنو يوه پوره خپلواکه صوبه په نوم د پښتونستان جوړ ول او پښتنو کښې وروري پيدا کول۔

۲ = دلګه د تواو پښتنو د ژوندون، دين، ژبې، ګوزران، ژواک، ګذارے، زده کړے او روزنے دودے دپاره بے څه هيلے زيار کښل۔

۳ = نورو ګاونډيانو سره په شريکو چارو کښې مشوره او مرسته کول۔

او د پښتنو دا وحدت به د عدم تشدد او آئيني ذريعو په ذريعه قائمولے شي۔ دا جماعت هم په اولس کښې ښه مقبول شو۔

(۴۵) = په جولائي سنه ۱۹۵۴ء کښې د رهائي نه پس سمدستي خان شهيد په کلي کښې نظربند شو او په هغه باندې د خلکو سره ليدلو، تحرير او

تقریر کولو پابندی اولګیده. او ورسره ورسره په دوه رسالو میاشتنۍ "پښتو" او دورځنۍ "پیغام جدید" باندې دکال دپاره بندیز اولګیده. په دې دوران کښې د ون یونټ منصوبه پیش شوه چه باچاخان په کراچۍ کښې د پښتنو له طرفه مسترد کړه. او دې کښې د ډاکټر خان صاحب مشوره هم شامله وه. په خان شهید او د هغه په رسالو پابندی لګول هم د ون یونټ دپاره د لار هوارولو لو قدم وو. د بنګال اکثریت په اقلیت کښې د بدلولو دپاره د برابرۍ اصول او ټاکلے شو خو نه یوازې داچه دا اصول د قبلیئز پاکستان په مظلوم قومونو منطق نه شو، بلکه د دوئ ماتے ګړے خودمختار صوبے ئې هم ختم کړے او د پنجاب د پوره واکمنۍ لاندې ئې راوستې او ون یونټ په مظلومو قومونو را وتپلے شو. ډاکټر خان صاحب د هغې نامزد وزیر اعلیٰ مقرر شو. په جولائی ۱۹۵۵ء د خان شهید په تګ راتګ پابندی ختم کړے شوے خو د ډیرے لږې مودې دپاره. په اکتوبر ۱۹۵۵ء کښې بیا ګرفتار شو او درې میاشتې پس رها شو. ډاکټر خان صاحب په یو پریس کانفرنس کښې په هغه داتور اولګوؤ چه ده دیو خارجی ملک او دښمنانو جنډا لګولے دے، اوسلائی ئې ورته کړے ده لهذا غدار دے او په ګولئ د ویشتو قابل دے"

(۳۶) د پښتونستان جوړول د خان شهيد د ژوند يوه ډيره اهمه برخه پاتے شويده او د دے قايمول د هغه د ژوند ارمان پاتے دے - حکومه پښتونخوا د چترال نه تر بولانه چه انګريزانو د خپل پلرنی هيواد نه بيله کړے او بيائے په بيلو بيلو انتظامی يونټونو کښے ويشلے او په غير حقيقی نومونو باندے ئے موسومه کړے په يوملی وحدت کښے راوستل او د هغه سر دوباره راغونډول او هغه له د پښتونستان نوم ورکول او هغه پوره خپلواکه کرځول د خان شهيد د ټولو هلو ځلو بنيادی نکته وه - او دا هغه عقيده وه چه د انګريز او پنجابی استعمار چيانو سزا کالو، جيلونو او مصيبتونو د هغه د ذهن نه ورکه نکړے شوه - ده په جون سنه ۱۹۴۷ء کښے په هغه جرګه کښے هم ګډون کړے وو کومه چه په بنوں کښے راغونډه شوے وه او پکښ د يو خپلواک پښتونستان مطالبه وړاندے کړے شوے وه - او د هغه پوره ايمان وو چه قومونه د خپل واک اختيار خاوندان شی نو بيا په خپله مرضا او برابرئ پر بنياد د نورو قامونو سره شريک پاتے کيدائے شی - او د غه ټولو قامونو ته ترقی، خوشحالی او امن ورېخښلی شی - د دے برعکس د قومونو ترمينځه کرکه او نفرت او بيلتون مينځ ته راځی -

## (۴۷) پښتونستان، ضرورت۔

دخان شهيد د پښتونستان ضرورت پدے دليلونو ولاړ وو۔ "چه دپښتو د ترقۍ لار تر هغه پرانستے کيدے نه شي ترڅو چه د پښتنو خپله يوه متحده او خپلواکه صوبه جوړه نه کړے شي۔ چونکه په نننۍ دنيا کښے د ترقۍ مرکز، بنياد او معيار صرف تعليم تصور کيږي او د دنيا د تعليم پوهان پدے متفق دي چه د تعليم ورکولو او حاصلولو بهترينه طريقه په مورنۍ ژبه کښے د تعليم دے۔ په هغه ژبه کښے چه ژوندے وي، او روزمره په استعمال کښے راځي په دفترونو، تجارتي مرکزونو او د عدالت او ادب په ميدان کښے رائج وي او دا تر هغه پورے ناممکن ده ترڅو چه د پښتو دپاره د پښتونستان صوبه جوړه نکړے شي۔ بلکه دا چه د ليک لوست دپاره ابتدائي تعليم هم کافي دے مګر شرط دادے چه دا په مورنۍ ژبه کښے ورکړے شي او دا مقصد هم د پښتونستان د جوړيدو نه بغير حاصليدے نه شي۔ اوکه چرے پښتونستان جوړ نه شي نو پښتانه به د هغه خلکو په مقابله کښے ډير وروستو پاتے شي چا ته چه پخپلو مورنۍ ژبو اردو يا پنجابۍ کښے تعليم ورکولے شي۔ او دا ظاهره ده چه هيڅ يو هوښيار او دانشمند پښتون دپاره ددے صورتحال قبلول به ډير ګران وي۔ د ژبے

سټے نه علاوه د پښتون خپل معاشرت، خصوصیات او د ژوند طرز دومره ضبوط او پاخه شیان دی چه د ډیر غلګرو د ډیر سختو حملو، قبضو او کمرانو باوجودئے پدے ډیر کم اثرات غورځولے دی۔ او د خپل وطن سره د پښتنو دومره مینه ده چه که هر ځائے دوئ کښے څوک مړه شی نو دوئ بیے ارومرو خپل وطن ته را رسوی او په ډیره مجبورئ به ترنه پاتے کیږی۔ او که بل ځائے پښتانه آباد هم شی نو د دوئ په ذاتی ژوند هیڅ خاص اغیزه نه کوی۔

## (۳۸) = عدالتی بیان۔

په کال سنه ۱۹۵۶ء پدے باره کښے خان شهید بخپل عدالتی بیان کښے رنړا اچوی او وائی چه پاکستانی واکداران د پښتونستان باره کښے ډیر دروغ خوروی او د خلکو ذهنو لو کښے شکوک او شبهات د پیدا کولو په لویه پیمانه کوشش نه کوی۔ چه ددے ملک پښتنو چه د پښتونستان کوم تحریک شورو کړے دے۔ ددے د افغانستان سره څه تعلق دے؟ یا د پښتونستان مطلب دا وطن د افغانستان د لاندے راوستل یا د پاکستان نه جدا د یو آزاد مملکت جوړول دی۔ ددے جواب صرف او صرف دا کیدے شی، چه په پاکستان کښے دے دا معلومه شی چه آیا پښتانه د خپل موجوده

حالت نه مطمئن دی کنه حقیقت دا دے چه پښتانه په سیاسی، معاشی، ثقافتی او تعلیمی لحاظ باندے غلامان دی۔ او د لته د خپل موجوده حالت نه مطمئن ندی۔ او نه ورله مطمئن کیدل پکار دی۔ او زر یا پس به پښتونستان جوړیږی۔ ځکه چه نن هر یو پښتون دا فکر کوی چه د پاکستان په حکومت جمهوریت او آزادئ کښے دے برابر حصه دار جوړشی۔ او د مسلمانئ او ورورئ په نام نهاد او د فریب نه ډکو لغړو باندے دے نور نه تیر وزی چه خپل وطن ئے تباه او برباد وی او دے به د ټول پاکستان د ترقئ او آبادئ کوشش به کوی۔ "ځم په هغه سیرلی چه نه م پکښے غواړی نه سځی" او که حق ورکړے شی نو بیا پښتانه ورته مائل کیدائے شی چه هغوی د افغانستان سره خپلے رښتے نظرانداز کړی پښتانه د یو حقیقی جمهوریت د فائدو او د خپل معاشرت نه څوک محروم ساتی نو بیا هغوی د افغانستان سره د ګډو تاریخی رشتو د کشش د متاثر کیدلو نه څوک بند و لے نشی"۔

## ۳۹ = خط "پښتنو باچا"

په کال سنه ۱۹۵۳ء کښے خان شهید شاه افغانستان ته په یو خط کښے دا سے مخاطب شوے وو۔ "د پښتنو باچا" دا خط او نیولے شو او سرکار

په هغه مقدمه جوړه کړه چه تا ولے د افغانستان باچا ته د پښتنو باچا وئیلے دی - پاکستان سرکار ته هغه پخپل دلیل کښے داسے اوئیل :- " چه تر کومه ځایه د ځائیے او قاموالۍ اړی دی - مونږ ټول ځان ته پښتانه وائو هر چرته چه اوسو که په کابل کښے یو که په زابل ، که په قندهار یا په پښین کښے هیڅ پښتون نه ځان ته افغان وائی نه بل څه خوښه چه دے په پښتو کائیږی - او د پښتون سره ځکه چه نور ټول قامونه مونږ په خپله ژبه په بیلو نومونو بولی - تازی خلک موسلیمانی کله چه د تخت سلیمان له ځی - اینکیان په زیاته د پنجاب راته پټان یا پټانړ وائی - انګریزان هم پدے حقله د پنجابیانو شاګردان دی - ایرانیان او پارسی بلن راته افغان یا ایغان وائی - بلوخ مو اوګان لولی - د یو - پی خلک راته روهیله - بنګالیان او دکنیان مو کابلی یا آغا بولی - څوک راته خان وائی د پښتنو چپ مونږ هم چه بله ژبه کښے کائیږو نو ځان په هغه نامه یاددو چه په ژبه کښے دود وی - او زما خط چه په پښتو وو - نو ما هلته نباغلی ظاهرشاه هیڅ کله د افغانانو باچا یا د پټانانو باچا نشو بللے اروړو به م د پښتنو باچا باله لکه چه بللے م دے ........ هودخاوری په تو که د کابل خلکو خپل د هیواد لوم افغانستان خوښ کړے دے او مونږ د خپلے

خاوره یا ولایت (صوبے) نوے نوم پښتونستان ایښے دے او غواړو چه د پاکستان نوزخلق ئے اومنی۔"

(۵۰) د پاکستان د مظلومو قومیتونو، اولس دوست او د سامراج او استعمار دښمن پارټو او خلکو له طرفه د حکومت د سامراج نواز پالیسو، د ون یونټ د قائمید لو او د جمهوری آئین نه جوړولو د سازشونو سخت مزاحمت کوؤ - او دا ضرورت محسوسیدو چه د بیلو بیلو تحریکونو چلولو په ځائے په ملکی سویه دے یو سیاسی اتحاد جوړشی - دلته دا مغالطه ډیره ده چه اتحاد یوازے په یو پاکستان گیر پارټئ کښے و راغونډیدلو ته وائی - حالانکه دا د یو متحده محاذ یا یو الائینس په یو یا څو خاص نکتو باندے د جوړولو شکل هم نیوے شی - او دا خبره صحیح هم ده ځکه چه یو څو د وړاندے نه د کانګرس سره په انضمام کښے زمونږ قومی تحریک ته نقصان اورسیدو او مونږ خپله آزادی یا مرام حاصل نکړے شو ولے چه د قومونو مفادات د یو بل سره په ډیرو خبرو په ضد دی - یا خو به د خپل وطن د بعضے برخو نه لاس په سر کیدل او د خپل اولس مفادات پریښودلو د دے غرض لاندے کیږی چه د نورو قومونو سره اتحاد راشی - او یا به د هر قوم خپله پارټی د خپل وطن د سرحدانو او اولسی مفاداتو د پوره

تحفظ د پاره جوړيږي او د نورو قومونو سره د شريکه مفاداتو د پاره لاس ورکول کيږي ـ يعنې د مظلومو قامونو خپله خپله پارټۍ او د پاکستان په سويه د دوئي يو بل سره مدد کول او يا د دے برعکس د سمجهوته بازئ سياست کول او "دريابيستونو په نظريه" باندے عمل کول ـ دے کښے کوم دريم شے ځائيدے نه شي ـ

(۵۱) — خو يو ځل بيا په کال سنه ۱۹۵۶ع کښے د شپږو پارټيو د انضمام په ذريعه پاکستان نيشنل پارټي جوړه شوه ـ چه پکښے د شمالي پښتونخوا خدائي خدمتګار تحريک د باچا خان په مشرئه کښے، د جنوبي پښتونخوا نه ورور پښتون د خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزئ په مشرئه کښے، آستمان ګل ( د بلوچستان د رياستي يونين د شهزاد عبدالکريم په مشرئه کښے، سنده هاري کميټي د حيدر بخش جتوئي په مشرئه کښے، سنده محاذ د جي ايم سيد په مشرئه کښے او آزاد پاکستان پارټي ( پنجاب ) د ميان افتخار الدين او محمود علي قصوري په مشرئ کښے ګډون اوکړو ـ

په کال سنه ۱۹۵۷ع کښے چه عوامي ليګ ( بنګال ) نه يوه ډله د مولانا عبدالحميد خان بهاشاني په مشرئه کښے بيله شوه او د هغې سره د خبرو اترو نه پس هغه هم شامله شوه او د خپل شناخت د پاره ئے پکښې د عوامي

ته شامل کړو. لږ د غے د پاکستان نیشنل عوامی پارټی جوړه کړے شوه.
د دے پارټۍ منشور او پروګرام د هغے وخت په مناسبت ډیر جمهوری ترقی
پسند او قومی وو یعنی د سامراج په ضد، استعمار په ضد، فیوډلانو
په ضد او آمریت په ضد وو. او د سیټهو او سنټو د سامراجی لوظنامو
د ختمولو په حق کښے وو. او د یو آزاد او خوشحال پاکستان او یوے
آزادے خارجه پالیسۍ طرفدار جماعت وو او غټه خبره پکښے دا وه چه
د ژبے ثقافت او په تاریخی لحاظ د لوی سر نه د صوبو تشکیل ئے غوښتل
او پدے وجه د مظلومو قومونو او مترقی خلکو حمایت ورته پارټۍ ته
حاصل وو.

(۵۲) = داجماعت ډیر زیات مقبول شو او په راتلونکی انتخاباتو کښے کامیابی
د دے یقینی ښکاریده. چه حکمرانو ډلو دا یو زبردست خطر اوګڼلو او په
۷، اکتوبر ۱۹۵۸ء باندے ئے مارشل لاء اولګوله او د اولس ټول سیاسی
او جمهوری حقوق ئے ختم کړو. خان شهید په بے بنیاده الزاماتو باندے
اونیوے شو او د مارشل لاء عدالت ورته څوارلس کاله د قید سخت سزا
واوروله. او د پاکستان ګرد جیلونه ئے پرے ګرځ کړل البته دا فائده ترنه
خان شهید پوره کړه. چه پدے دوران کښے هغه د پښتو عالم، پښتو فاضل

او بی۔اے امتحانات پاس کړل او غته خبره دا وه چه په ملتان جیل کښې ئې په کال سنه ۱۹۵۹ع کښې "خپل ژوندلیک" رقم کول شروع کړه د دے نه علاوه ئې د مولینا ابوالکلام آزاد د قرآن پاک د تفسیر د څنې سیپارو په پښتو کښې ترجمه' او د هاریسن کارټر (HORISON OF FREEDOM) دا کتاب ئې "د آزادی کے افق" په نامه په اردو کښې ترجمه کړو۔ او د غسے د یو ملی سالار علاوه د یو پخته کار ادیب په توګه خان ځرګند کړو۔

(۵۳) خان شهید د خپل تاریخی او اوږد جیل تیرولو نه پس ۲۵، اپریل سنه ۱۹۶۸ع رها شو۔ او په کوئټه کښې ئې یو زبردست اولسی استقبال اوشو او حکومت د خپلے ویرے هغه بیا ګرفتار کړو خو د اولسی قوت او مطالبو په زور ډیره موده پاتے نه شو او په ۲۴، فروری سنه ۱۹۶۹ع د مچ جیل نه رها کړے شو۔ چه دوباره ئې اولس یو شاندار استقبال اوکړو او خان شهید ورته خطاب اوکړو۔

(۵۴) ایوب خان جرنیل د خپل دور لس کاله دیو آمر په حیث تیر کړل۔ او بیا د لس کلن دور حکومت جشن جوړولو کښې مشغول وو چه د اولسی پاڅون څپے په ډیر زور دده په ضد را پورته شوے۔ دده له کبله او د اولس د نیغ په نیغه د مبارزے نه د اولس مخه د کرځولو

په خاطر د مخالف جماعتونو د اتحاد (یونائیټېډ ډیموکراټیک فرنټ U.D.F)

په کوم کښې چه نیشنل عوامي پارټي هم شامله وه او د غه وخت ئې مشري د

عبدالولي خان په لاس کښې وه سره په خبرو اترو کولو پیل او کړو - دیو

یونټ د ماتولو او د عامو انتخاباتو (نه چې د بي - ډي) په کید لو راضي شو.

خو د نیپ د پښتون مشرتابه د نیپ د خپل منشور د لساني، ثقافتي او تاریخي

بنیادو باندے د صوبو د نوي سره د جوړولو د مطالبے او اصول نه په

شا شوه او جنوبي پښتونخوا (برټش بلوچستان) ئې په بلوچستان ریاستي یونین

(قلات) ورکړه ول او د بلوچستان په نوم دیو بالکل نوئې صوبے جوړېدو نه

ئې اومانځه - دکومے وجے نه چه د ټولو پښتنو په یوے صوبے کښې د

راغونډولو هغه اعلی مقاصدو ته سخت نقصان اورسیدو د کومو د پاره

چه پښتنو بے مثاله قرباني ورکړے وے او د غه شان د خپلو د لاسه د تاریخي

موقعه مونږ بیا د لاسه ورکړه - او د جنوبي پښتونخوا خاوره او پښتون اولس

په یرغمال کښې ورکړے شو -

ګیله د خپلو خلکو کیږي —— د بېګانه نه به څوک څه ګله کوینه

(۵۵) ــ خان شهید د رهائۍ نه پس سمدستي لاهور ته لاړو کوم

ځائې چه د یو - ډي - ایف ټول مشران جمع شوے وو - او خپلو مشرانو

سره ئې پد غه لړ کښې ډیرې خبرې اوکړې خو هغوی ګله په یوه بهانه اوګله بله بهانه د هغه خبرې ردکړې او یحیٰی رعایتی تهیوبئ قائم دائم شو۔ لهذا د دوئی دیو بل سره ناچاقی راپیدا شوه۔ او خپل مرامته راسیدو دپاره ئې نورے لاره باندے دخپل سفر په آغاز سوچ کاؤ۔

(۵۶) = استعمارګر قوتونه د جرنیل ایوب خان او مخالف جماعتونو ترمینځه دے روغ جوړے په پریشانے کښې مبتلا کړل ځکه چه پدے باندے د عمل کولو په وجه دا امکان وو، چه مظلوم قومونه د دوئی د لاسه اووځی بلکه حساب کتاب ورسره هم اوکړی۔ نو هغوی دیو سازش لاندے یوه بله مارشل لاء په ټول ملک اولګوله او اقتدار یحیٰی خان ته حواله کړے شو۔ یحیٰی خان غټ کار دا اوکړو چه د یونټ د ماتیدولو او په ملک کښې د عام انتخاباتو د کولو اعلان ئې اوکړو۔ البته د یونټ د ماتولو په اعلان کښې هغه دا ونه وئیل چه زړے صوبے په زوړ شکل بحال کیږی یا د صوبو شمیر به څومره وی۔ او نه ئې د صوبو سرحدات ټاکلے وو۔ او ورسره ورسره ئې د ملک د مختلف پارټو مشرانو په انفرادی توګه د ملاقاتونو او خبرو اترو پیل اوکړو۔

(۵۷) = **یحیٰی خان** = خان شهید د یحیٰی خان دا اعلان د پښتون

قام د وحدت جوړیدلو دپاره دیوے بې موقع پیدا کیدو په توګه اظهار
کړو ـ او سمدستی ئې ددے موقع نه د استفادے اخستلو دپاره سختے
هلے ځلے شروع کړے ـ نه یوازے په سرکاری حلقو کښے ئې د پښتونو د وحدت
قایمولو خبره په هغوی دمنلو کوششونه کول او پدے کښے تر ډیره حده
کامیابی ئې هم موندے وه، بلکه د مشرقی پښتونخوا د قومی تحریک مشرانو
او ذمه دار خلکو سره ئې د ملاقاتو او خطونو او تارونو سلسله قایمه کړه
او په هغوئ ئې دا زور واچوؤ چه نه صرف خپلو کښے صلاح مشوره پدے
خبره اوکړی بلکه یحیٰی خان باندے هم زور راوړی چه د پښتنو دے
د چترال نه تر بولانه یوه متحده او خپلواکه صوبه د پښتونستان په نامه
جوړه کړی شی بلکه ددے دپاره دے اولس هم متحرک کړے شی ـ ځکه
چه که دا موقع هم خطا شی نو بیا بویه چه دوباره دا موقع کله پیدا
کیږی ـ خو هغوئ پدے خبره ځانونه نانګاره، ناجانه او بے پروا کړل ـ
او نه ئې د پښتون قومی تحریک فریضے د مشرتابه په توګه سرته اورسولے ـ
نه پدے خبره پخپلو کښے جرګه شو او نه ئې د اولس قوت لاروته راویسته
او نه ئې په یحیٰی خان او نورو جمهوری خلکو باندے زور واچوؤ ـ ددے
نتیجه دا شوه چه زړے صوبے بحال شوے او د بلوچستان په نامه په

تاریخ کښې یوه داسې صوبه هم جوړه شوه چه جنوبي پښتونخوا د پښتنو خاوره او اولس په بلوڅو او بلوچستان ورګډه کړې شو۔ او دا تاریخي موقعه د هغوئ د سمجهوته باز سیاست او رعایتي تهیورۍ په سبب ضائع کړې شوه۔ او پښتون خاوره او اولس بدستور هوتې هوتې پاتې شو خو داځل دا کار نه د انګریز د لاسه او نه د افغان وطن فروشانو امیرانو د لاسه بلکه د "خپلو" د لاسه اوشو۔ او چا چه ځان ته د پښتنو غمخواران وئیل۔

(۵۹) == د پاکستان د نیشنل عوامي پارټۍ د سر د مشرانو د پالیسو او رویو نه د جنوبي پښتونخوا په سیاسي او قومي کارکنانو کښې سخته مایوسي، بدزړي او زړه بداوې راغې او په جولائ سنه ۱۹۷۰ء کښې د (هښنې رکوټه) په مقام د خان شهید د مشرئ لاندې د پاکستان نیشنل عوامي پارټۍ د کارکنانو یو اجلاس اوشو۔ او د ډیر بحث نه پس د نیشنل عوامي پارټۍ پښتونخوا په نامه ئې پارټي جوړه کړه۔ او خان شهید د دې کنوینر مقرر شو۔ د جنوبي پښتونخوا د طالب علمانو ځانګې د دې د حمایت اعلان اوکړو او د پاکستان ګیرسیاست د ګناه کولو کفاره ئې د خپل وطن پښتونخوا پر بنیاد د یو آزاد خپلواک او خود مختار سیاسي جماعت د جوړولو په شکل کښې اداکړه۔

او د خپل وطن د سرحداتو د تحفظ او د پښتون اولس د مفاداتو د ترجمانۍ
کولو په حواله ئې خپل منشور او پروګرام اولس ته وړاندے کړل او په
پښتون قومی تحریک کښے په قومی سوال د تذبذب د پالیسۍ اختیارولو
په وجه درز راپیدا شو - هرکله چه ددے نه وړاندے په مشرقی
پښتونخوا کښے د تحریک د مشرانو په طبقاتی سوال د تذبذب د پالیسی
اختیارولو له کبله په قومی سوال کښے او لنے درز پیدا شوے وو او د
مزدور کسان پارټي پښتونخوا په نامه د هغه ځائے سیاسی کارکنانو د
افضل بنګښ او نور ملګرو په مشرئ کښے جوړه کړے وه - چه د کسانانو
د اکثریت پرګنے د هغے په شا محکم او دریدے او د خانانو او نیوډالئ
د زور ظلم او جبر کاسه ئې تر ډیره حده نسکوره کړه - او بزګرانو له
ئې ډیر سیاسی، معاشی، مجلسی او جمهوری حقوق اوګټل -

(۵۹) = د بلوچستان په نامه د نوے جوړے صوبے اولس ته په تاریخ
کښے په وړومبی ځل د بالغ رائے دهی په بنیاد د خپلو نمائیندګانو چونړ
کولو حق د خان شهید او د هغه د ملګرو د اوږد جدوجهد او قربانۍ
په سبب حاصل شو - خو هغه اولس دښمنه خلک او د پنجابی او انګریز
استعمارګرو دلالانو چاچه ټول عمر وطن فروشی کړے وه او د مطلق العنانیت

او امریت مرسته او د اولس د جمهوري حقوقو نه ئې انکار کړے وو. اولس له د فریب ورکولو په خاطر او د خپلو ګټو او حیثیت د برقرار ساتلو په غرض د ووټ او انتخاباتو میدان ته راودنګل او د "اسلام" او "ووټ یو مقدس امانت دے" په نامه ئې اولس دوکه کول او بل طرفته ئې په خان شهید او د هغه په ملګرو د کفر فتوے لګولے او د غدار د ئې خطابونه ئې ورکول او د غیبے ئې د عام مسلمان پښتون د جذباتو نه د فائدے اخستلو کوششونه کول - خان شهید باوجود د دے مخالفګرو ئې اتلس زره ووټونه واخستل خو بیا هم په مرکزی سیټ کښے ناکام اوګرځولے شو البته په صوبائي اسمبلۍ کښے هغه کامیابي بیا موندۀ او د هغه صدقت لاندے په وړو وړو ځل د بلوچستان اسمبلي په وجود کښے راغله - او دا هر څه هله ممکن شو چه پنجابي استعمارګرانو د انتخاباتو نتیجے او نه منلے او عوامي لیګ ته ئې اقتدار د حواله کولو نه انکار اوکړو چه وروستو د ملک د ماتیدلو او د "آزاد بنګله دیش د جوړیدلو سبب اوګرځیدۀ -

## ⑥⓪ شهادت

خان شهید د پښتنو د یوالي او د پښتون صوبے پښتونستان جوړولو دپاره تر آخري ساه اخستلو پورے خپل جدوجهد جاري او ساته - او چه

کله د پیپلز پارټئ مرکزی حکومت په بلوچستان کښې د نیپ ـ جے یو آئی حکومت مات کړو او د شمالی پښتونخوا حکومت هم احتجاجًا استعفیٰ ګانے ورکړے ـ نو خان شهید ددے نازک صورتحال د سنبالولو پوره کوښښ اوکړو او د بلوچستان د نیپ مرو ئے ځماس اونیوه او دا تجویزونه ئے وړاندے کړل چه د نیپ پښتونخوا، نیپ او جے یو آئی او څه نور آزاد ممبرانو باندے مشتمل حکومت دے تشکیل کړے شی ـ خو زړو ملګرو د هغه پدے تجویز غوږ اونه ګړو ـ په نیپ پابندی اولګولے شوه د هغې د سر مشران ئے اونیول او په هغوئ مقدمے جوړے کړے شوے ـ ددے صورتحال په ضد په ټول بلوچستان کښې د حکومت خلاف مزاحمت شورو شو ـ او حکومت ددے د چقولو دپاره د فوځ استعمال اوکړو او بے شمیره خلک ئے د ظلم و جبر نخښانه کړل ـ پدے حالاتو کښې خان شهید د حالاتو دسمولو په غرض ډیرے هلے ځلے کولے او هم پدے لړ کښې هغه یو اهم اجلاس کښې چه په ۲، دسمبر سنه ۱۹۷۳ع په اسلام آباد کښې کید ونکے وو په ګډون کاوُو ـ خو ددے نه وړاندے استعمارګرانو او د هغوی دلالانو او اولس دښمن طبقاتو په یو سازش دا بهادر، ننګیالے او مثالی پښتون او باعمله لاربنود په ۲، دسمبر ۷۳ ۱۹ع سحر خلور بجې په کوئټه کښې

کښې شارع جمال الدین افغانی ء باندے پخپله کمره کښې په اودو په
بمولو شهید خو دتل دپاره په تاریخ کښې ژوندے پاتے شو۔

ص

د وطن په سر ئے کیخوده ککره
سر ئے لوړ شو تر آسمانه نابره
هسے مه وایه چه مړ شو تل ژوندے دے
نه ئے یادمری، نه ئے مینه، نه خبره۔

---

(۶۱) = خان شهید دخپل ژوند نیمه برخه دانګریز او پنجابی استعماری
واکمنی لاندے په مختلفو جیلونو کښې تیره کړے ده۔ او دخپل عمر زیات وخت
ئے په مختلفو مرحلو، شکلونو کښې دخپلے قومی مبارزے ته په دوام ورکولو
کښې صرف کړے دے کله دانجمن وطن، کله ورور پښتون، کله دنیپ کله د
اینټی یونټ فرنټ او کله د پښتونخوا نیپ په شکل کښې ئے دقامولو او د
اولسولو د مساوی توب او برابرئ دحق دپاره خپل بیرغ پورته
ساتلے دے۔ دانګریز او نه د پنجابی استعمار داحق ئے ندے منلے چه
دے پښتون بلوڅ او سندهی قومونه د جبر او جبری قبضے او الحاق
په ذریعه دخپلے امپرا تورئ لاندے راولی۔ اودے لپ کښې ئے د

سراو مال قربانئ هم ورکړے۔

(٦٢) = دخان شهید دژوند دحالاتو، دهغه دتعلیماتو تراوسه پورے
او اصولو تجزیه چاپه ډیره ساهو طریقه باندے نده کړے چه د محکوے
پښتونخوا په نني قومی تحریک کښے دهغے نه پوره امداد واخستے شی او دهغه د
جدوجهد او د تحریک دکامیاب او ناکامیاب، کمزوری او طاقتور اړخونو باره
کښے زمونږ ذهنو نه زیات رانه او زیات صفا شی۔ خپل دښمنان لوز ښه
او پیژنو او دځان نه هغه کمزورئ لرے کړو چه زمونږ د بریالیتوب په
لاره خنډان پیداکوی۔ پدے لړکښے به زمونږ غټه کمزوری داوی چه مونږ
خپلو قامی مشرانو ته د آسمانی پیغمبر په سترګه اوګورو۔ زمونږ شیزونو او
او شخصیاتو ته داقسم د عقیده پرستئ رویه به مونږ د ناکامئ کندے ته
غورزوی۔ او دخپل تحریک او مشرانو دکمزوری اړخونو د قائم دائم ساتلو
په ګناه به تل دپاره ګناهګاران پاتے شو۔ کوم چه نن زمونږ بعضے خلک او
په خصوصی توګه زمونږ دښمنان پدغه مقصد او خواهش زمونږ داګناه کول
او ددے جاری ساتل غواړی۔ دا طریقه به ختمول غواړی مونږ به دخپلو
مشرانو نه ضرور د خپلے لارے د رڼا کولو دپاره د هغوئ د پیکرونو
او د تجربو دولتونه او مشالونه پوراخلو خو دهغه وخته پورے ترڅو

چه پیدے کیږی د رنړا ورکولو توان وی ۔ د دوئ د لیکونو، بسیا نونو، تقریرونو او مبارزے چه دوئ د سامراج او استعمار او د بهنوی د تالی ښتو دانشورانو او ملیانو په خلاف کړے دی نه به خپل اولس خبرساتو او دهغې په معنو بیے پوهیوو ۔ البته د دے د پاره نه چه د جدوجهد ټول عمارت دے په عدم تشدد بنا کړی شی او هغه دے نیست او نابود کړی ۔ او د خپل مقصد او مرام د حاصلولو د پاره دے د وخت او طاقت په مناسبت د جدوجهد هره انقلابی لار خپله او په هر سنګر مقابله اوکړی ۔

(۶۳)= نن چه د محکومے پښتونخوا معاشی، تعلیمی، سماجی او سیاسی حالات وړاندے تلے دی ۔ نو د زوړ فیشن پدر شاهانه ټولنه، پدر شاهانه طرز سیاست او د دے سره تړلے پدر شاهانه مفکوره د منځه روانه ده او په دے ټولنه کښی ډیر بنیادی، وصفی او طبقاتی درزونه راغلی دی چه په نتیجه کښے د دے اظهار د هغې د هماکو او چاودلو نه کیږی کوم چه زمونږ په زوړ قومی تحریک او پارټو کښے روانے دی ۔ د امریکی او نورو سامراجیانو او پنجابی استعماری دولت جنګونو، جبر او کوړو، دارونو او رسو او د آزاد انقلابی افغانستان خلاف د ولس کلن د تشدد نه ډک جنګ او مداخلت، د

پارټو او تحریکونو ، زاړه ساختونه ، د ځینې ضروره مشکوک دي او اصلاحي او د عدم تشدد تدبیرونه د سختې کمزورۍ او بې چارګۍ سره مخامخ کړې دي ـ د استعماري واکمنۍ لاندې د محکوم قومونو او اولسونو دا قسم پارټۍ او د هغوی د اصلاحاتو د نافذ کولو د پاره مطالبې کول د دغه حکمرانۍ د مضبوطولو کار ورکوي ـ او د انقلاب د پاره د تیارۍ د کارونو مخ نیوې کوي ـ خپل محکوم او مظلوم قومونه آزادۍ اخستلو او د اولس اقتدار ته د رسولو په ځای هغوی دا صرف په انتخابي مشینونو کښې بدل کړې دي او د پارلیماني جدوجهد او د پارلیماني انتخاباتو د پاره ئې په سمون کښې را وستې دي ـ او د پارټو نه ئې د پارلیماني ګروپ ضمیمې جوړې کړې دي ـ او د اصلاحاتو د کرم سیورۍ ته ئې پخه ډېره اچولې ده ـ

(۶۴) نن اولس د لوی وظیفو د سر ته رسولو مسئلې سره مخامخ دي ـ دا کار یوه داسې پارټۍ کولې شي چه د ملي وحدت د راوستلو او اولسي اقتدار قائمولو د مبارزې یوه انقلابي روحیه اولري نه چه اصلاحي ـ او د خپل قوت د زیاتولو د پاره ، د دې راغونډولو د پاره تیارګۍ اونیسي ـ دا لوی فریضه د دغه زړو اصلاح پسندو له

او خدائي خدمتګار ډوله پارټۍ په طريقه سرته نه شي رسيدے کوم چه په يو خاص دور کښې پيدا شوی او د عدم تشدد، پارليمانى او اصلاحى دور کښې تربيه شوے دی. او که هر څوک د دے برعکس فکر کوی نو هغه به لازمًا د نا اُميدۍ مايوسۍ کندے ته لوئيږی. او د سختو حالتو او په مکمل توګه بے وسلے توب سره به مخامخ کيږی. نن ضرورت د يو داسے فولادی او مجاهد پارټۍ دے چه د قومی تحريک په لار کښې د هر قسمه خنډونو د لرکولو جوګه وی او د اصلاحى تدبيرونو پرځائے انقلابى تدبيرونه اختيار کړی. خان شهيد د خپلو تجربو په رڼا کښې دے نتيجے ته را رسيدلے وو چه نه يوازے خپل د عدم تشدد فکر ترميم کړی بلکه د يو داسے قسم پارټۍ ضرورت هم احساس کړی هغه د اصلاحى پارټۍ د ردکولو او د يو مجاهد انقلابى پارټۍ د ضرورت محسوسولو په درشل ولاړ وو او د دے نه وړاندے چه بهر راوځی هغه ظالمانو زمونږ څخه جدا کړلو.

۹ — ووم بے خونده خوارځون م ډير زيات اوموند
پدے باغ کښې ګوا تروخت وړاندے ميوه ووم

 خان شهيد د آزادۍ ستره لاراوښودله، دښمنان ئے په ګوته

د هغې د پاره جد و جهد کوي لیکوالو خلک د زرګونو او ونن چه په کړل او لاره ورته زیاته روښانه ښکاري لو دے کښې د هغه د رفتار ګړنګ او د عشق لیونتوب هم شامل دے۔

ہے ډیر اغزي م خپلو تلو پورے یوړل
نور بهیر به لاندے ځکه وي ترښو زما

شیر علي باچا
۱۶ مارچ سنه ۱۹۹۰ ع
کراچي

# دخان شهید د ادبی او صحافتی

# کار

## یوه مختصر جائزه او مثالونه

۱ ـــ دخان شهید که هرڅو د تازی ـ فارسی ـ انګریزی ـ اردو ـ بلوڅی سندهی او هندی ژبې زده وې ـ خوزیاته مینه ئې خپلې مورنئ ژبې پښتو سره وه ـ او دا شوق او خواهش هغه د هلکوالی نه ساته ـ د یو ملی سالار په حیث چه خپل پښتون قام او اولس د آبادئ او آزادئ دپاره ئې هرڅومره هلې ځلې چه ده کړې وې او یا ئې مصیبتونه او کړاوونه تیر کړې وو لوکه په ژور نظر ورته او کتلې شی نو دهغې بنیاد هم هغه د پښتو ژبې له د ترقی ورکولو، هغې سرکاری، تعلیمی او تدریسی ژبه ګرځولو، او د خپل قام د ژوند معیار او چتولو باندې ایښې وو ـ او ددې ټولو خواهشاتو د حصول ذریعه ئې

پښتونستان کښې وه. ځکه په سياسي ډګر د پښتونستان نظريئے او تصوّر
له دعملي شکل ورکولو دپاره خپل ټول زوند ، خپله ټوله توانائي
او قوت صرف کړو. او هيڅ ذاتي لالچ ، خود غرضي ، سزا ګانو او
جيلونو د هغه مخه او نه وهلے شوه. په آخري نتيجه کښې مونږ داوئيلے
شو چه ددے پښتون سالار د ټول ژوند او پت ، سياست او شرافت
بنيادي نکته د پښتون اولس او د هغوئے د ژبے ترقي او سيالي
وه. او دده ټول کار و نه او جدوجهد که هغه سياسي دے ،
که ادبي او صحافتي ددے بنيادي محور نه تاويدلے او بالکل دابتدا
نه د اولس د پوهولو ، منظم کولو او متحرک کولو دپاره هغه په
ميدان او صحافتي ميدان کښې زغل د خپل مقصد د حاصلولو بهترينه
ذريعه ګنړله. او ددے اجتماعي پروپيګنډه کوونکي او اجتماعي تنظيم
کوونکي وسلو او ترجمان نه د کار اخستلو په غرض چاپه خلے قائيمولے
او اخبارونه او مجلے ئے اجراء کولے. استقلال اخبار ــ پښتو
مياشتينۍ مجله ـ ګلستان ـ او ورځينۍ مجله جاري کول او چلول ،
مضمونونه ليکل ، پمفلټونه او کتابونه تخليق کول يا ترجمه کول د
هغه د ذهني قوت او صلاحيت ښکاره نخښے دي. ددے اخبارونو

او مجلو معیار به ډیر سیاسی ـ اخلاق او زیات سنجیده وو ـ د دے معلومات به ادبی ـ علمی او تاریخی وو او لوستونکو ته بے روحانی او ذہنی خوراک او خوشحالی بخښله ـ

۲ ـــ لکه څنګه چه پښتون خاوره سکهانو اشغال کړے ـ انګریزانو بوتے کړے او پاکستانی استعماری دولت په مستمره حیثیت ساتلے ده په یو متحده او خپلواک ولایت پښتونستان کښے راغونډول لکه د زړو ملی قهرمانانو دده د زړه ارمان پاتے دے ـ دغه شان د پښتو ژبه چه لا ترا وسه بکره پرته ده د سنګارولو، د غیرو ژبو د تسلط نه د خلاصولو، د هر تپے سوچه او اصلی ټکو راغونډولو، د دے د لهجے او املا د پاره یو راه نما اصول ټاکلو د پاره دده په ډیرے سنجیدګۍ سره کارکول او د هغے د پاره تجویز ونه وړاندے کول هغه د ادب او ژبپوهنے د میدانونو یو لوئے شاهسوار ګرځوی ـ بلکه د یو مترقی انسان په توګه داد ټاپ او ټاپ ژبے د ګرځولو په مسئله ئے ډیر سوچ وهلے دے ـ پدے لړ کښے هغوی د "پښتو ژبه او لیک دود" د سر خط لاندے په سوچه پښتو کښے یو ډیر علمی مضمون لیکلے دے او په دے مسئله ئے خپله د علم نه ډکه مباحثه کړے ده ـ

# "پښتو ژبه او لیک دود"

## (د معترضینو په جواب کښې)

۳ــ د خان شهید مخصوص لیک، املا او تلفظ سره به کېدے شی عام لوستونکے بلد نه وی. د هغوی په ذهن به بوج پرېباسی او یا د دے تلفظ په تار کښې چه کوم خیال زغلی د هغې د راښولو صلاحیت بے کم وی او ځکه بے د نوکو لاندے راولی خو هغه د خپل خیال په تائید او د معترضینو په جواب کښې دا سے وضاحت کوی. او خپل دلائل په نور مضبوطیا وړاندے کوی.

۱= هغه تازی توری لکه ث ـ ص ـ ض ـ ف ـ ع ـ ق چه پښتانه ئے نشی لوستلے د هغو پرېښودل پکار دی.

۲= د گلستان او ملتان که داسے او لیکلے شی لکه گولیستان او مولتان. نو یوخو بے تکی د شکه وتلے لوستل کیدائے شی او بل به مو توری زیات نه شی. د لنډیدو نه مراد په لیکه او شمار کښې لنډیدل نه بلکه په تلفظ کښې لنډیدل دی.

۳= پردی توری مونږ لرو ـ خو د پردو (مادو) د ساتلو د پاره د خپلو

ټکو کښې اوږد دول او نه د خپلو بچو زده کړې ته اړ او ته اړه کړانو ل
پکار دی ـ لکه موږ ته ایرانیان موږ وائي ـ یعنی که پردو ټکو ته
ضرورت او لرو نو پکار دی چه په هغه ټکوئې او لیکو چه مونږ ئې
لوستلے شو ـ لکه انګریزان چه ټرټال په R لیکی او د ړ ټکے نه زیاتوی ـ
پارسی هم د ټاټریانو د باچاهۍ په وخت کښې تازی ټکی اخیستی دی خو
پښتو ټکی د ړ ټ ځے نه دی اخیستی حالانکه دا د دوئ د ژړے
پارسی خپل ټکی دی ـ دا د مرئیتوب او زور ښکاره نخښه ده ـ

۴ = د پښتو د بیلے بیلے پتے ویناوی پر پښتو دل او په دوئ کښې یوه وینا
د لوستلو او لیک د پاره غوره کول پکار دی خو داهله کیدلے شی چه
پښتونستان جوړ شی او پښتو سرکاری ژبه شی د صوبے په ټولو سکولونو
او کالجونو کښې د پښتو زده کړه لازمی شی او د تعلیم ذریعه شی ـ او یوه
لویه جرګه راوغوښتے شی او په ټولو کښې به دیوے پتے ژبه غوره
کوی چه په ټوله صوبه کښې لوست یو شان او ډیر شی ځکه چه
عربو او سیندیانو او کړله ـ

۵ = په څلورو ټکو ځ ـ څ ـ ږ ـ ښ باندے اعتراض خو کیږی چه
پدے د پښتو لیک (املا) ګرانیږی خو د تازی ژبے ص ض ط ظ

له ځي چه په پښتو خط او وینا کښې هم دغه تاوان پیښ دے هغه ته مو پام ینشته ـ دا مشکل صرف یوسف زو ته پیښ دے او هغوئ دا لږ کول غواړي حال دا دے چه یوسف زئ د ټولو پښتنو په حساب یو اقلیتي حیثیت لري او ټولو پښتنو ته چه د تانې ژبے د دغه ټکو نه پیښه ده د هغې علاج نه باسي ـ ژوب (ژوب) ته که ګوب اوئیل شي نو مراد به ترنه څه وي ـ

۶= د تازې ژبے الفاظ که د یو څو تعلیمیافته خلکو زده هم وي نو بس دے څه ـ د عامو خلکو ندی زده ـ حالانکه د دے په ځائے د پښتو خپل الفاظ شته او استعمالول ئے پکار دی ـ بے ضرورته ټکی ندی اغستل پکار چه مور لري لو مادر ته ضرورت نه پیښیږي ـ د وئمه دا چه نور قامونه که د چا بلے ژبے توري اخلی لو پخپل خط او وینا ئے اخلي. د نورو ژبو ټکي ئے پخپلو ټکو کښې ندی زیات کړي ـ مونږ که د "طوطی" دپاره ټکي نه لرو نو اخلو بیے خو لیکو بیے هغه شان څنګه چه ئے لولو یعني "توتی" ـ د دغه نامه دپاره "ط" پخپلو ټکو کښې زیاتول ندی پکار ـ

۷= مونږ له د اردو ژبے مثال پدے حواله ندی راوړل پکار چه دا ژبه

دهرے ژبے تهکی پخپله لمن کښے رانغاړی او ددے دپاره دا ضروری ده چه مونږ د اردو ژبے پدے نظرجائزه واخلوچه اردو دلته څنګه راغله ؟ ولے چلیږی ؟ اوکوم یو پښتون په هله آسانه اردو زده کولےشی ؟ خبره داده چه اردو نه پخوانئ او نه پخه ژبه ده ـ پدے پسے مونږ له تله ندی پکار ـ اردو د باچاهانو او بادشاهت دمفادو دپاره راوتلے ده ـ اوتر ننه هم ددغ مراد پوره کولو دپاره روانه ده هرکله چه مسلمانان باچاهان په هند کښے دخپله زوره پریوتل نو خپله ژبه فارسی اوتازی ئےے زوره په اولس نه شوه منلے نوماته ئےے اومنله او دمصالحت او جوړے په توګه ئےے اردو اومنله ـ ولےکه ددے ځائےے بله ژبه ئےے منله هغ به په خلکو کښے قاموالی پیداکوله نو دا بےقامه ژبه جوړه شوه او باچاهانو او پالله ـ اوهم دغه کته انګریز پدے کښے اولیدله او وے چلوله ـ اونن پاکستانی استعمارچیانو هم دا اردو ژبه په پښتنو، بلوڅو او نورو خلکو ورتپلے ده ـ اوپښتانه ئےے دخپلے ژبے پښتو دترقئ په لار کښے لوئے خنډ ګڼی ـ

۸ = ځنے داوائی چه پښتو لنډه تنګه ژبه ده ـ اوپه پښتو ژبه کښے دپوهے خبره نشی کیدائےے ـ پدے حقله یوه خبره خو داده چه دا خبره صحیح

نه دهٔ ځکه چه په آزاد انقلابي افغانستان کښې د ډېر وړاند ے نه دا سرکاري، تعليمي او تدريسي ژبه ده - او ټول علوم او سائينسونه په پښتو ژبه کښې ليکلے او لوستلے شي - او چونکه دوئي په دے مغالطه کښې دي چه بس محکومه پښتونخوا د پښتنو وطن دے او دا د پاکستان نه بيليدونکے برخه ده - او د دلته پښتو ډيره پسمانده ساتلے شوے ده. او نه سرکاري ژبه ده او تعليمي نصاب ټول په اردو او انګريزيه کښې دے نو پدے تناظر کښې چه دوئ او کوري نو خپله ژبه کښې د علم او سائنس خبرے کيدل ورته څه ناشونے کار ښکاره شي - بله دا چه دا خود دانشورانو او پوهانو کار دے چه د دے د پاره کوشش اوکړي. او لکه څنګه چه د دوئ د نورو ژبو سره دلچسپي ده نو که دا خپلے پښتو سره وي نو ډيره سودمنده به وي - دا لوستے خلک په پښتو ژبه کښې خبرے کول سپک ګڼي هم دا تر ټولو لوئے تاوان دے - د دے تاوان په لر کولو به پښتو ودانيږي او وده به کوي -

۹ = دا خبره هم کيږي چه د الصمد په ځائے سمد، د محمد په ځائے مامد او د عبدل په ځائے اودل وئيل "غلط العوام" دے - د عوامو لهجه د ليکوالو ليک نه وي - دا مونږ ته څه حق دے چه برکتي تکي محمد

PMAP Hayatabad Peshawar

دے مامد کړو او الصمد دے سمد کړو ۔ ممکنه دا معنیٰ ئې بله او خیژی؟
د دے نیو کے په جواب کښے دا وئیلے شو ۔ چه د نړۍ هغه پیمانه او ګز چه
اولس (عوام) او پوهان (سرداران) ئې ساز کړے وو ۔ هغه نن ماته او
ورکه شوله ۔ بلکه الوته شوله ۔ نن هغه وخت نه دے چه اولس به د
سردارانو تر لاس لاندے وی او د دے د پاره به وو چه په سردارانو
پسے به ځی ۔ او پوهان به ورته څاروی یا لا بتر (العوام کالانعام بل
اضل) وئیل ۔ او شاعرانو به وئیل "کم تاوان چه باچا خوښ کړی نو هنر
شو" (هر عیب که سلطان به پسند د هنر است) او س وخت د دے د ے چه
سرداران به په اولس پسے ځی او هر کار چه اولس خوښ کړی هغه به
کیږی ۔ یا دا چه په هر کار کښے د اولس چه ګټه او آسانی وی هغه به
چلیږی ۔ نو کوم خیز ته چه دوئی د اولس ورانئ وئیلے دی "غلط العوام"
هغه ته به اوس پر ځائے ځائځ (جائز) وایو او د هغې نه چپ ته به
سرداری ورانئ (غلط الخواص) وایو ۔ د نن زمانے چلاند او ګټه میره
ګز دغه دے بلکه لا دا وئیل پکار دی چه پښتون یو قوم او لوا اولس
دے هیڅ بیلتون پکښ خاص نیشته ۔ هر یو به د ټولو د ګټے د پاره کار
کوئ ۔ او دا کلل پکار دی چه دا ټکی پښتانه اولس او سرداران وئیلے

شي او که نه ؟

که د تازی خلک د جیمز کرائیسټ په ځائے علیٰ لیکی ، د جیکب نه ئے لیعقوب ساز کړے دے او جوزف ، یوسف لیکی او که د دوئ داکار ناخواله او ناروا ندے نو که مونږ لعنت ته نالت او محمد ته مامد ولیکو لکه چه لولوئے نو دا به ولے ناروا یا ناخواله وی ؟

---

۱ ــ د خان شهید د لیکونو او ادبی کارونو د څیړنے په لړ کښے دا خبره لکه د نور ځلنده ده ـ چه هغه یو مثالی پښتون لیکوال دے ـ نه یوازے د هغه لیکونه په سوچه پښتو کښے دی او د غیرو ژبو ټکی ئے د ډیرے لاچارئے نه استعمال کښے راوستے دی بلکه د هغه خوښ موضوعات هم د خپل پښتون وطن ، پښتون قام او پښتو ژبے او پښتونولئ باره کښے په ډیر کثرت سره زمونږ د نظر نه تیریږی ـ د مسلمانئ ، د انصاف ، عدل او رواداری قدرونه او د پښتو او پښتونولئ اعلیٰ صفات او روایات لکه څنګه چه د ده په ځانی وجود کښے سره اخلی ښکاری داسے د ده په تحریرونو او لیکونو کښے هم صفا څرګندونه مومی ـ د ده په نظر کښے چه پښتون کښے پښتو نه وی نو بے ایمان به ضرور وی ـ او چه د ظلم خلاف نه وی

نو پښتون ورته لنټي وئيلې کيدائې ـ

۲ ــــ د سردارئ نظام باره کښې پخپل يو مضمون کښې داسې ليکي :-

" سردارئ نظام دلته د ټولونه غټه خرابي ده ـ چه د انګريز سامراج دلاسه په بعضې قبائلي معاشره کښې ئې ډيره ژوره داخله کړې ده ـ دې سره پښتانه وېشلي دي او بيل بيل قانون او يو خاصه نوکرشاهي ئې پرورِ تيلې ده ـ د دې نوکرشاهئ خطرناکه ، تخريبي او ناکاره پرزه قبائلي سردار دي چه نيک سړې هم په بدو چارو لازماً اړوي ـ دا قبائلي سردار دخلکو ديو شر په ځائې د انتظاميې يو تنخوادار غړې وي او يو سړې پخپله مرضي بلا څه وجې د ډيرې مودې دپاره په خپل جيل کښې ساتلې شي "

---

په کال سنه ۱۹۳۴ع کښې يو عدالت ته پخپله وينا کښې چه ډيره ادبي او تاريخي ترسکونتيا او خوندهم لري داسې وائي :-

" کوم ځائې چه نن زه ولاړيم دې ځائې ته د ګناهګارانو د نکاچه وئيلې شي ـ مګر زه نن د دې ځائې په او دريدو سره پخپل زړه کښې يوه ډيره لويه خوشحالي او فخر محسوسوم په يقين سره د هغې نه زياته خومره چه د عدالت جج په خپله کرسئ کښې محسوسوي ـ "

" داسے ځائے که یو ډیر ناکاره سړے او د روے شی نو د ډیرو نسو بنی آدمو او د ریدلو فخر هم دے ځائے ته حاصل دے "

" دلته د یو بت تراش ځوئ........ غالباً "د نقص امن" یا د دے قسمه د دفع لاندے پیدا سے دونکاچه او د روے شو خود وخت هغه بادشاه دے د خدائے بنده ته په اور کښے د سوزولو سزا واوروله"
حضرت یوسف د پاکدامنۍ سره د عدالت په حکم په کلونو کلونو قید شو۔ د موسیٰ پیغمبر سره د ایمان راوړونکو ساحرانو ته عدالت د صداقت د منکریتا په جرم د لاسو پښو پریکولو سزا ورکړه او په اوچتو اونو کښے ترمرګه پورے د اویزاندولو حکم ورکړے شو۔ حضرت مسیح غوندے پیغمبر ته چه ډیر خلک ئے د خدائے ځوئے بولی بلکه خدائی بولی هم دے عدالت په صلیب باندے د مرګ سزا ورکړے وه۔ دے عدالت د یونان مشهور فلسفی سقراط چه هغه خپلے مقدمے دروغ نکړے شوے په زهرو څښکلو او مړ کیدلو مجبور کړو۔ دا ځائے چه خلک دلته انصاف غواړی حقیقت خو دا دے چه په انسانیت باندے د میدان جنګ نه پس څومره ظلمونه چه شوے دی نو هم د دے عدالت نه شوے دی۔ د یورپ د مذهبی عدالتونو ظلمونه چه یو بنی آدم بے صرف د عقیدے د اختلاف

په وجه په اور کښې سوزولو په زمرو بيځ ماتولو او د فرانس د انقلاب ، د آيرلينډ دانقلاب او د روس د انقلاب د هغه پاکو شهيدانو د وينو بهيولو قيصې هم پريږدو چه د ملک د محبت په ګناه او د قوم د مينې پاکې جذبې په جرم د عدالتونو په ذريعه فنا کړې شوې دي نو بيا هم د موجوده زمانې دا سې مثالونه موجود دي چه هغه ثابتوي چه عدالتونه (او بيا کله دا سې سياسي عدالتونه کوم چه د يو ملک نمائينده عدالتونه نه وي بلکه دا د يوې خاصې طبقې په لاس کښې يو طاقت وي چه د هغې په ذريعه ظلم کوي) د خدائ پاک ډير مخلوق په پسئه چاړه حلالوي ـ مونږ او ليدل چه د روس يو سړې د سائبيريا غونډې د واورو ډک ملک ته د عمرې قيدي په حيثيت ليږي مګر هغه د هغه ځايه تښتي په لږو ورځو کښې نه صرف د هغې ملک د نجات ورکونکي په حيث د هغې ملک مختارمطلق جوړيږي بلکه د دنيا تمام بني آدم د هغه بنه صفتونو ته سرخکته کوي ـ د هغه د لوئ والي قدر کوي او هغه ته د لينن کبير نه فاني کيدونکې خطاب ورکوي "

" د دې سلطنت يو عدالت ( د چا چه مونږ رعيت يو ) د

آئی لینه یو ملزم ته د مرګ سزا اوروی او بیا هغه عمری قیدی کوی

او بیا د عام معافئ په روسره خلاصیږی او لږه موده پس دا

د مرګ لائق سړے نن مونږ د هغې ملک د صدر په هیڅ پسیږلو او

نن خلک هغه لویو مشرانو کښې شماری چا چه خپل ملک د پردی قوم

د پنجې نه خلاص کړے دے۔ دا "ډی ولیرا" دے چه خلک ئې

ډیر په عزت سره نوم اخلی"۔

وړاندې پخپل بیان کښې داسې لیکی :-

"زمونږ د سترګو په مخکښې د صوبه سرحد آزاد خیالو خلکو ډیر

په نرمئ او جائزه طریقه حکومت ته منتونه کول چه آخر مونږ څه تصور

کړے دے چه د خپلې صوبې په حکومت کښې کوم اختیار چه د پنجاب قوم

ته حاصل دے هغه مونږ ته حاصل نه دے مونږ هم بنی آدم یو۔ مونږ

هم پخپل ځان د حکومت کولو خواهش لرو نو د هغوی دا خبره به ئې

یا خو اوریدله نه یا بیئ جواب ورکړو چه تاسو غریبان ئې، تاسو

بے تهذیبه ئې نالائق ئې او داسې ئې هغسې ئې۔ یدے وجه تاسو ته

حکومت نشی درکولے او هر کله چه هغوی خپله مطالبه لږه په زیات

جوش سره پیش کړه نو د هغوی خلاف سختے شروع شوے د هغوی

بیدار کسان اونیولے شو دهغه نتیجه چه څه کیدے شوه هغه داسے اووته چه د سرحد دصوبے هغه لوړ دنګ تعلیم یافته د یوکلی اوسیدونکی پښتون په مشرئ کښے د سرحد غیرت مندو خلمو خپل مالونه اوسرونه د حکومت د سختو په مقابله کښے هیڅ خیال کړے او دهیرو خرابونه پس نه صرف په صوبه سرحد کښے اصلاحات نافذ شو بلکه د هندوستان د آزادئ د تحریک په مدد کښے دتهولونه زیات مشکل کوم چه حکومت وقت ئے پریشان کړے وو هغه د سرحد د اوسیدونکو او د هغوی د سیاسی مشرانو سیاسی رویه وه ۔"

دحکومت دظلمونو د اوږد داستان بیانولو نه پس خان شهید داسے لیکی :-

"که داسے حکومت ته زه خراب، قابل د اصلاح نامناسب او د زړے زمانے یوه ناکاره طریقه دحکومت نه اووایم او نه آخر څه به ورته وایم ؟ ۔ ولے ده ته ښه ،موزون ، اصلاح شوے او نوے اوایم ؟ زه تور ته سپین نه شم وئیلے ۔ ماله زما مذهب، زما ضمیر، زما د قوم تاریخ او د رښتیاؤ جذبه داوائی چه : ه دے تور ته تور وایم ۔ د نرم نه نرم لفظونه کوم چه زما په علم کښے دی یا زما

غوبزو او رید لے دی هغه هم دا دی کوم چه زه اوس وائیم چه دا حکومت خراب دے دا اصلاح قابل دے او ناموزون دے ۔ د بنے نه بنه او د مناسب نه مناسب فقره چه د دے حکومت په حق کښے زه وئیلے شم هغه هم دا ده چه سم دے کړے شی او د صحیح نه صحیح پیشنګوئ چه د دے حکومت په حق کښے زه کولے شم هغه دا ده چه یا به سم کړے شی یا به وران کړے شی ۔ ما دا وئیلے دی او دا وائیم بلکه ترڅو چه ځما په خوله کښے ژبه او په ژبه کښے م د خبرو طاقت وی هم دا به وائیم ۔"

PMAP Hayatabad Peshawar

# پښتو ژبه او ليک دود

دانسان د تاريخ ارتقاء منزله دا پوهه راکوي . چه انسان د خپلې بقا په جد وجهد کښې ډېرو خوارو زيارونو ، مشقتونو او محنتونو نه پس چه په اشارو پيژنو . چه څو به ئې خپل د زړه مراد او مطلب نبودلو لو دو بيا چل ئې زده کړے دے . نو دا وينا په کومه ژبه کښې وه دا په صحيح ډول نه ده معلومه . بيا دغه وينا دوى يو بل ته د تصويرونو شکلونو او د نخو په ډول کښې کول شروع کړل . دغه شان د ليک دود بنياد کيخودے شه . دے د تصويرونو ، شکلونو ، نخو دے ليک رو رو په دمه دمه د دے تورو او ټکو شکل واخيست . د ډېرو ارتقائي لارو د وهلو ، پړاوونو د سرکولو او مزلو کولو نه پس او ډېر روستو ئې د دے ليک دود ، املا يا خت شکل اختيار کړو . ژبه د انسان د خپل محنت پيداوار دے . د محنت په نتيجه کښې را اوتے ده او د محنت

او وس چه انسان په خپل محنت د تهذیب او تمدن زینې ته رسیدلی دی او د ټولو بڼو ته ورسیدلی دئ.

زیږیدلے دہ۔ او اوس چه انسان په خپل محنت د تهذیب او تمدن

په کومو پاړکو اوچت روان دے هغه ځان سره ژبه هم په بام

خيژه وی او ودہ ورکوی۔

پښتو ژبه د فارسے سنسکرت سره د خور رشته لری.

دا درے واړه ژبے دیوے مور د اریک سره زیږے دلی دی۔

دا نده معلومه چه د پښتو اول لیک دود کوم یو وو۔ خو په

مابعد زمانو کښے د پښتو لږ څه نمونے په یو څو لیک دود سره

لیکل شوی دی لکه د هغامنشی (۵۵۹-۵۲۹ ق م) دوخت میخی

رسم الخط او یا نن د پښتو لیک دود چه په عربے دے او خلق ئے

د قاضی سیف الله د محمود غزنوی د زمانے ایجاد بولی۔ خو دومره

ټول و نه دا سر ګندیږی چه د پښتو اول لیک دود مونږ ته معلوم ندے

او پښتو په مختلفو زمانو کښے په مختلف لیک دود سره لیکلے شوے دہ۔

ددے نړے په مخ بلاکنې قومونه اباد دی او ډیرے ژبے

وئیلے شی لکه عربی۔ فارسی۔ انګریزی۔ بنګالی۔ هندی۔ اردو او نورے

ډیرے۔ د غه شان رسم الخطونه هم ګڼ دی۔ لکه رومن۔ هندی۔ بنګالی

چینی او عربی او داسے نور۔ څنګه چه ښکاره ده چه د پښتو لیک

دود په عربي رسم الخط (قسم نسخ) کښے ليکلی شی او د دے ژبے د ليک
تولہ پنگه پدے ليک دود کښے ده۔ کله ناکله کوشش شوے دے چه
پښتو ژبه دے رومن رسم الخط کښے يا د عربے رسم الخط (قسم نستعليق)
کښے او ليکلی شی خو دا هسه شنړه پاتے شويده۔ د زوړ ليک دود سره
ځموږ دکوز ليکونکی او لوستونکی د ډير پخوا داسے بلد دی۔ دپښتو
دلرغرنے پنگے غټه برخه هم پدے ليک ده او لر پختونخوا د ليکونکو
لوستونکو اوس هم ډيره خوښه ده۔ د پښتو اکيډمی رساله پښتو۔
د پښتو ورځپانړه وحدت۔ د کراچۍ مجله پلوشه او د مردان خورېدونکے
رسالے ادب او ناموس هم پدے ليک دود اوخت کښے دی۔ پدے املا
کښے د پښتو لهجي د مخصوصو تورو لکه ښ۔ ږ۔ ځ۔ څ ساتلي کيږی
او د ساتلو هسه کيږی۔ د پرتے 'ے' او غونډے 'ی' ځانونه په
کښے په خپل خپل ځائے کار اغستے شی۔ په ځنو ځايونو کښے د زور۔
زير۔ او ء (همزه) نه هم کار اخلی۔

د زړے پرتے 'ے' او غونډے 'ی' خبره راغله نو نوے
'ی' ځانے رايادے شوے۔ د پښتو ليکوال۔ پوهان د مودو راسے په
املا کښے د يووالی په بابله اخته وو۔ اخر هغه وخت هم راغے چه د کابل

ادبي پښتو ټولنې په سنه ۱۹۴۸ ع او سنه ۱۹۵۲ ع دوه ځله اوږدې اوږدې درنې غونډې اوکړې چه لږاوبر تقريبًا شپيته عالمان، اديبان پوهان اوشاعران يکښې ګډون کړې وو او په اتحاد او اتفاق سره ئې د رسم الخط ديووالي په حقله دا قواعد اومنلي شو. مجهوله 'ې' په منځ کښې لاندې باندې ټکو او معروفه 'ی' په منځ کښې څنګ په څنګ ټکو او دغه شان د تصغير او تانيث "ۍ" پدې شکل 'ۍ' ده او د پخواني طرز کښ په نوي ډول 'کښې' ليکي. او 'ڼ' اوس دا سې 'ڼ' ليکي. ښاغلې حافظ خان محمّد وائي چه ماسره يو قلمي ديوان د شمس الدين کاکړ شته. ډيره قديمي نسخه ده چه په هغه کښې 'ڼ' په ځائې 'ڼ' ليک شوې دې. د دې نه معلومه شوه چه دا رسم الخط 'ڼ' ډير پخوانې دې.

پدې روځو شپو په جون سنه ۱۹۵۶ ع کښې عبدالصمد خان اڅکزې چه اوس خان شهيد دې (هغه ځانته اودول سمد ليکي) يو کتابچه چه هغه ورته پارکوټي (پمفلټ) وائي خوره کړله او هغې کښې دا سانې او سيځلې پښتو ليکو غوښتنه اوکړله او وې وئيل چه زمانه اوس ډير په ړواندې تلې ده. مونږ له په کار دی چه خپله ژبه او د ژبې

لیک دود دومره و ینځلے او اسانه کوچه په هغه کښے د لیک چاپ (لیتهو) تهاپے (پرنټنګ) او تهاپ (ټائپ رایټر) هغه ټولے اسانے دی او مونږ هم د نورو اوچتو پخو قومونو او ژبو په شان د دے موجوده مشینونو نه فائده واخلو۔ هغوی د ټائپ لار او ذریعه خوښه کړیده او وائی چه نن سبا د لوستلو او لیکلو کار بے ټائپه بنه نه شی کیدے۔ د پښتو خط اوس هم ټائپ ته ډیر نژدے دے او مونږ دے سره نابلده هم نه یو۔ هسے هم د کابل پښتو ټولنے په تیرو څو کالو د پښتو لویه برخه د ټائپ د لوستلو سره بلده کړیده۔ اول کار چه د ټائپ د پاره ژبه او لیک دود اسانه او سیځلے پښتو کښے شی نو دویم کار د لیک۔ خط او املا دے چه هغه د ژبے سره تړلے کار دے۔ که مونږ د لوستو او لیک د اوسنے ژبه او دود سالوچه مونږ د نورو ژبو او زیاتر د اردو په پیروے کښے روانه کړیده او تردے چه د بنجی۔ تهبر ار تینے په ځائے مونږ وائف یا اهلیه محترمه وایو او لیکو۔ که په وئیلو کښے هغه مونږ وئیلے شو او که نه۔ وایف په ف او قرض په ق۔ض لیکو۔ که لولوئے وایپ اوکرز۔ که مونږ د عربے او انګریزے شانته پخو او ازادو ژبو په شان د بلے ژبے تورے بے د غټے مجبورے نه اخلو او هر ځائے د خپلے

ژبے توروے پہ کار راولو لکہ د قرض پہ ځائے پور د قمیض پہ ځائے خت
کہ چرے د ډیرے مجبورے ځنی توری یا لوموونہ واخلو لو هغہ دے د
انګریزے او عربے پہ شان هغہ رنګہ اولیکو چہ ځنګہ ئے پہ اسانہ لوستے
شو۔ عربی خلک 'پ'، نشی لوستے لو هغوی ځمونږ د ملک نوم د پاکستان
پہ ځائے باکستان لیکی۔ سیګار تہ 'سیجار' وائی او لیکی ځکہ چہ 'ګ' نشی
لوستے۔ بلوچ 'بلوس'۔ دانہ کوی چہ خپلہ ژبہ کښے نور تکی 'پ۔ګ
اوچ زیات کړی۔ هم دا شان کہ مونږ عرب او عراق۔ ارب او اراک ولیکو
یا لکہ پہ انګریزے چہ ستار او صمد پہ یو 'S' یا "س" لیکلے کیږی کہ مونږ
هم عبدالستار او عبدالصمد دواړہ او دول ستار او دول سمد ولیکو ځنګہ
چہ ئے لولو لو ځمونږ د تکو سخہ بہ ټول هغہ عربی تکی کم شی چہ مونږ ئے
نہ شو لوستلے لکہ ث۔ح۔ ذ۔ص۔ض۔ط۔ظ۔ع۔ف۔ق۔غ۔
دا شان بہ ځمونږ تعلیم (زدہ کړہ) لوست۔ لیک۔ ټائیپ او ټاپہ (پرنټنګ)
ډیر اسان شی۔

ذان شہید (او دول سمد) وائی چہ تر کومہ چہ ځہ خبر یم
پدے خبرہ اوسنی پوهان درے اعتراضونہ (نیوکی) کوی۔ یو دا چہ
پدے شان لیکلو د توری هغہ مراد (مطلب) نہ پاتے کیږی کوم چہ پہ

هغه پردې ژبه کښې وي۔ بل دا چه د عربې ژبې سره څمونږ ددين تړون او ددين له کبله موځنې تړلی ۔ نو مونږ ته او خبرې اخستې دي که مونږ دا توري د عربې خط او تلفظ نه بل شان (راز) او ليکو نو مونږ به د دين نه اوزو ۔ دا چه پردي توري د "معرب" په شان مونږ "مغفن" کړي دي او دا شان څمونږ ژبه وده کوي او ددې په پريخودلو به ژبه لنډه تنګه شي او دا کار د نړۍ ټولو ودانو ژبو کړيدې ۔ څه ددې اعتراضاتو جواب ليکم :

(الف) : ديو توري مراد (مطلب) به بله ژبه کښې د هغې په خط يا املا ليکلو سره نه بدليږي ۔ که د الکيميا او الکمي په ځای کيمسټري په انګريزې خپليدې شي او د اټوموبائل په ځای فارسي کښې اوتوموبيل جوړيدې شي نو پښتو کښې ولې په خپلو تلفظ توري بدل شي ۔

(ب) : ترکومه چه د دين اړی دی او هغه توري چه د دين سره اړه لري که هغه د عربې نه په بل ډول او ويئلې او ولوستې شي نو په هغې مونږ د دينه نه اوزو ۔ ټول پښتانه ئې بل ډول وائي او لولي ۔ او هغوي ناچاره بللې کيږي ۔ نو الصمد په ځلې په سمد ليکلو به يو څو کسان لوستي خلک ولې د دينه اوزي ۔ که نه په انګريزې ژبه په

سوولو وارہ خپلہ نامہ پہ 'ک' سرہ نہ گونا کارہ کیږم چہ بنہ پرپوهیږم
چہ د عربے 'ص' پہ ځائے خالی 'س' دے نو کہ دغہ کار ځہ پہ پښتو
اوکوم نو ځنګہ د دینہ وژم۔ کہ کوز رونړه پښتنانہ کہ د 'محمد' پہ
ځائے خپلو نو مولو کښے "مامد" وئیلو باندے نہ کاپران کیږی نو پہ
لیکلو وے کاپران شی۔ پاتے شو ددے شان تهکو د مراد بدلیدل۔ نالوستے
پښتانہ خو د "عَبد" او "الصمد" یا "المصوّر" یا "الرحمٰن" یا "غواث"
او "فصیح" پہ مطلب (مراد) نہ اوس رسیږی او نہ هلہ چہ "او دول"
"سمد" "موسوّر" "رهمان" او "غواس او" پسیح" ولیکلے شی۔ پہ
لوستو خلکو کښے هم پہ سلو کښے لس بہ دداسے تورو پہ مراد۔ مطلب رسیږی
نور نہ رسی۔ نو کہ پہ زرو کښے د نهہ سوه نهہ نوی (۹۹۹) کسانو د پارہ دا بدلے
هیڅ بیلتون نہ پیدا کوی نو ددے لیو د پارہ ټول پہ زاوال اختہ کول کوم
بنہ کار دے۔

(ج) = ځہ هم د پردو تورو د اخیستلو د اړہ (ضرورت) او ګټے ځہ
ناکارہ (انکاری) نہ یم۔ دا منم چہ عربے انګریزے لا د نړے هرے ژبے
د نورو ژبو سرہ توری اخستی دی۔ خو دا شان هیڅ یوے ژبے نہ دی کړے
چہ بے اړی د بل توری اغستی دی۔ عربے د 'والد' یا "اب" پہ ځائے

'فادر' - 'پدر' - 'پلار' یا بل توري ندي اخیستي او نه چرې انګریزي د "مدر" په ځائې 'مادر' 'مور' یا 'ام' اخیستي دي لکه مونږ چه د "پلار" 'ابا' 'بابا' د تهکو سره 'والدماجد' یا فادر وایو او لیکوئې.

تازي (عربي) د پارسي 'آبریز' او 'چراغ' "ابریق" او "سراج" کړل نوئې واخیستل معرب ئې او بلل داځکه چه داشیان او د هغو نمونه دوی سره نه وو۔ او مونږ خپل زور - زیاتے - ناورین او داتول پرلینودل "ظالم" مو واخیست او ورسره ظالم - مظلوم - مظلمه - ظالمین - مظلومین - او مظالم پوره لښکر او د هغو لارے (ګرائمر) هم اخلو۔

خان شهید او دول سمد (عبدالصمد خان اچکزے) د ژبے دپاره دلیک دود نه پس دویم د کار شے (لارے چارے) ګرائمر کنړی۔ هغوی وائی چه ترا وسه پورے په ګرائمر څومره کار شوے دے هغه د عربي ژبے د ګرائمر په لار او طریقه شوے دے او په عربي پسے دومره تلی دی چه د کارونو لوموئو تخے او ویشے هم کټ مټ د عربي په شان کړی دی چه د پښتو سره ورته نه دی او سمے نه خوری۔ ولے چه پښتو او عربي په جوړښت راز او وزم کښے د یو بل نه بیلے ژبے دی۔ عربي کار ته فعل وائی او د عربي ټول بنیادی (صحیح ثلاثی) کارونه هم یو شان او طریقه دی ځکه دا

خومونږ دپاره دانوم هیڅ دېنې نوم دهغوی دپاره ډیر ښه او دکار دے
نه دے ـ هم داشان "فاعل و مفعول" دی ـ عربي دا ټول هم پېدے وزم او
طریقه وی او هم ئې مراد او مطلب دغه وی لکه 'ضارب، کاتب، جاهل،
مضروب، مکتوب او مجهول ـ لومونږ له خپل لوموښه بدلول په کار دی
چه شاګردان ئې په مطلب رسی ـ لکه د فعل په ځائې کار ـ چار ـ کړه
یابل لوم ـ هم داشان 'اسم' ـ صفت ـ ضمیر دا ټول په عربې کښې خپل
مطلب لری ـ په پښتو کښې د طالب علمانو دپاره هیڅ داسې مطلب نه
لری چه هغوی پې پوهه شی ـ لکه (لوم) اسم تصغیر (لومکے) اسم صفت
(ستائینه یا خوئې) راز ـ ډول او داسې لور ـ

دغه شان هغوئ وائې چه په پښتو کښې د زور ـ زیر ـ او پیښ
نه سوا بل څلورم ښور (حرکت) نشته ـ بخوانی پوهان زورکے (فتحه خفیفه)
وائې ـ ځه دغه زوروال (مفتوح) تکی پس وچ (ساکن) تکے بولم ـ او بخوانه
ئې کړی او ددے صحی وینا له ئې د لیک دود دپاره نخ ایخی دی ـ چپ
غړوندے (اُلټاجزم) پښتو کښې اوږد الیپ (الف ممدوح) لکه آب وغیره
چه اوس د عربې په شان 'مد' ورکاوو ـ که مونږ ددے دپاره 'ا'
دا نخه کولو په یو قلم به لیکلے کیدے شی ـ لزغ (شد) ته وائې ـ داسې

هغوی حرکتونو۔ غږونو۔ زور (فتح) زیر (کسره) پیښ (ضمه) غږونده (جزم) مد۔ شد اعراب بحث کړیدے او د لیک دود د اسانولو دپاره ئے ورله نخښے مقرر کړیدی۔ نخښے لیکی چه پښتو لیک دود کښے یو بله ورانه (ورانے) شته چه سمول غواړی هغه دے د "ه" بیل رازونه او مطلبونه۔ اوس مونږ "ه" "ۀ" "ها" "ته" او "مهربان" پنځه رازه (قسمه) د "ه" لیکو چه خوشے او ګران کار دے۔ پکار دادی چه دا دے صرف یو راز مونږ واخلو چه د توری په سر۔ اخر۔ او منځ کښے هر ځائے پکار راشی۔ اواز ئے بدل نه شی چه ټکی لږ او ټاپه (ټایپ) مو اسانه شی۔ ځما په خیال چرته "ه" هر ځائے یو شانته کار راکولے شی لکه هر۔ مهربان۔ پارهـ۔ پاتے شوه "ۀ" هغه پښتو کښے د توری د زور دپاره پکار ده او لس۔ اوس خلک د غه "ۀ" د "ه" په ځائے هم لیکی چه ډیر ورانے ترے پیدا کیږی۔ لکه دا چه اوس خلق لیکی "چاکو تیره که او چاره تیره که" پکار دادی چه "چاره تیرهٔ که" لکه څنګه چه وائی او بولو۔

خان شهید عبدالصمد اڅکزے په لغت چه غږه ورته ژبتوری وائی وړاندے لیکی چه پښتو ژبه د پښتو نخوا په ګلو۔ غرونو۔ میدانونو۔ یولو۔ یټو او بارانو لو کښے ونیږه کیږی دومره دا نه او وسی ژبه ده

چه که یو ځل دا سره راټوله شي ـ مونږ ایله د نورو ژبو د متازي ضرورت او اړې خو پریږدو د ډیرو شیانو ـ مرادونو او مطلبونو د پاره به دیو په ځائې خوځو توری اولرو ـ خو داهله چه مونږ د بیلو تپو ژبه ـ سوچه ژبه پښتو او ښه پښتو او منو او خپل توری د پردو ښه اوګڼړو او ښه اوبلو او چه خپل پښتو توری را پیدا شي پردی وا نخلو او دا خیال او ګومان د سره او باسو چه د یوے تپے ژبه د بلے د هغې نه ښه ده یا هغه ژبه ښه او خوږه چه په هغه کښے پردی توری لکه د عربے ـ پارسے ـ انګریزے او اردو توری و ټیلے شي ـ او هر هغه سړے یا شاعر (پوهیت) ډیر پوه دے چه پردی توری او تولونه (ردیف) ملونه (قافیه) په خپل لیک یا شاعرۍ (پوهیتو) راوړی ـ پکار دا دی چه د بیلو بیلو تپو پوهان د خپلے خپلے ژبے توری را غونډ کړی او د هغې نه یو ځائې یو لوئے ژب تونړی (جامع اللغات) جوړ سی ـ چه تل تر تله د پښتو ژبے د پاره یو تله (معیار) شي ـ چه کوم توری پښتو دی او کوم نه دی ـ

ددے پارکوټي (کتابچې) د خوریدو نه پس لیکوالو ـ پوهانو عالمانو پدے باندے ښے ښے څیړنے او پلټنے اوکړلے او خان شهید ټولو له د خپل لیک دود د تجویزونو په حق کښے ښه ښه جوابونه

ورکړل - چا د دے پارکوټي مرسته اوکړه - چا پوره - چا نيمه او چا څلورمه برخه هم نه - که څوک په دے پارکوټي (کتابچے) پوهه شوی نه وو - غلط ګومانونه ئے کول - د هغوی ئے هم تسلی اوکړله -

لکه د فرورے د مياشتے په ګلستان کښے ښاغلے سلطان محمد صابر د "پښتو ليک دود يوه څيړنه" د سرخط لاندے اووے چه مونږ له د نورو ژبو تکی اغيستل پکار دی او د اسی ځمونږ ژبه ترقی کوی - خان شهيد ورته اوليکل چه هو مونږ له اغيستل په کار دی - خو اعتراض په هغه تکو دے چه کوم مونږه سره دی - څنګه چه تاسو ترقی او قبول وئيلے دی - د هغے د پاره مونږ ود ه - مل - او اخيستل تورى لرو -

ښاغلے تارخ صيب د جنورے و فرورے په ګلستان کښے د سمد خان په ليک دود ډير بحثونه او چيړل خو د جنورے په مضمون کښے ئے دا هم منلی دی چه هغه تازی تکی چه پښتانه ئے لښتی لوستلے د هغوی بحث ول پکار دی -

د جنورے په اباسين کښے "د پښتو ترقے لار" د سرخط لاندے ښاغلی محمد اکبرخان ايم - اے - بی ټی د پښتو د ترقے په لړ کښے ډيرے د کار خبرے ليکلے دی - او ډير ښه ښه تجويزونه ئے وړاندے کړيدی او

خو یو ځائے کښے اوستی پتی دے سخت مئین پښتو په چه داسے ښکاری

"دلیسی ښکاری ځ - څ - ز - ښ" بانددے اعتراض تهاکلو خاص تهکو ځلورو پدے دپښتو

لیک (املا) گرانیبزی - هم ددے د پښتو باندی په دے چه کوی (ینوکه)

خان شهید دے لیکلے مضمون لویه کښے اباسین په پردرے د لاندے سرخط

ښاغلی خو دپښتو نه د پښتو خپل دا چه داده خو خبره ارمان دا وائ

څلور تکی اوباسی چه دا څلور تکی ځوښز د تیو د یووالی نخه ده او مشرانو

ایځم د ژبے د یووالی دپاره ده او عربی تکو ایستلو ته تیار ندے۔

د مارچ په گلستان کښے ښاغلی محمد نواز خټک "پښتو ژبه

او لیک دود" د سرخط لاندے لیکلی دی د الصمد په ځائے سمد د محمد په ځائے مامد

او د عبدل په ځائے اودول وئیل "غلط العوام" دی د "عوامو" لهجه د

لیک والو لیک نه دی۔ خان شهید ددے په جواب وئیلے دی چه هغه وخت

لاړ چه عوام (اولس) ته به د سارو په رنگ کتے شو۔ اوس د عوامو

(اولس) وخت دے او د هغوی په نظر به دنیا ته گورے - د عوامو

(اولس) لهجه۔ وینا صحی ده د خواصو هغه غلطه ده او اوس به دے

ته "غلط الخواص" وائے۔ د هولو پخو ورانو ژبو په شان لیک

داسے په کار دے څنگه چه مو وینا وی۔

PMAP Hayatabad Peshawar

د مارچ په "لار" کښې "د پښتو رسم الخط" د سرخط لاندې ښاغلی طاهر بخاري لیکي. ځمونږ لیک دود نسخ دې. وو او وی به. خان شهید وائی ده په اوسني لیک املا ښه درانه اعتراضونه کړي دي او د خیبر نې پښې د پوهنې (علم) یا پښتو پوهانو په ځائې د ځني غیر پښتونو د رایو په رنړا کښې دا فیصله کړیده چه د ایسپ نو ژبه او وینا دی سمه پښتو او منلی شی چه زموږ لیک پوشاناشی. او ځ. څ. ښ. ږ او ړ د پښتو بیل توکی دی او ویستل شی. ښاغلی بوخاري په خپل درست لیک کښې په تاپچه (پرنټنګ) زور ورکړی دی. او ګم د دې ځ په نسخ خط خوښ کړیدی خو چه څه وخت د (اعراب یا حرکات) خبره ته راغلی دی نو د عربې پېږې (تهجي) خوښه کړیده چه په تاپچه کښې کلیده (کمپوزنګ) کې بیځی ګران دي.

د "رهبر" په رومبې ګنړه کښې ښاغلی قلندر مومند د لیک دود په حقله چه څه لیکلی دی. د هغې څخه ښکاري چه دوی د پښتو په اوسني خت کښې څه تاوان یا بدري نه منی. او که ډیر منی بدلول ئې نه غواړي. په دوئم پیراګراف (پرنکون) کښې صغوی د لیک دود په ځائې د ژبې بیلتون راغښتی دې. او ډیرې ئې ښه لیکلی دی چه مونږ له د ګردو ټپو ژبه پښتو

PMAP Hayatabad Peshawar

او یوه ژبه مثل او د بیلو تپو ژبه زده کول په کار ده ۔ او ددے دپاره ئے د ژبے تهولنی (لغت) جوړولو کار ته داولس ضرورت وئیلے دے ۔ او د لیکوالو ځکه پدے ګران او اوږد کار کښے کومک غوښتے دے ۔

د ۱۵ مارچ په "جمهوریت" کښے "د پښتو ادب ته خطره" د سرخط لاندے بناغلے فضل حق (پزل هک) شیدا لیک کړیدے او لوئے بحث ئے پکښے د اردو ۔ فارسے او عربے لکه محمد اکبر خان ایم ۔ اے بی ټی په شان په غټو غټو او ګرانو ټکو کړیدے ۔ بناغلے شیدا استعمال مرحله عبارت ۔ اکثریت ۔ تعلیم ۔ لاکن ۔ مخاطب علمی معیار ۔ عالمانه لفظ. اصول غټ نه بولی دا سمد خان شهید وائی واړه ئے ګنړی لوبل سړے دے وے ۔ لا تعد ۔ صاحب ۔ لاثانی ۔ نستعلین ۔ غلط العوام ۔ عقلاً نقلاً بلحاظ منطق ۔ عنفوان شباب یا وائف ۔ فادران لا ۔ تهاون ۔ سهی غټ او منی (دا جوړ پروفیسر محمد اکبر خان یادوی) سمد خان وائی بناغلے شیدا یوه ډیره رشتیا خبره لیکلے ده ۔ چه اوسنی لیکوال ئے منی او که نه ، خو ده رشتیا هغه داچی "ساده او اسانه پښتو لیکل ګران کار دے او مشکله (ګرانه) پښتو لیکل اسان کار دے" داځکه چه څوونږ لوست د تیرو څو پیړو راسے په پردو ژبو کیږی ځکه زمونږ لوستی

PMAP Hayatabad Peshawar

خلق دهغه ژبو توری په پښتو کښې چلوی۔

ښاغلی سلطان محمد خان پانیزی د لیک دود په حقله لیکی۔
څما په خیال د یوې ژبې د لیک دود مسئله له مذهب او سیاست سره
څه تعلق نه لری لکه څنګه چه مونږ یو څو رونړو دا مسئله یو خاص
مذہبی مسئله جوړه کړیده او نیم ئې د پښتنو په منځ کښې د نفاق او اتحاد
نخښه هم ګنړی۔ د یوې ژبې مړه لغت (نه استعمالیدونکی الفاظ)
راژوندی کول او په ژبه کښې استعمالول د ژبې د ترقی د پاره ډیر
ضروری ګنړم۔ دغه شان ژبه د نورو ژبو له تورو ساتل هم ډیره
ضروری دی۔ او د نورو ژبو تر لوموړو دا نوی جوړ کړی نومونه څه
ښه ګنړم لکه پارکوتې۔ ټوک۔ الوتکه او نور۔

د اپریل په ګلستان کښې ښاغلی ضیاؤ الدین لاجوری لیکی۔" د
پښتو ناوې خپل پسول پوره (مکمل) پرودت دے خوګران ورونړه کله کله د
ښائیست د کیله د تازی ناوې لا د نورو ناوکیو غاړګی ور په غاړه
کی۔ دوئ به ئې ښائیست ګنړی څه ئې په بدرنګی ګنم۔ دوئ دا هم منی
او ښیکړے بولی چه د پښتو تورو د پائے تکی د "ه"، "ی"، او "و"، له
مخی د شکه وتلی وئیل کیدے سی۔ لکه د لته "کوی" او "لرو" سمد خان

PMAP Hayatabad Peshawar

وائی - هیله لرم دوی به داهم بنیکړے او منی که په دغه دی، او "و" د
توری د میان تکی د شکه اوزی لکه په کولیستان او مولتان کښے - دوی
داهم منی چه د څرګند (معروف) او اوږد (مجهول) "واو" بیلون په کار
دے - خو دوی د بیلتون د پاره تازی نخښے خوښے کړی دی خو دے ته
ئے لکه چه پام نوی سوی چه د تازی نخښو لګول په ټایپ (ټائیپ)
کښے ډیر ګران وی -

د لیک دود په حقله چه په دے څیړونو - پلټنو - بحثونو -
اعتراضونو او مذاکرو باندے نظر واچوؤ نو داخرګندیږی چه د پښتو
ژبے پوهان - لیکوال - شاعران په خپله پښتو ژبه ډیر مئین دی، او د
پښتو ژبے د ودے او ترقی دپاره ډیر زیار وته او کړاؤ کوی او ګیا دی
د پښتو او پښتنو پر مخ تګ کړندے کوی - د نامتو مولانا عبدالقادر صیب
(مرحوم) څومره لرے نظر رسیده او فرمائیلی وو چه "د کابل د پښتو
ټولنے د ثقافتی وفد د راتلو د برکته څخه داسی ادبی او علمی بحثونه
او مذاکرے او شوے چه که چیرے خدائے کړی وی د دے ژبے په
راتلونکی دور به ئے ښه اثر او شی" اوس چه موږ د تیرو ډیر شو پنځه
ډیر شو کالو پښتو لیک دود ته ګورو نو ډیره وده ئے کړیده - لیک دود

PMAP Hayatabad Peshawar

کښې ډیر یو والے راغلے دے۔ لمیکوال ترخپله وسه خپل پښتو توری لیکی۔ دا ټولو پښتنو دپاره د فخر او دیاړ خبره ده۔ لیک دود نه هغه پخوانے دے او نه بیخی نوے د ډاکټر اسرار خبره " منځومانه املا " ده۔ دا ټول ځمونږ دمشرانو۔ پوهانو او لیکوالو برکت دے۔ او که خیر وی د وخت سره سره به نور هم ډیر ښه اوسم شی۔

بله خبره دا څرګندیږی چه د ژبے ترقی، ودے څه ځان له بهرنے لار خلا شے ندے۔ دا د قام دمادی او روحانی ژوند۔ ترقے ودے۔ سوکالے او خوشحالے سره تړلے شے دے۔ چه څنګه قام د ترقے په زغل کښے پر مخ تګ کوی او وړاندے زی۔ نوے نوے ښوونه۔ نوے فکرونه۔ نوے خیالونه۔ نوے ارزوګانے او نوے ژوند خپلوی او نوے نظام برسیره کوی نو د غه شان د هغه قام ژبه هم د نوے فکرونو۔ خیالانو د ژوند دمادی تقاضو او غوښتنو سره سمه ترقی او وده کوی۔

د پښتو ژبے او پښتون قام دپاره ښاغلے ( خان شهید ) عبدالصمد خان اچکزی ډیر د ستائینے وړ کارونه او خدمتونه کړی دی۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ د پښتو ژبے په

PMAP Hayatabad Peshawar

وده کښې او د پښتون قام په سياست کښې ئې ډير کړاؤنه او زيارونه کړي دي او ډيرے ډيرے سختئ په ځان اوړي دي ـ رشتيا خبره خو داده چه که څوک د لر دا درے مشران باچه خان ـ عبدالصمد خان اچکزی (خان شهيد) او کاکاجي صنوبرحسين نه وے نو خدائے خبر چه د پښتون او پښتو به څه حال وو ـ

اصغر

PMAP Hayatabad Peshawar

PMAP Hayatabad Peshawar